

د خان شهید

# عبدالصمد خان اڅکزي

## سیاسي ژوند

ملک هارون ایډوکیټ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# خان شهيد

# عبدالصمد خان اڅکزي

## سياسي ژوند

ملک هارون ايډوکيټ

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دکتاب ټول حقونه د لیکوال سره محفوظ دي

## د کتاب پېژندګلو:

د کتاب نوم: **خان شهید عبدالصمد خان اڅکزي سیاسي ژوند**
مؤلف: ملک هارون ایډوکیټ
ټائټل: مشتاق دراني
خورونکی: کتاب کور، پېښور
د چاپ کال: اګست 2020
شمیر: 500
بیه: -/250
چاپ چاري: کتاب کور، پېښور، 0331-9801600

**د تر لاسه کېدو درکونه**

باچا خان مرکز کتابپلورنځای، باچا خان مرکز پېښور
پښتو اکېډیمي بک شاپ (انور خان لالا) پېښور پوهنتون
اباسین کتابپلورنځای کراچۍ
تکتو کتاب کور النور مارکیټ نزد کوالمنډي کانسي روډ کوئټه
کتاب کور، انعام پلازه یونیورستي روډ پېښور
مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد
مبهن خپروندویه ټولنه جلال اباد



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# ډالۍ

د خپلو نیکونو ملک سمندخان، ملک الله داد خان، ملک زرداد خان، ملک میرداد خان او زما پلار ډاکټر اقبال ایاز خان په نامه چې ټول ژوند یې د پښتون قام په خدماتو کښې تېر کړي دي۔


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# خپلې خبرې

د پښتو ژبې،ادب او د پښتو زده کړې سره مينه زما د ښوونځي د وخت نه وه کله چې ما اېل اېل بي اوکړه نو دې نه پس مې د پښتو ادبياتو کښې ايم اې اوکړه په پښتو ادبياتو کښې مې د مزيد زده کړې شوق پيدا شو او د ايم فل کولو اراده مې اوکړه هرکله چې په باچاخان پوهنتون چارسده کښې د ايم فل پښتو د زده کړې اجراء وشوه او د داخلو دپاره درخواستونه وغوښتې شول نو ما هم د داخلې د پاره درخواست جمع کړو. تحريري او زباني امتحان مې پاس کړو او داغسې په کال ۲۰۱۴:۱۲:۲۰ کښې راته په دغه



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پوهنتون کښې داخله تر لاسه شوه ـ بنو نه چارسدې او سرډېرو پلوسې ته هره هفته کښې دوې ورځې د تګ راتګ د تکلیف او مشقت نه خالي نهٔ وو خو بس د زده کړې شوق د دغه تګ راتګ د تکلیف برداشت کولو توفیق الله پاک راکړو ـ د زده کړې پهٔ دې مرحله کښې مو د درنو پوهانو او استاذانو نه ډېر څهٔ زده کړل ـ ما د پښتو ایم ای پس د خواهش وو چې ایم فل اوکړم نو هغه ارمان مې هم پوره شو ـ او زهٔ اوس د باچاخان پوهنتون د لوی پای د زده کړې باقاعده لوستونکی ووم ـ

زهٔ چې کله د ایم فل کورس ورک نه فارغ شوم نو ورمبی مرحله ماته د مقالې د عنوان راپېښه شوه د مختلفو مؤضوعاتو او د ډېر غور و فکر د خپلو استاذانو او ادبي ،سیاسي مشرانو سره پهٔ تماس کښې پاتې شوم او اخر د ډېر غور و فکر پس مو د "عبدالصمد خان اچکزی سیاسي او ادبي خدمات" نومي موضوع غوره کړو۔ او پهٔ هېڅ د څېړنکار مې د موضوع پهٔ موادو روتولولو لاس پورې کړو۔ پهٔ دغه لړ کښې زهٔ د ډېرو مشکلاتو سره مخ شوم ځکه چې د خان شهید لیکونه او مقالې ډېر خوارهٔ وارهٔ او د زمانې پهٔ ګردونو کښې پټ پراتهٔ وو د هغوی ډېر لیکونه پهٔ مختلفو مقالې، مجالې، اخباري بیانونه، انټرویګانې کښې وو او ځینې د دوی د کورنۍ د بې


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

احتياطي له وجې ګڼ وړ دي چې اوس يې درک لګول ګران دي او ځينې د پروفېسر عبدالغني غنو او شوکت ترين صاب په کتابونو کښې چاپ دي ـ د دغه ليکونو د موندو د پاره ما تر خپله وسه هڅه وکړه درې واره جنوبي پښتونخوا ته لاړلم هلته مو د دوی کورنی او نورو ملګرو سره ملاقاتونه اوکړل په دې لاړ کښې يې زما ډېره رهنمائي وکړه ـ

زما مقاله چونکې د خان شهيد په سياست او ادب باندې ده خو دلته ما د دوي د ژوند ورمبنی د ژوند حالات چاپ کولو اراده وکړه دا مو ځکه وکړل چې يو خو به وړوکې شان کتاب چاپ شي چې لوستونکيو ته به اساني وي ـ ما د کوشش کړی دی چې لوستنکيو ته د خان شهيد ژوند لنډ حالات وليکم او هغه هم په سوچه پښتو کښې چې ملګرو ته په کښې د لغاتو اړپېښ نۀ شي ـ

زۀ د خپلو ټولو استاذانو پروفېسر ډاکټر فضل الرحيم، پروفېسر ډاکټر محب وزير، پروفېسر ډاکټر زبېرحسرت، پروفېسر ډاکټر مس کرن او ځينې ملګري لکه ملک شوکت ايډووکېټ، ثاقب سوراني، ليکچررجاوېد، ليکچرر جاوېدختيک، نصير تنګيال، ملک عمر، زمان همزوني، برخوردار خان اچکزی، مظهر علي خان هم ډېر مشکور يم چې ما سره يې د خان شهيد په کتابونو کښې


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مرسته کړې ده۔
په دې کتاب کښې درې حوالې د اردو ژبې په پښتو کښې ماليکلې دي هغه ځکه چې اردو حوالې اوړدېدلې نو ما د لنډولې کوشش وکړو نور په صحيح کتابي حوالې سره تاسو په مخکښې دي مننه۔

ملک هارون خان اېډوکېټ
ايم فل سکالر پښتو څانګه پښتونخوا مطالعاتي مرکز
باچاخان پوهنتون چارسده


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# عبدالصمد خان اڅکزی د پښتني سياست

## په تسلسل کښې

عبدالصمد خان اڅکزی د تېر تاريخي تسلسل يوه کړۍ ده لکه څنګه چې د تاريخ په هر دور کښې پښتنو مشرانو د خپل وطن دفاع دپاره په هر سنګر مبارزه کړې ده خپل وطن يې د يلغارګرو نه د سر په قربانيو ساتلی دی که مونږ اوګورو د پښتنو قامي تحريکونو ډېر اوږد او خور وور تاريخ پروت دی۔ د لنډه ځايه که مونږ د تاريخ دغه کړۍ د بايزيدانصاري د دۀ زامنو، لمسو او مريدانو نه شروع کړو نو هغه به داسې وي چې بايزيد انصاري څوک وو، دکوم ځايي اوسېدونکی وو د بايزيد انصاري دمور پلار زېږون او قام قبيلې په حقله استاد عبدالحي حبيبي ليکي:

## بايزيد انصاري

بايزيد په پيرروښان پېژندوي وو۔ چې به ښکيلاکګرو ورته (پيرتاريک) وايۀ دا تاريخي زړور او د ښکيلاکي واکمنې دښمن شخصيت،بايزيد د قاضي عبدالله زوي اود محمد لمسی چې دۀ ته يې سراج الدين اوميامسکين روښان هم وئيل



Scanned with CamScanner

دانصاري له کورنۍ په ختبه اورمړ پښتون،(۹۳۲)کال دپنجاب په جالندهر کې د بیبنې (صورتمهندبي بي)له نسله چې د محمد امین لوروه وزېږېد ،انصاري کهول لومړي په کندهار او بیا د وزیریستان په کاني ګرم کښې اوسېده ،محمدامین دبیبنې پلارد عبدالله د نیکه ورور وۀ"۱

بایزیدروشان چې تحریک یې د روښنائي تحریک او مخالف یې د پیر تاریک په نوم هم یادوي - بایزید انصاري چې کوم وخت ژوند کولو هغه وخت د مغلو باچاهي وه پۀ پښتنو یې ډېر ظلمونه او زیاتي کول،نو بایزید دې ته پام رسېدلی وو چې ګني دلته مغلو پۀ پښتنو زیاتی زور او ظلم لګولی دی - د پیرۍ مریدۍ دور وو نو بایزید هم پۀ پښتنو کښې پۀ روایتي لاره پښتانۀ راغونډول شروع کړل،دوی پښتانۀ پۀ پیرۍ مریدۍ اومذهبي رنګ کښې پۀ یو مرکز راغونډ کړل خو اصل مقصد ئې سیاسي وو پښتانۀ ئې د اکبر بادشاه پر خلاف راولاړ کړل پۀ دې تسلسل کښې د بازید او د دوی زامنو د سرپۀ قربانیو د خپل وطن دفاع وکړه - د دغو قربانیو پس پښتنو باقاعده طور سره د ازادۍ او د سیاست د تسلسل لاره اومونده بیاد دې نه پس پۀ دې لاړ خوشحال خان خټک راځي او د مغلو پر خلاف د قام دیو والۍ د پاره ملي مبارزه کوي -


www.sikaraam.com
Scanned with CamScanner

# خوشحال خان خټک

خوشحال خان خټک په اکوړي کښې شهبازخان کره سترګې وغړولې ـ د شهباز خان پلار یحیا خان وو د هغهٔ پلار ملک اکوړخان یادېږي، خوشحال خان په ۱۰۲۲ هجري او په (عسوي کښې مئ جون ۱۶۱۳) کښې پیدا شوی دی ـ د پښتون قامي تحریکونو د تسلسل په سر خېلو کښې دی. کومه مبارزه چې بایزید او د هغو زامنو د مغلو پر خلاف کړی وه، خوشحال خان هم هغه مبارزه جاري وساتله، او د پښتون قام د ازادۍ د پاره په هرمحاذ وجنګېدو اود مغلو د لوئي طاقت پر خلاف یې پښتنانهٔ قبائل راوسرخول، پروفېسرراج ولي شاه خټک د پي ایچ ډي په مقاله کښې د خوشحال خان پیداوښت او د پلارونو نیکونو په باره کښې لیکي:

خوشحال خان خټک د مغل بادشاه جهانګیر په زمانه کښې په ربیع اثاني ۱۰۲۲ه(مئ جون ۱۶۱۳) کښې د نوښار په اکوړي کلي کښې پیدا شوشجره یې څه دارنګې ده ـ خوشحال خان زوی دشهبازخان زوی دیحیا خان، زوی د ملک اکوړي"[۲]

خوشحال خان خټک خپل قام د ویښولو دپاره مبارزه وکړه او


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مغلوته یې ډېر زیانونه ورسول او د دې سره سره یې قام ته د ازادۍ احساس او ملي شعور ورکولو پهٔ اړه ملي شعرونه هم ولیکل چې یو شعریې داسې دی:

دافغـــان پـــهٔ ننـــګ مـــې وتړلـــه تـــوره
ننګیالیـــد زمانې خوشـــحال ختـــک یـــم[۳]

خوشحال خان ختک پهٔ دې شان پهٔ زرګونو ملي شعرونه د قام او وطن پهٔ اړه لیکلي دي، پښتانې خاورې د تاریخ پهٔ هر دور کښې نامتو شخصیتونه زېږولي دي او دخپل وطن دفاع یې کړې ده، خوشحال خان د مغلو سره ډېر جنګونه وکړل- د امو تر اباسینه پورې تاریخي پښتون افغان وطن نعره یې پورته کړله خوشحال خان تر اخېره پورې د مغلو سره پهٔ جنګ وو، د خوشحال خان نه پس چې د مغلو حکومت د پښتنو پهٔ سیمه کمزورې شوی وو او پهٔ قندهار کښې د ایرانیانو له خوا ګورګین ګورنر وو ګورګین پهٔ اصل کښې عیسائي وو خو بیا یې اسلام راوړی وو خو دې سړي پهٔ پښتنو ډېر ظلمونه وکړل او د ډېرې بې عزتۍ سره یې مخ کړل- نو څنګه چې بایزید انصاري او د هغو زامنو د مغلو پر خلاف مبارزه وکړه چې وروسته خوشحال خان


www.sikaraam.com
Scanned with CamScanner

خټک هغه مخ پهٔ وړاندي بوتله د دې پس میر وېس خان چې د
قام خپلواکۍ د پاره یې قام راغوند کړ او قام یې د ظالم
ګورګین نه خلاص کړ۔

## میروېس خان

میروېس چې پلار نوم یې شاه علم خان وو،د خلجي قبیلې
مشري هم د دوی پهٔ سر وه کله چې ګورګین د ایرانیانو له خوا
د قندهار ګورنر کېږي چې په پښتنو هر قسمه ظلم او سختۍ
شروع کړي نو پهٔ دې ځای بیا د پښتنو پهٔ خاوره د تېر تاریخ پهٔ
شان میر وېس خان غوندې نامتو منځ ته راځي او پښتنو ته
خپله ازادي ګټي ۔ د میروېس خان پهٔ حقله سید بهادر شاه ظفر
کاکا خیل لیکي:

"د میرویس خان پلار نوم شاه علم خان وو چې پهٔ غلجي قبایلو
کښې د هوتکو د څانګې مشروو د مورنامه یې نازو بي بي وه
چې د سلطان ملخي لوروه۔۔ګورګین خان پهٔ میروېس د بغاوت
الزام ولګووهغه یې د یوځونورو مشرانو سره پهٔ کال ۱۷۰۷
کښې اصفهان ته ګرفتار اولیږلو"۴

میروېس خان ډېر زیرک وو،ګورګین پهٔ دې پوهېدلو چې


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

میرویس خان هغه سړی دی چې د ګورګین لاړ نیولی شي نو پهٔ هغه یې د بغاوت الزام ولګوو او پهٔ ایران کښې یې سره د نورو مشرانو قید کړو او پهٔ پښتانو یې زور ظلم نورهم زیات کړو خو چې د خدای پاک بله خوښه وه نومیرویس خان پهٔ خپله هوښیاري ځان خلاص کړو او حج ته لاړو د مکې عالمانو نه یې د ګورګین خلاف فتوه راوړه:

"میرویس چې په خپل خیال کښې په ایراني دربارکښې خپل کارمکمل کړو نو هغهٔ د راتلونکو واقعاتو د تابیه پهٔ غرض د بادشاه پهٔ اجازت حج ته لاړ- د هغه نورو ملګرو ته وطن ته د تلواجازت ورکړی شو- میرویس چه حج ته لاړونوهلته یې اول پهٔ مکه معظمه کښې اوبیاپهٔ مدینه منوره کښې د عالمانوسره ولیدل اود هغوی نه یې د دوو خبرو پهٔ حقله فتوه واخښتله"۵

پښتنو مبارزینو د تاریخ پهٔ هر دور کښې چې کله هم پهٔ پښتنو سخته راغلې ده د بایزید،خوشحال خان،او میرویس پهٔ شان تنګیالو د قام د ازادۍ دپاره خپل بېرغ اوچت کړی دی، میرویس خان د ایرانیانو نه پښتانهٔ ازاد کړل د دې نه پس د پښتنو پهٔ تاریخ کښې (د احمدشاه بابا) نوم راځي چې پښتنو د پاره نوې لارښکاري-


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## احمدشاه بابا

احمد شاه بابا په ۱۷۲۲ کښې د ملک محمد زمان په کور کښې په هرات کښې سترګې وغړولې،او د پینځویشت کالو په عمر کښې په کال۱۷۴۷ احمد خان د پښتنو بادشاه شو. د احمد خان "دپیداوښت بادشاهت او د پلار په باره کښې شبیرخان دراني لیکلي دي:

"احمدشاه ابدالي په کال ۱۷۲۲کښې د ملک محمدزمان خان کره په هرات کښې سترګې غړولې وې - او په کال۱۷۴۷کښې د نادرشاه د قتلېدو پس په قندهارکښې د شېرسرخ په زیارت کښې د دوی تاج پوشي وشوه ---- چې یولسمه ورځ شوه اوبیا هم جرګه په خپل مرام کښې کامیابه نهٔ شوه نو"صابرشاه ملنګ "چې دهغې وخت یوفقیر، ملنګ،درویش او خدا رسیده پښتون وو - راپاسېدو او د وربشو وږی یاپلي ئې د زلمي احمد خان په پټکي کښې ورکړه او په خپل انداز کښې یې د هغوي نوم بادشاهت دپاره تجویزکړو --- د خود دار ملنګ پښتون صابرشاه په دې فرمان د قام ټول لښکرلبیک ووی"[۶]

احمد شاه بابا په ۱۷۴۷ م کښې د پښتون قام د یوولس ورځې



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

جرګې نه پس د سرخ بابا پهٔ مزار کښې د صابر شاه ملنګ پهٔ تجویز ټولو بادشاه ومنلو۔ د پښتنو د سیاست تخم بایزید انصاري کرلی وو او پهٔ دې تسلسل کښې خوشحال خان، ایمل خان،دریاخان، میر وېس خان او نور معلوم او نامعلومو مبارزینو پهٔ قربانیو سره د وطن ژغورل او د احمد خان مینځ ته راتلل وو چې پښتانهٔ یې پهٔ یو مرکز کښې راغونډه کړل چې د نادر شاه د مرګه پس پښتانهٔ خپلو کښې سره جرګه شول او مسلسل یولس ورځې پس جرګې د صابر شاه پهٔ تجویز احمدخان د پښتنو بادشاه کړو ۔ د بایزید دسیاست تسلسل پهٔ باره کښې عبدالحي حبیبي لیکي:

"بایزید پهٔ ناکامی له دنیاتېرشو خود ازادی غوښتلوهغه تخم چې دهٔ په پښتونخواکښې وکارهٔ ترهغه ورسته شین شو۔چې ثمره یې په پښتونخوا د ازادی غوښتلوپرله پسې غورځنګونه وولکه په کندهارکښې میروېس خان غورځنګ او پهٔ خېبرکښې خوشحال او ایمل هڅې اوبالاخره داحمدشاهي لوي شهنشاهي جوړېدل"۷

پهٔ دې تاریخي تسلسل کښې چې د سیهکانو دور تېر وو او



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

فرنګیانو په ټول هند پښې رابدلې کړې وې- او پښتنو په سیمه
دوه جنګونه شوي وو- په دې دوران خان عبدالغفار خان عرف
باچاخان نوم مخې ته راځي-

## خان عبدالغفار خان باچاخان

باچاخان عبدالغفارخان په چارسده ضلع کښې په اتمانزو کلي
کښې په ۱۸۹۰ کښې د بهرام خان کره سترګې رونې کړې- باچا
خان د پلار کلي او زېږون په باره کښې لیکلي دي:
"زهٔ د هشنغرپهٔ اتمانزو نومي کلي کښې پیداشوی یم-----
خودا چې زهٔ وایم چې په کال ۱۸۹۰ کښې پیدا شوی یم، دا ځکه
وایم چې خداې دې زمامور وبخښي ماته یې وئیل چې "ستا د
وروړ ډاکټرخان صاحب وادهٔ چې وهٔ نوته د یولسوکالووې "او د
ډاکټرخان صاحب وادهٔ په دسمبر ۱۹۰۱ کښې شوی وهٔ نوځکه زهٔ
وایم چې په ۱۸۹۰ کښې پیداشوییم"[۸]
باچاخان او دهغهٔ ملګروپهٔ اول ځل پهٔ پښتونخوا کښې د پښتنو
د اصلاح د پاره د ازاد سکولونو پهٔ نوم مدرسې خلاصې کړې،
مقصد یې داوو چې پښتانهٔ پهٔ تعلیم او کاروبار پوهه شي او قام
کښې مینه او قامي جذبه پیدا شي ځکه چې انګرېزي سرکار وو


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هغو د نه غوښتل چې پښتانهٔ دې تعلیم وکړي یا روزګار.نو
باچاخان اود دوي ملګرو «انجمن اصلاح الافغانه» په نوم د یو
فلاحي تنظیم بنیاد کېښود- چې باچاخان پخپله ژوند لیک
کښې لیکلي دي:

"مونږ پهٔ ۱۹۲۱کال کښې د دوستانو پهٔ امدادپه اتمانزوکښې
د ازاد سکول بنیادکېښود پهٔ دې کار کښې - - - - دمدرسې
ترڅنګ مونږ د پښتنود غلطورسمونواو رواجونود اصلاح
کولو،دتشدد نه د منع کولواو پکښې د قاموالۍ دمینې
اومحبت دپیداکولو پهٔ عرض د"اصلاح الافاغنه"پهٔ نامه
یوانجمن جوړکړی وو"۹

نو باچاخان د پښتنو د اصلاح د پاره د ملګرو پهٔ خوښه یو
انجمن" اصلاح الافاغنه پهٔ نامه جوړ کړو،چې پښتانهٔ د خپل
ژوند تېرولو چل زده کړي او د انګرېز غلامۍ نهٔ خلاص شي
جنګ وجدل پرېږدي د عدم تشدد پهٔ لار قام روان کړي - او پهٔ د
رانګ د پښتنو اصلاح وکړي د ناوړه خویونو نه يې بچ کړي پهٔ
دې کښې باچاخان او د هغو ملګرو باندې ډېر تکلیفونه راغلل،
او اکثره ملګري او باچاخان يې پهٔ جېلونو کښې بند يان کول -


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# خان شهید عبدالصمد خان اچکزی

عبدالصمد خان اڅکزی هم د تېر تاریخ دتسلسل یوه کړی ده کومه لار چي پښتنو دپاره بایزید ،خوشحال خان میرویس خان،احمد شاه پرېښې وه ـ صمد خان د تېر تاریخ د مشرانو لار په نوي رنګ روانه کړله ـ د قام او د وطن د دفاع د پاره یې په هر سنګر سیاسي مبارزه وکړه او خپل وطن یې د یلغارګرو نه وساتلو، قام ته یې علمي شعوري او سیاسي لار وښودله ـ لکه څنګه چې پښتون قام او وطن د دې مېړنی خاورې د تاریخ په هر دور کښې ډېر پیاوړي او نامتو شخصیتونه زېږولي دي ـ

په نولسمه پېړۍ کښې په ټوله پښتونخوا کښې یو نوی بدلون راغی او د فېرنګي استعمار خلاف په ګرده پښتونخوا کښې ځای په ځای ملي غورځنګونه پېل شول،په دې دوران کښې د احمد شاه بابا تاریخي وطن په څو برخوویشلی شوی وو،د دې ورستو چي کله دپنجاب مشر رنجیت سینګ او د فېرنګي په مرسته شاه شجاع د افغانستان بادشاه کښېنولو،نو هغه پښتنو د فېرنګي بادشاه وګڼلو او ټول پښتانهٔ د دې په خلاف راؤپاربدل، په دې دورونو کښې بیا د فېرنګي او پښتنو په


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مينځ کښې دري تاريخي جنګونه وشول چې دغه څۀ په دې ډول دي:

"کال ۱۸۰۰ نه تر ۱۸۹۴ پورې فيرنګيانو پنجاب سيهکانو، او د پارس حکمرانانو په مرسته په ۱۸۳۸ کښې افغان انګرېز لومړی جهګړې او په ۱۸۷۸ افغان انګرېز دويم جنګ په نتيجه په افغان ملت د لاهور درې فريضه لوظنامې د ګندمک او د ډيورنډ معاهدې مسلط کړې چې چترال نه تر سيوي پورې ستر هېواد يې او په خپل سلطنت يعني برطانوي هند کښې شاملې کړې"۱۰

هر کله چې دې مېړني خاورې ته چېرته هم يلغارګر راغلي دي د قام تنګياليو مبارزينو دخپل وطن د دفاع د پاره خپل ملي لښکر سره په يوه چغه راپاڅېدلي دي او يو موټی شوي دي قام او وطن يې د هر زورور نه ساتلی دی. په نولسمه پېړۍ کښې د ټول هند او د افغانستان نه رابېلې شوی علاقو باندې د انګرېز تسلط وو، او ځای په ځای دخپلې دفاع د پاره يې په ټوله پښتونخوا خاوره کښې ځان د پاره چهاونۍ جوړې کړې وې، او دلته خلق د انګرېز په خوښه او ناخوښه ژوند کولو ته مجبور


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وو ،انګرېزي سرکار زورور وو چالاک وو او پښتنو په مينځ کښې خانۍ نوابۍ او نورو مراعاتو په ذريعه بې اتفاقي راوستې وه ،سرکار چې کوم پښتانۀ ځان سره بهرتي کړي وو هغو به د خپلو پښتنو جاسوسي کوله ،هېڅ سياسي کار نۀ وو او نۀ پرې څوک پوهېدل ،نو پۀ داسې زور، ظلم، ناپوهي بې شعورۍ او د غلامۍ پۀ وخت کښې دې زورور قوت د پاره الله پاک يوځل د تېر تاريخ غوندې عبدالصمد خان اڅکزی پيدا کوي چې پښتانۀ د علم، شعور، سياست او پۀ منظمه تنظيمي لار روانه وي - دغه نوم عبدالصمد خان اڅکزی دی چې پۀ پشين ضلع چې نن صباقلعه عبدالله ده،د ګلستان تحصيل پۀ عنايت الله کريز کلي پۀ ١٩٠٧ د جولائي په اوومه نېټه د نورمحمد خان کاره سترګې رونې کړې-

"١-ازيږون"

صمد خان اڅکزی د ډيورېنډ کرښې د واقعې نه څوارلس کاله پس چې تاريخي افغان وطن پۀ ټوټو ويشلی شوی وو او انګرېزانو نيم مستعمره د پښتنو خاوره د محکومولو دپاره پۀ برخو وووېشلی وه جنوبي پښتونخوا کښې انګرېزانو پښتنو



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خاورې ته د برټش بلوچستان نوم ورکړو چې د افغانستان نه
رابيله شوی علاقه ده چې اوس د بلوچستان په نامه ده، په دې
ټول برټش بلوچستان کښې يې مظبوطې چهاونۍ جوړې کړې
وې په داسې حالاتو کښې عبدالصمد خان اڅکزی پيدا کېږي۔ د
خپل پيداوښت په اړه په خپله ژوند ليک کښې داسې ليکي:
د مشرانو د خولې چې په کال ۱۹۰۷ د جولايي په اوومه پيدا
شوی يم په خټه اڅکزی،حميدزی،جليزی،او د برخوردارخان د
کاله يم د کوټې په پلو"ضلع"د ګلستان د تړي (تحصېل) په
عنايت الله خان کاريز نومي کلي کې زېږدلې يم او لوي شوی
يم ۱۱

## ۲-۱خانداني پس منظر او قام قبيله

د امو تر اباسينه د چترال نه د سوي د ميدانونو پورې پښتون
افغان خاوره په چيګو غرونو ميدانونو مشتمله خاوره يو ځان
ګړی حثيت او ځان ګړی تاريخ لري او دغه ټول يو ځان ګړی
مقام لري په دې خاوره پښتانهٔ د يو اوږد تاريخ مالکان دي -
پښتانهٔ په دې خاوره بېلا بېل ټبرونه لري او هر يو ټبر ځان ته يو
ځانګړي تاريخي حېثيت لري،پښتانهٔ په سمه او په غرونو کښې


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خپل ژوند کوي،د دې قام خلق که په غرونو کښې دي او که په سمه دي يو شان دود دستور لري شريک تاريخ لري او ټول پښتانه يوه پښتو ژبه وايي لکه دخوشحال خان بابا د شعر:

پـه يـوه ژبـه پښـتو سـره وئيـل کـړو
ولـې هـيڅ نـه شـو ولـه يوبـل خبـردار ۱۲

د پښتنو د تاريخ په اړه بېلا بېلې نظريې دي ـ د پښتنو بېلا بېلې قبيلې دي چې په دې کښې يوه قبيله د عبدالصمد خان اچکزی ده چي اچک بابا اولاد دي او په اچکزي مشهور دي ـ

عبدالصمد خان هم د دې قبيلې يو ملي مبارز او په قام وطن مئين،شخصيت دی،ددې قبيلې په اړه پروفېسر عبدالغني خان غنو ليکلي دي:

"کہتے ہیں کے اچک نیکہ کا گوجن اور بادین کے علاوہ ایک اور بیٹا الی شیر کے نام سے بھی تھا ،جس سے کوئی اولاد باقی نہیں رہی،اچکزئی، اشے زی، ملے زی، کاکوزی اور حمیدزی قبیلے کی اکثریت جنوبی پختونخوا کے چمن پشین، گلستان، عنایت اللہ کاریز، کلاعبداللہ خان اور دیگر علاقوں میں آباد ہے۔ متکزی، سمازی، اودوزی کی اکثریت افغانستان میں آباد ہیں" ۱۳


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لکه څنګه چې معلومه ده،د پښتون قام په اړه بیل بیل
تاریخونه لیکلي شوي دي او هر چا د خپلې خوښې تاریخ
لیکلی دی،چا چې څنګه ضرورت ګڼلی هغسې یې لیکلی
دی،خو بیا هم په دې کښې مونږ ته بلا او د ډېرو قبیلو په اړه ښه
مواد مخې ته راځي،دوی د خپل قام قبیلې تاریخ ژوندی
ساتلی په دې ډول تاریخونه جوړ شوي چې زمونږ تاریخ پرې
ښکلی دی د خپلو پلارونو نیکونو طور طریقې او د هغې مېړانه
یې خوندي کړې چې تاریخ یې تر دې ځایه رورسولی دی۔
صمد خان اچکزی په خپله د تاریخ یوه حواله ده ۔ د خپل تېر
تاریخ نه خبر دی دوی د خپلې قبیلې د مېړانو کار او زیار
زمونږ دپاره د تاریخ لاربسودنه ده دغه شان یې خپله ژوند لیک
لیکلی چې د خپلې قبیلې،د پښتون قام دپاره د خپلې مبارزې
او ژوند حالات رقم کړي دي دوی لیکي:
"د مور نوم مې دلبره و د پلار مي نورمحمد خان دی نیکه مې
سولتان مامد خان وو،د هغوي پلار ناتولاخان وو،چې زمونږ
کلی یې په نامه دی هغوي پلار بوستان خان د برخوردار خان
زوي ووچې زمونږ کهول یا تبر د هغوي په نامه یاد ېږي،پلار مې


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دوه وروڼه نور درلود يو مشر سکنې ميرامدخان او بل کشر ميرينې غولام الدين خان دواړه دهغوي په ژوند او زما د پيدا ښت نه وړاندې مړه دي او هيڅ بچې يې نه دي پاتې سوي د پلار دوه وروڼه زه او مشر ورور مې خان اودل سلام خان او دوې خواندي پاته سو^١٤٠

عبدالصمد خان وايي چې برخوردار خان ته زمونږ سلسله رسي، برخوردار خان هغه نامتو شخصيت وو چې د احمد شاه بابا سره يې په پاني پت او نورو جنګونو کښې د مېړانې کارونه تر سره کړي وو،احمد شاه بابا د ټولې پښتنو باچا وو نو د پښتنو د هرې قبيلې نه به خلق احمد شاهي لښکر ته تلل او هلته به يې قام او وطن په نامه په جنګونو کښې برخه اخيستله او د خپل سر په قربانيو يې جنګونه ګټل،ځکه اوس د پېړيو ورستو هم د خلقو په زړونو کښې ژوندی دی،کله هم چې څوک تاريخ ليکي بيا به د پاني پت مېړانه او دغه اتلان تل په ښو نومونو يادوي په دې جنګونو کښې برخوردار خان د اڅکزو نه د يو مشر په هيڅ ګډون کړی وو،او د خپل قام او خپلې قبيلې نوم يې روښانه کړی دی:


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"۱۷۷۳ء سے ۱۷۶۱ء پشتونوں کے قومی جرگے اور پانی پت کے میدان میں جنگ میں یہاں کے جن شخصیات نے اہم کردار ادا کیا اور ہر میدان میں جوش و جزبے سے حصہ لیا، ان میں سے برخوردار خان اچکزے ۔۔۔ برخوردار خان اچکزے پانی پت کے میدان میں ایک سپہ سالار کی حیثیت سے میدان میں موجود تھا پانی پت کے میدان میں ہمت اور بہادری سے لڑے"۱۵

برخوردارخان او د هغو نور زامن او دغه سلسله تر ننه روانه ده چې کله هم پهٔ پښتنو څهٔ تکلیف راغی د اچکزي پښتانهٔ پهٔ مخکښې صحفونو کښې ولاړ وي ـ دوی د اچکزي قبیلې تاریخ د برخوردار خان اچکزی نه راخیستی دی او د خپل قام قبیلې پهٔ اړه یې کافي معلومات مونږ ته پهٔ ګوته کړي دي ـ د خپلې قبیلې پهٔ اړه لیکي چې:

"وایي چې برخوردار خان د احمد شاه بابا پهٔ وخت کښې وو او د نورو کارو سره د قندهار زاړه کلا د هغوي د لاسه جوړه سوی ده،د تورکیستان پهٔ جنګونو کښې یې هم نوم یاد ېږي د هم ویېل کېږي چې یو نیکه مو پهٔ کشمیر کښې ګورنر پاته شوی د قند هار د ښاره باندې پهٔ زاړه ادیره کي اوس هم پهٔ یو ځلي قبر باندې د ده پهٔ شناخته (خازه) لیکلي "بوستان خان اچکزی فاتح تورکستان"۱۶



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کله چې فرنګیانو او د پنجاب سیهکانو د پارس په مرسته
شاه شجاع د افغانستان بادشاه وټاکلو نو په ټولو پښتنو کښې
غیرت راولړزیدو او د ۱۸۳۸ نه ۱۸۴۲ پورې لومړی انګریز
افغان جنګ پیل شو او د پښتنو په هره سیمه کښې پښتنو
افغانانو د خپل وطن د دفاع دپاره د یو لوي طاقت سره جنګ
کولو ته چمتو شول،او په دې وخت کښې خوارهٔ وارهٔ پښتبانهٔ د
غازي عبدالله خان اچکزي په زیار د هغوي په مشری کښې د
انګریز خلاف لوي ملي لښکر تیار شو۔د دې جنګ او د غازي
عبدالله خان نیکهٔ په اړه دوی لیکي:
"ښاغلي عبدالله خان نیکه وو چې د افغانستان د لومړي جنګه
پس د نیولي شوي افغانستان بیرته انګریز ته د یاغي کیدو
سره جنګیدو،او هیواد څهٔ ذ بیرته ایستلو د پاره د پښتنو د
وېښولو،پاڅولو غونډولو او جنګو لا پیلامه مشر وو،غازي
عبدالله خان نیکه په خپل سر د هغوي یو ورور یو زوي په دغه
جنګ کې شهیدان شول خو هله چې ټول پښتون قام و انګریز ته
ودریدو او غازي محمد اکبر خان د غازي عبدالله خان
راپاڅولې او جوړ کړی لښکر د مشري لپاره کابل ته ورسیدو او


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

برنس او میکناټن انګریزي مشران یې ووژل شول"١٧

د تاریخ په پاڼو کښې لومړی انګریز افغان جنګ ځان ته یوخپل تاریخي حثیت لري، دغه جنګ په داسې حالاتو کښې د فرنګیانو او افغانانو تر مینځ شوی وو، چې په نړۍ کښې د فرنګیانو زور و طاقت ښه زیات وو، فرنګیانو تر نیمایي زیاته نړۍ د خپل تسلط لاندې راوستې وه په خپل طاقت یې دومره باور او غرور وؤ چې دوي هېڅ کله د یقین نۀ وو چې ګني زمونږ مخه به څوک ونیسي او مونږ ته به څنګه جوړېږي خو مېړني افغان اولس یې دغه طاقت او غرور د خاورو سره خاورې کړو، لکه خان شهید خپل نیکه غازي عبدالله خان یادوي چې د لومړي انګریز افغان جنګ کښې د پښتنو لښکر راغونډولو راپاڅولو او د لښکر مشري غازي عبدالله خان اچکزی کوله او تر شهادته پورې چې یو ورور او یو زویې شهیدان شول او هله چې د لښکر مشري یې غازي محمد اکبر ته وسپارله د دې ذکر څۀ په دې ډول کوي:

"د برخوردارخان د کالۀ عبدالله خان اچکزی هغه پیاوړی افغان وو، چې د امین الله خان لوګري او نور ملي اتلانو سره په ملګر

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تیا یې و لومړي انګرېز افغان جنګ په ۱۸۴۱ کښې د فېرنګي استعماریز په وژلو سره د انګرېز په خلاف و لومړي بریالي افغان ملي پاڅون سر کېښود چې په نتیجه کښې یې د فېرنګي ټول استعماري لښکر او شجاع ختم شو،او د فرنګي د دې تارېخي ماتې او بې عزتي حال رسولو د پاره یو ډکټر برائډن پاتې شو"۱۸

په لومړي انګرېز افغان جنګ کښې خو پښتنو خپله توره وکړه په جنګ کښې بریالي شول خو د تنظیم نشتوالي له امله په دویې کښې سیاسي پوهه نه وه چې خپل ملي فوځ یې جوړ کړی وی قبایلي روایات یې په ریاست بدل کړی وی د نظام چلولو دپاره یې باقاعده ائین دستور ټاکلی وی خو له بده مرغه د تېر تاریخ په شان دغه کار بېرته نیمګړی پاتی شو خو فېرنګیانو خپله بې عزتي داسې په اسانه نه پرېښودله او د شلو دېرشو کالو پس یې په افغان خاوره بله جهګړه پېل کړه چې په تاریخ کښې د دویم افغان انګریز جنګ په نوم یادېږي په دې جنګ کښې هم پښتنو ښه توره وکړه او فېرنګي استعماري لښکر یې بې عزته او مات کړو په دې جنګ کښې د افغانانو د لښکر


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مشري ایوب خان کوله پهٔ دې جنګ کښې د صمد خان د مور پلار او خپل پلار يې د ایوب خان سره ملګري وو دوی پهٔ خپله لیکلي دي چې پهٔ دې جنګونو کښې زمونږ د قبیلې خلق یعني پلرونه نیکونه پهٔ مختهٔ صفونو کښې د قام او د وطن د ازادۍ د پاره جنګېدلي دي او د سر پهٔ قربانیو يې خپل وطن له پردو ساتلی دی:

"انګرېزانو تر مینځ پهٔ قندهار کښې جنګ وو، نو زمونږ کورنۍ خلق چالو دود لاندې دوې ډلې سوې پټي مامد خان ګورنرد امیرادرامان خان حوا ته وو، زماد پلار نیکه او د پټي مامد خان زوي مامد حسن خان زما د مور پلار د امیر ایوب خان سره د میوند پهٔ اوڅار پښتني جنګ او د کندهار پهٔ نوروجنګونو کښې جنګېدل" ۱۹

د صمدخان اڅکزی کورنۍ یعني اچکزي قبیلې د پښتون قام او وطن د پاره چې څومره جنګونه پهٔ وطن شوي دي د دوی کورنۍ ښهٔ پهٔ مېړانه سره پهٔ دې جنګونو کښې برخه اخستې ده د خپل قام قبیلې او د وطن شمله يې جګه ساتلې ده ـ د احمدشاه بابا د جنګونو نه واخله چې لومړی افغان انګرېز جنګ، دویم افغان


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

انګرېز جنګ او هغه وخت چې دريم افغان جنګ کېږي
صمدخان که هر څو د عمر په لحاظ ډېر وړوکی وو خو د خپلو
پلارونو او نيکونو د رواياتو تر مخه په دې جنګونو کښې چې
نه شو پاتې کېدی لکه څنګه چې مونږ ته معلومه د چې چرته په
وطن جنګ پېل شوی دی،پښتنو مبارزينو د خپل قام او وطن د
پاره په هر ميدان کښې جنګ د پاره ملاتړلې ده او د خپل قام
وطن دفاع يې سر په قربانيو کړی ده،کله چې دريم افغان
انګرېز جنګ شروع کېدو نو دا څه پټ شی نه وو په ټولو پښتنو
کښې نوې رنګ جوش و ولولې راپيدا شوی ـد دې جنګ په
باره کښې دوی ليکلي دي:
"چې په کورنۍ کې ډېر کشر وم دا هيله مې نه وه چې د کورنۍ
مشران به مې ملګري وکي نو يوازې مې د ځان سره جوړه وکړله
چې زه به لاړ سم او په پوله به څو ورځې تيرې کم نو نور خلک که
د چا زړه غوښت به خپله ځان راورسوي په کور کلي کې مې
هيچاته رږغ بږوغ نه ووکړې تر دې چې خپل مشر ورور مې هم نه
ووخبر کړې،ټوپک کارتوس لاس زره روپۍ مې برابرې کړې اس
مو وود غرمې دوې بجې مې اس راروان کړوچې زين يې کم نو


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

به روانېږم مانبام به دا افغانستان خاوری ته ځان ورسوم" ۲۰
پهٔ نړۍ کښې هر چرته چې څوک هم پهٔ خپله خاوره اباد دي چې
يو قام او يوه ژبه لري د دغې خاورې اوسېدونکي خلق د
خپل وطن د دفاع دپاره د سرو ماله تېر وي او د وطن ساتل پهٔ
ځان فرض ګڼي که کشر که ځوان يه مشر وي د خپل وطن
سرلوړي او جګه شمله غواړي - د دوی کورنۍ چې افغان وطن
خاوره د خپل ځان ميراث ګڼي او ګڼلی يې ده - د تاريخ پهٔ دې
تسلسل کښې اچکزي قبيلې د خپل قام او وطن ته چهٔ هر څوک
زورور راغلي دي د اچکزي کورنۍ خلق د جنګ پهٔ مخته
صفونو کښې ولاړ دي لکه قام او وطن سره مينه د دوی د خپلو
ليکونو نه واضحه ده چې د قامي جنګ د پاره د هر چانه پټ
ځي پلار خو يې نهٔ ووخو د مشر ورور نه هم پهٔ پټه د جنګ د پاره
ځان رسوي چې پهٔ عمر يې هم کم وو دوی سره دا وېره هم وي
چې څوک مې منع نهٔ کړي - د ځان پروه نهٔ کوي خو چې د وطن د
تنګ خبره وي دې ځای کښې هر څهٔ پرېږدي خو وطن پرادو ته نهٔ
پرېږدي -


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## ۳-۱- استوګنه او وادهٔ

پښتنو پهٔ تاریخ کښې د خپل وطن روایات دود دستور تنګ، پت تل ژوندی ساتلی دي پهٔ دې تاریخي تسلسل کښې د افغان پهٔ خاوره مختلف یلغارګر راغلي او پښتانهٔ یې پهٔ خپل کورکښې بې ارامه کړي دي خو پښتانهٔ چې د وطن سره مینه او تینګې ارادې لري نو کله هم د یو قوت دلته پښې ښخې شوې نهٔ دي که مغل که ایرانی که سیهکان او که فېرنګی وو پښتنو پهٔ خپله خاوره هډوکي ورمات کړي دي دښمن یې سره د ډېر زور او غرور بې عزته او مات کړی دی هر زورور چې راغلی دی ورپسې ملي غورځنګ راپورته شوی دی خو د دې جنګونو پس هم نهٔ چرته قامي فوځ او نهٔ تنظیم جوړ شو خو د دې باوجود هم پښتنو پهٔ هر ځای کښې د مختلفو قبیلوخپل سنګرونه تل تاودهٔ ساتلي دي - فېرنګي استعمار د پښتنو پهٔ خاوره درې جنګونه کړي دي پهٔ درې واړه جنګونو کښې د ماتې سره مخ شوي دي خو د خپلې بې عزتۍ د بدل اخیسلتو د پاره مختلف قسمه حربې او چلونه وکړل د جنګونو پهٔ دې تسلسل کښې د خپلې چالاکۍ پهٔ وجه پهٔ پښتنو د ګندمک او د ډیورنډ


www.sikaraam.com
Scanned with CamScanner

معاهدي و تپلې چې تاريخي افغان وطن يې پۀ څو برخو وويشلو۔ د چتراله تر سيوي د ميدانونو پوري پښتون افغان خاوره په برټش هند کښې شامله کړه، چې د هغې پس د ډيورنډ لاندې علاقې يې د پښتون قام شناخت ورکولواو پښتانۀ محکوم ساتلو د پاره پۀ مختلفو نامو ونومولې پروفېسر عبدالغني غنو ليکي:

"جب انگریزوں نے جبر مکر و فریب اور بلیک میلنگ کی ذریعے افغانستان کے بعض علاقے قبضہ کرکے برٹش انڈیا میں شامل کر لیے تو انہوں نے قصداً افغانستان اور پشتونوں کی شناخت ختم کرنے کے لیے ان میں سے کچھ علاقے پنجاب میں شامل کر لیے دوسرے صوبے کو شمالی صوبے کا نام دیا گیا اور ایک حصے کو آزاد قبائل علاقہ اور علاقہ غیر اور ایک بہت بڑے حصے کو برٹش بلوچستان کا ناروا اور غلط عند اپر مبنی نام دیا گیا" ۲۱

د گندمک لوظ نامې روستود خان شهيد کورنۍ نيکۀ او د قبيلې نور مشران پۀ قندهار کښې اوسېدل، دغه سيمه چې برټش بلوچستان پۀ نامه وه دوي گلستان ته راغلل او دلته اباد شول چې دوی پۀ خپله ژوند ليک کښې ليکلي دي:

"د امير ادرامان خان سره سمه د گندمک لوظ نامه چې امير يعقوب خان لاکړې وه،خو لاکار نۀ وربانديې پېل بيا اومنل


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سوله او زمونږ د نیکهٔ مینه پښنین او ګولیستان دا اوافغانستان
نه رابیله سوله او د هیند برخه سوله نو زماپلار او نور خپلوان د
ربګه دلته راغلل" ۲۲

د انګریزانو پهٔ وخت چې کومې علاقې د برتش هند برخې وې او نن
د پاکستان برخې دي دلته د اچکزیو د قبیلې درې شاخونه اباد دي
د دې قبیلې دوه شاخونه لاتر اوسه پهٔ افغانستان کښې اباد دي لکه
څنګه چې دوی لیکلي چې زمونږ پلارونه نیکونه د دویم افغان
انګریز جنګه پس دلته پهٔ چمن ګلستان کښې اباد شول اوس هم
دلته اباد دي .دې باره کښې دوی پهٔ خپله لیکلي دي:

"پهٔ ختیه اڅکزی،حمیدزی،او د برخوردارخان دکاله یم د کوتې
پهٔ پلو(ضلع)کې د ګلستان د ترې پهٔ ناتولاخان کاریز نومي کلي
کې زیږدلی یم او لوی سوي تر ننه چي د کال ۱۹۵۹د جولائ
دوایمه ده" ۲۳

عبدالصمدخان اچکزی پهٔ ګلستان تحصیل کښې پهٔ عنایت الله
خان کاریز نومي کلي کښې وزیږېدو دلته لوی شوی دا یې پلار
نیکه مسکن دی دلته د وړوکوالي نه واخله تر مرګه پورې پهٔ
کلي کوڅو کښې یې د ژوند خوا ږهٔ ترخهٔ تېر کړي دي هم یې


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

واده کړی دی۔ د دې حالاتو ذکر خان شهید په خپله ژوند لیک کښې کړی دی،او د ژوند هغه حالات چې دوی په خپل عمر کښې لیدلي دي او تېر کړي يې دي،د لیک او د تاریخ برخه يې جوړه کړې ده،صمدخان د شلو دوه ویشتو کالو په عمر کښې واده کړی وو دې باره کښې ده لیکلي دي:

"په دغه کال مې واده وکړی زما په خوښه مي وررور او مور په اودلاخان کلا کي د غازي اودلاخان په کورنۍ کي د شیرجان خان لور سابره(صابره)راله وغوښتله ـــ زما د بلوغ څلور پینځه کاله سوي وو،او د یوویشتویادوویشتوکالووم" ۲۴

هسې خودوی په سیاسي ژوند کښې ډېر تاوده ساړه لیدلي وو ځکه چې د ژوند ډېره برخه يې په کړکېچنوسیاسي حالاتو قید وبند کښې تېره کړې ده ۔ د خپلې کور وادنې په حقله ده څه داسې لیکلي دي :

"ملګري مېنې اونیوا او ژوند مو لانور هم سره خوړ سو باور مي ووچې که د هیواد د ازادۍ په لار کي زمونږ و ښځو ته اړي پېښه سوی وای نو دغي میړه مخي او بهادرې پښتنې به هم په دې لار کي په هیڅ سرپه نه ونکړی خو ارمان چې د کال ۱۹۴۰م په ګرمي دا



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بهادره پښتنته په نري رنځ ناجوړه سوله او د کال۱۹۴۲م په سپرلي زما د ډېر کړاو او د هغه وخت د تېول درمانه سره د څوارلسو کالود ملګري پس له مانه تل لپاره بېله سوله"۲۵

د عبدالصمد خان اچکزی ژوند پۀ دې وخت کښې د سختو کړاونو سره مخ وو "اسقلال" اخبار چلول، "انجمن وطن" او "هند پرېږدی" تحریک د فېرنګیانو قیدوبند او د کوروداني بیماری، خو د وطن ازادی، او قام ته سیاسي شعور د پاره کار کول دغه قسمه قربانی دوی د پاره هېڅ نۀ وه او نۀ غلی کېنستلی شو۔

د څوارلس کالو د ملګري پس چې کوروادنه ترې بیله شوه نو دغه ربنتیا لوی غم وو۔ کور، کلی، زامن، غم ښادي ساتلو دپاره د بل وادۀ ورته ضرورت وو نو د مشر ورور پۀ اصرار یې وادۀ وکړلو پۀ دې حواله پروفېسر عبدالغني غنو لیکلي دي:

"عبدالسلام خان: اگر تم شادی نہیں کروگے تو میری پہلی بیوی حیات تھی (کروگا، یہ گھر بچے مہمان یہ کیسی سنبھلے گا، خان شہید پشتون، اچھا اگر آپ اصرار کرتے ہیں تو گاؤں میں عبدالکریم خان کی بیٹی کا رشتہ مانگ لیں اسطرح دوسری شادی ہو گی"۲۶

صمد خان د خپل کلي عبدالکریم خان لور وغوښتله او د هغه سره یې دوایم وادۀ وشو۔


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# اولاد، زامن

عبدالصمد خان اچکزی چې په ژوند کښې یې دوه وادونه کړي وو. دواړه وادونه یې په خپله خوښه کړي وو ړومبی ښځې نه یې چې کوم زوی وو چې هغه د څو ورځو پس وفات شوی وو چې نوم یې سیف الدین ورله ایښی وو دوی لیکي:

"په دی میان کښې مي د کال ۱۹۳۰ په سپرلي یو زوی وسو چې ما یې نوم سیپه ایدین (سیف الدین څکه کیښود ـ ـ دغه هلک څوورځې پس مړسو" ۲۷

سیف الدین نه پس یې یوه لور مړه پیدا وه او یوه بله لور چې کور وادانه یې په هسپتال کښې وه مړه شوې وه دې باره کښې د دوی لور چې ولي عهده بېګم نومېده د هغې بیان یې پروفېسر عبدالغني غنو لیکلی دی:

"خان شہید پشتون کا بیٹا جو شروع کے ایام میں چالیس دن کے اندر فوت ہوا اس کا نام سیف الدین تھا ان دنوں خان شہید پشتون جوان تھے بیٹی جو فوت ہوئی ان میں سے ایک کا نام 'بلہ نشتہ' تھا اور دوسری چونکہ میری والدہ بیمار تھی ہسپتال میں داخل تھی وہیں بچی پیدا ہوئی اور فوت ہوئی" ۲۸

د خان شهید اول کورودانه صابره نومېده د دې نه وړمبی یو


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

زوی او دوې لوڼهٔ چې مړهٔ شوي وو او چې کوم پاتې زامن یې وو دې باره کښې دوی لیکي:

"ماته یې یوه لور ولي عهده بیګم او دوه زامن امدخان ((احمدخان)) او مامد خان(محمدخان) نښانې راپاتې دي"۲۹

صمدخان اچکزی دویم وادهٔ چې اوکړو هغه نه یې چې کوم زامن شوي وو دی باره کښې پروفیسرعبدالغني خان غنو لیکلي دي:

"اس طرح دوسری شادی ہوئی، اس سی محمودخان اور حامدخان پیدا ہوئی ایک بچہ محمودخان کی پہلی پیدا ہوا جو نہ رہا اور ایک لڑکی حامد خان کی ساتھ جوڑ وپیدا ہوئی جو وفات ہو گی"۳۰

د دویم وادهٔ نه یې څلور لوڼه زامن دي چې یو د محمودخان نه مخکښې زیږدلی چې مړ شوی ووا و بله د حامدخان سره جوړوه لور پیدا شوې وه چې هغه هم مړه ده او اوس یې محمودخان اچکزی او ډاکټر خامدخان ژوندي دي او د ورمبنی ښځې نه یې محمدخان پاتې دی۔

## ۱۔۴ ( تعلیمي او علمي زده کړې او تر بیت )

صمد خان پهٔ یوه علمي، سیاسي مذهبي کورنی۔ کښې زیږدلی وو د دوی کورنی۔ پلرونه ،نیکونه ټول لوستي خلق وو د قام


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وطن په اړه یې د خلقو خصمانه کوله خلق یې د علم او شعور په
لار راوستل که د قام وطن د خدمات لاړه ده او که د جنګ
میدان دی که علمي زده کړې دي د دوی پلرونو نیکونو په دې
لار د خلقو ملګرتیاوی کړی دي - د دوی پلارچې
تازي (عربي)، پارسي د پښتو ژبې ښه لوستی وو چې د دې ذکر
دوی په خپله داسې کړی دی:

"په کورنۍ کې زیاته زمونږ اکاګان، پلار او نیکه مې د پوهنې او
دین سره زیاته اړه لرله، چې مې مخکښې وویل چې قندهارکي
لاهم چې دکورنۍ نور کسان په واک والي او ګټه لګیاوو زمونږ
د کور خلکو لوست زده کړه او پوهنه نیولې وه، ځکه مي پلار
تازي، پارسي، او د پښتو ښه لوستي وو" ۳۱

دوی د خپل پلار د ژوند حالات څه په دې ډول لیکلي دي:

"د ډېرو هلکو په زیاته مولایانو شاګردان او دکلي او قام د خوارو
کسانو ګونډانو یتیمانو سره به یې ډېر لاس کاوه څه د ګټې کار
یې نه کاوه د ورځې دوې دوې ګنټې به یې کښت او باغ کارېز
کاوه، نور وخت به یې ټول په کور کښې زنانو ته مونږ دواړو
ورونواو ځینې شاګردانو ته لوست راکول" ۳۲

صمدخان اڅکزی ته علم په میراث کښې پاتی وو پلار یې په



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خپل ژوندانهٔ ښهٔ تربیت کړی وو چې تر څو یې پلار ژوندی وو خپل بچي یې د نظر لاندې ساتل او د پښتنو معاشرتي ژوند دود دستور سره سم یې د بچو روزنه کوله د کلي قام وطن پهٔ مسلو ښهٔ خبر وو څنګه یې چې د خپلو ماشومانو د علم او دیني زده کړې خیال ساتلو داسې د کلي حجرو د ناستو پاستو تربیت یې هم کولو لکه څنګه چې پهٔ پښتني معاشره کښې کلی او د کلي حجرې او جوماتونه د کلي د خلقو د تربیت ځایونه دي چې کشران د خپلو مشرانو نه د د یو ښهٔ ژوند تېرولو چل زده کوي د دوی کورنۍ یوه علمي او مهذبه کورنۍ وه نو دا وړو تربیت یې هم پهٔ دې رنګ کړی وو دهٔ لیکلي دي:

"لکه مشر به ناست وو کشران به درسته شپه هم ناست وو تول او چمتو به ناست وو پښه هومره به یې غزوله نهٔ به یې سموله وارهٔ به نهٔ پهٔ کلي کې ځان له ګرزیدهٔ نهٔ به خوا کې بازار له تلای سو نهٔ به د ماښامه پس د کوره واتهٔ او نهٔ چا نوې پښتنو رازه پوچې خبرې یا کنځلې کولې" ۳۳

صمدخان سره د ورور چې پلار یې ژوندی وو د دواړو ورونو یې ښهٔ تربیت کړی وو د پلار نه یې پهٔ لږه موده کښې دېر څهٔ زده کړي وو هر څو که صمدخان وړوکی وو خو د کورنۍ ماحول


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د عمله یې تربیت ښه شوی وو، لکه دوی چې ویلي دي چې مونږ
به د مشرانو په مخکښې پښې قدرې نه شوې غزولې نه به ځان
له ګرزېدی شوو نه به څوک په خوا کښې بازار ته تلی شول نه به
چا کنځلې یا نوري سپکې خبرې کوی شوی په کوم وخت یې
چې پلار وفات وو صمدخان د لاسوکالو وو مشر ورور یې د
دیارلسو کالو وو:

زموږ د روزنې ډېره ښه سرېښته کړې وه اوو له یې کوله خو په
نابوده کښې د سړي ټول مرادونه نه پوره کېږي - په کال ۱۹۱۷
نږی تری پاته سوله چې زه د لسو او مشر ورور مي د دیارلسو
کالو وو"۳۴

پلار یې خپله عالم وو د زامنو تربیت یې ښه خیال ساتلو
صمدخان خپله ډېر ذهین وو د خپل کور، کلي، ماحول له برکته
یې د علم سره مینه ولرله څنګه چې ماحول وو دغه شان یې
پروریش وشو د کلي چاپېریال نه ښه خبر وو د وړوکوالي خبرې
به ورته یادې وې د دوو کالو وو چې د مشر ورور سره به جومات
ته تلو دوی د زده کړې سره ډېره مینه وه په وړوکولي کښې
ډېر ضدي ووچې د مشر ورور سره به تلو هر څه یې زده کېدل :
"په ډېر وړوکولي کې مي بله خبره ناپېښه نه وه چې له دې چې


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

یاد مي دومره تیز ووچې د ډېر زیات وړوکوالي خبرې به مي یادې وې تر دې چې ورستو به مې مور سره هغه خبرې کولې هغې به نۀ منلې او وې به چې تۀ خو هغه وخت یو نیم دووکالو وې د خبره به دې بیا د بل چانه اوریدلې وي او یادبه دې پاتې سوي وي زۀ لا د څلورو کالوپوره نۀ وم چې مشر ورور مې د کلي د مسجد مولا د لوستو له پاره لیږلی سو زۀ به هم دهغوي سره تلم او لوسته به مي کوله خو زۀ د لوستو ډېر لیواله وم او پۀ مېنه به مي لوست کول او ښۀ به مي زده کول" ۳۵

څنګه چې دوی لیکلي دي چې د دوو کالو به وم چې د مشر ورور سره به کلي جومات ته تلم نو دغه خبره سړی پۀ تعجب کښې اچولې شي خو چې ما خپل زوی خوشال خان ولیدو چې د دوو کالو وو او زما ورارو سره به د کلي جومات ته تلو نو خان شهید خو یو داسې شخصیت وو چې هغه لکه سامراج دپاره الله پاک رالیږلی او تربیه کوو یې صمدخان د خپل زده کړې پۀ اړه لیکي چې کله د پینځو کالو شوم نو باقاعده لوستو له ولېږل شول:

"چې د پینځو کالو شوم نو سم لوستو له ولېږل سوم د مسجد مولا صاحب بیا بل څوک وو۔۔(الف)(بې)او سپاره لوستله - - -


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

زياتره پلار راته كول مولا به راسره ناست وو" ۳۶

چې ځنګه د زده کړې دپاره وليږلی شو پلار به هم ورسره وو
تربيت يې پلار پهٔ خپله کولو صمد خان چې څومره ذهين وو پلار
يې پهٔ دې پوهيدلو چې زوی مو څنګه تربيت پهٔ کار دی نو پهٔ
هغه رنګ يې د لوستو طريقه هم ورښودلی وه د پلار څخه يې پهٔ
لږه موده کښې ډېر علمي کتابونه د امام غزالي، کيميائی
سعادت، ګلستان سعدي نور علمي کتابونه پهٔ پارسي، عربي
ژبه کښې لوستي وو ـ د استاد کردار هم د شاګردانو د پاره ډېر
ښهٔ وي چې استاد يې د تربيت طريقه زده وي شاګردان بيا د
لوستو سره خپله مينه لري او ځينې ښوونکي داسې وي چې
ماشوم ورولېږې بيا پهٔ بله مخه تلىوي ځکه چې ښوونکی خپل
هم نهٔ پوهېږي او اکثره داسې استادان پهٔ شاګردانو ډېر تشدد
کوي ، پلار به د دوی روزنې خيال ساتلو د کور لوستې بد به
پلار پهٔ جومات کښې هم ورسره وو چې د زده کړې کار يې
نيمګړې پاتې نشي:

"يولس مينتيه به يې په پښتو د هغې ورځې د لوست(سبق)مراد
او ګرانې خبرې راته بيان کړلې پهٔ پوي به يې کړلو بيا به يې


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پارسي یا تازي توري راته ویل پاي دا سو چې یوازي دانه چې
لوست به مې بنهٔ زده کېدهٔ د لوستو سره مې مینه پیدا سوله تر
دې چې د جومې او اختر په ورځ هم ما خپل لوست نهٔ پرېښو په
شپږو اووکاله کي مې د هغه وخت د لوستو ټول پارسي او تازي
کتابونه ولوستل،او څه پښتو هم ــ ــ ــ ــ ــ ماتې د دود
(فقه)وېناوو(حدیث)توسیرو(تفاسیر)سره د غزالي دغه کیتابونه
هم ټول ولوستل" ۳۷

ځینې خلق ډېر ځیرک وي او د ژوند تېرولو چل او مخته تګ
لاری ځان ته پهٔ اسانه سمولی شي- ځکه چې که د امام غزالي
کتابونه وو د پارسي شیخ سعدي چې د ژوند د هر اړخ سبق
پکښې موندهٔ شي بله دا چې پلار یې د خپل نظر لاندې ساتلو او
پهٔ دې طریقه دی وروزل شو او له ناوړو خویونو وساتل شو د
کلي علاقو هغه مجلوسونه چې پښتانهٔ یې پهٔ حجرو کښې کوي
لکه متلونه یه هغه زمونږ د اولسي ادب هغه موفوق الفطرت
کیسی چې اکثره زمونږ مشران او مشرې ښځې یې بیانوي
،دغه ټول یې پهٔ خپل کورنی پهٔ مجلوسونو کښې واورېدل دغه
متلونه،نقلونه تېې چې سینه پهٔ سینه تر مونږ رارسېدلی دي او
د دې اولسي ادب پهٔ وجه د پښتنو او د پښتو سوچه رسمونه او


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دودونه مونږ سره محفوظ پاتې دي هم په دې وجه د پښتو ژبې د پښتون قام تاریخ ژوندی دی دغه د مشرانو میراث د یو ائین او دستور په شکل کښې تر موږ رارسېدلی دي تاریخ ورسره بشپړ کېږي ژبه هم ورسره مخ په وړاندې ځي نو عبدالصمد خان اڅکزی چې په یوه پښتنه ټولنه کښې په یوه علمي کورنۍ کښې پیدا وو نو د هغه وخت ټول مروجه کتابونه او دکلي هغه دستور چې سینه په سینه مونږ ته راچلېدلی دي دوی هغه هر څه واورېدل او هم یې زده کړل:

"د پښتو ارزښتونو سره سم وروزل شواو په دې طریقه د ټولنې له ناوړه خویونو څخه وساتل شو د پښتو دود سره سم ملي نکلونه یې ټول په کورنۍ مجلوسونو کښې واورېدل" ۳۸

د دوی پلرونو نیکونو چې په هر میدان یې د پښتو او پښتنو شمله جګه ساتلی ده د خپلې قبیلې چلوو دود په څېر یې هم د دوی تربیت کول غوښتل د علم سره سره یې قامي اهمیت او نورو کارونو ته د پام راګرځولو دپاره د دوی روزنه روانه وه۔

عبدالصمد خان اڅکزی د لسو کالو وو چې پلار یې د دې نړۍ نه رحلت وکړو خو په دې لږه موده کښې یې د پلار څخه عربي، فارسي، اردو، پښتو نور د ېرو علمي کتابونه لوستي وو۔



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

صمدخان چې د دیارلسو کالو شو نو باقاعده ښوونځي ته
اولېږلی شو دوی چونکې د ښوونځی تر تلو مخکښې د هر لوست
کړی وو نو د ښوونځی لوست ورته اسان و چې ښوونځي ته تلو نو
دوړومبی ټولګي په ځای یې په دریم ټولګي کښې واخیستلو.
دوی د پینځو نه تر لسو کالو پورې چې د سړی ژبه خلاصه وي
په دې پینځو کالو کښې هغه هر څۀ د خپل پلار نه زده کړل کوم
چې ژوند تېرولو د پاره ارزښتمند وي:
"په کال ۱۹۲۰م کي زۀ د دیارلسو کالو وم خپل د مشر ورور
سره د ګلستان میانځي (مډل) سکول ته ولېږل سوم - او ځکه
چي مونږ پوره لوستي وو نو په دریم ټولګي کي واخیستلو.که
څۀ هم ازموینه(امتحان) ته لږ وخت پاتې وو او په میان کي د
ژمي چوټي هم وی خو بیا هم مونږ ښۀ وختلو"۳۹
د علم سره یې دومره مینه وه چې د ښوونځي ته د تلو او راتلو پس
یې هم عربی، پارسي کتابونه لوستل دې لوستې په ځان دومره
باوري کړی وو چې ما به په ښوونځي کښې نمبر د هر راځي او
داسي یو وار ترې نه ورور زیات نمبر اخیستي وو چې درې
ورځې پورې ژاړل خو دې نه پس بیا د دۀ نه زیات نمبر په ټولګي
کښې هیچانۀ واخستل او په سلو کښې یې تر نوي کم هم وانه



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خستل په دې باره کښې خپله لیکي:

"چې ښوونځي ته ولاړم هم به مې سهار تر ښوونځي وړاندې او بیا د ښوونځي څخه د راتګ پس تازي کیتابونه لوست یو وار چې مشر ورور مې تر ما څه نمبرونه زیات اخستي وو او ماته یې دومره زور راکې چې درې ورځې مې ژړل بیا هیڅ ازموینه کې نه چا تر ما زیات نمبرونه واخستل او نه مې کله هم په سلو کښې تر نوي کم نمبرونه په هیڅ شي کې واخستل اردو ژبه خو څکه اسانه وه چې پارسي او تازي مې زده وې"[٤٠]

دوی چې کوم ډول معیاري علمي روزنه شوی وه نو څکه یې هر څه ته پام وو د هغه وخت نصاب چې تر ننه پورې که اوکتی شي زمونږ په نصابونو کښې د اصلاحي سبق پر ځای غیر معیاري تعلیم زمونږ قام ته لوستل کیږي اول خو په ښوونځي کښې پښتنو بچوته د خپلې ژبې په ځای په پردو ژبه کښې زده کړې ورکول کیږي چې زمونږ ژبه، تاریخ ،کلتور، جغرافیه قامي احساس ملي اتلان او هغه مشران چې د وطن دپاره یې خپل سرونه قربان کړي دي د هغې په ځای یې داسې نصاب په ښوونځیو کښې جوړ کړی چې هیڅ زمونږ د ښه ژوند تېرولو او د مستقبل لارې په کښې نشته دا څکه چې مونږ د خپل تاریخ په



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ځای په پرادي ژبه ،تاريخ ،کلتور په زده کړې کښې اخته يو ن
د پراديو ژبې زده کړې له وجې مونږ بې علمه يو ځکه چې
کردار په ځای داسې خبرې وي چې نه خو د پښتني معاشرې سر
څۀ تړون لري او نۀ زمونږ پښتانه معاشره کښې څه داسې شا
روايت شته چې کوم په ښونځي کښې ښودل کېږي دا خبرې چې
که هر څو ډېرې پخوانی دي چې د پښتنو په خاوره غېر معيار
نظام تعليم عام دی چې له تر ننه د صحيح کولو ادراک مونږ ن
دی کړی -

فېرنګيانو په هند کښې ټولو قامونو دپاره په مورنی ژبه کښې
تعليم لازمي کړو خو پښتنوته يې مورنی ژبې په ځای اردو ژب
لازمي اوګرزوله ګني پکار خو دغه وه چې که پښتو نۀ وه نو د
اردو په ځای انګرېزي ژبه لازمي وه ځکه چې سرکار د دوي وو
نو پښتنو سره يي دغه ډول چلن وکړو چې د خپلې ژبې
تهذيب، ثقافت وسائل،جغرافيې، ملي اتلان يې د نصاب نه
وويستل چې نن په دې دور کښې په يويشتمه پېړۍ کښې ټوله
نړۍ په قامونو وېشل شوی ده مونږ د خپل شناخت تدراک نشو
کوی چې مونږ څوک يو دلته هم پښتانۀ وژل کېږي او هلته هم
وجه يې دا ده چې په برخې او د خپل تاريخ نه نۀ خبره پاتې او



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لرې ساتلي شوي یو او تر ننه زموږ قامي هدف رسولو ته نهٔ رسو که هر څو سیاسي غورځنګونه روان دي خو تر څو پورې چې زموږ نصاب پهٔ خپله مورنۍ ژبه کښې نوي دغه سیاسي شعور او پوهه به ډېر وخت واخلي.- د خپلې مطالعې او د هغه وخت نصاب پهٔ باره کښې دهٔ لیکلي دي:

"خدایي کتاب مي هغه وخت هم داسې لوست لکه خپله ما ته رالېږل سوې وي- - - - پهٔ ښونځی کښې او د هغه ځای په کتابو کښې به زیاتره داسې خبری وې چې پلار دې چیلم څکوي چرګه دانې ټولوي د برکت وزه راغله ډېر داسې شیان پکښې نهٔ وو چې سړي به پهٔ ژوند کې پهٔ ښهٔ راسي"۴۱

د تاریخ پهٔ دې پړاؤ کښې ډېر څهٔ بدل شول داسې پښتانه هم بدلېږي هغه وخت اوس بدل دی چې پښتنو کښې به حجرې مجلسونه وو پښتنو روایاتو سره سم به د خلقو روزنه روانه وه اوس مشکل دغه دې چې نصاب او حجرې دواړه بدل دي نو خلقو ته خبره رسوؤل او هغه پهٔ شعوري ډول د ژبې، تاریخ، جغرافیې،کلتور نه خبرول ګران دي نن سوشل مېډیا زموږ دغه نیمګړتیاوې کمولي شي خو که پهٔ دې کښې پښتانهٔ خپله سنجیدګي ظاهره کړي هر څهٔ پهٔ پښتو ولیکي د خپل تاریخ


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ملي اتلانو زیار او د هغو قربانیانې په لیکنو کښې وستائي د که هر څو ګران کار دی خو د وخت ضرورت هم دی - صمدخان اڅکزی کله چې د دیارلسو کالو شو نو د وړور سره ښوونځی ته اولیږلی شو که هر څو ازموینې ته دوې درې میاشتې پاتې وی خو د دوی د پاره د ښونځی تعلیم هیڅ مشکل نهٔ وو- چې پهٔ دې اړه دوی خپله تعلیمي سفر داسې بیانوي:

"ماته د ښونځي لوست ډیر اسانه وو تر څلورمه خو ما په کال او درې میاشتې کې او وایهٔ او پا ته څلور مډل کلاسز هم که پهٔ یو کال کې نهٔ وای نو په دوه کې پهٔ اسانه لوستلای سو خو استادانو د خوښه نهٔ وه چې زهٔ تلوارونه کم اود نورو شاتته پهٔ کال یو تولګي وایم ځکه ما پینځم او شپږم پهٔ دوه کاله وویل- - - او د شان ما د اووم او اتم ټولګي نه پهٔ یو کال ځان اوزګار کئ"[42]

صمدخان پهٔ ښونځي کښې خپل مقام پیدا کړی وو ځکه چې د دوی علمي صلاحیت دومره زیات وو چې تر اتمه پورې ټول کلاسونه پهٔ یو وار پاس کولی شول خو دریم څلورم پهٔ درې میاشتو کښې پس کړل ځکه چې دواړې ازموینې یې پهٔ یو کال کښې ورکړی وی پینځم او شپږم پهٔ دوو کالو کښې او اووم، اتم یې دغه شان پهٔ یو کال کښې پاس کړل -


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پهٔ ښوونځي کښې به چې کوم پروګرامونه کېدل دوی پهٔ هغه کښې د سبکتړ او ماسټر به یې صدرات کولو.دې پروګرامونو کښې به هر چا مختلف مضمونونه ډرامې یا نور توقې تقالې نقلونه پېش کول دا پروګرامونه به هره میاشت وو او د یوې میاشت نه بلې میاشت پورې به یو بل ته کار سپارهٔ شو نو دې وخت کښې که اندازه ولګول شي چې پهٔ عمر ډېر کم وه خو بیا هم د قامي کار د پاره چې پیدا وو نو د قامي معتبري صلاحیتونه له اوله پکښې موجود وو او بیا پهٔ ښوونځي کښې دا موقع نوره هم ښه پهٔ لاس ورغله او دوی د ذهني صلاحیتونو سره سمه سیاسي او قامولي روزنه هم روانه وه:

"پهٔ ښوونځي کښې د هرې میاشتې پهٔ روستو ورځو یوه غونډه پیل کړله چې هغه کي به هلکانو یاد کړي سندرې ویلې پیښې (ډرامه یا نقل) او وینا ګانې به یې کولې یا به یې خیرې (پیپر) او اسې (مضامین)لوستل د غونډې مشر (صدر) لوی استاد وو اوزهٔ یې سبکتیر وم پهٔ هره غونده کي به د بلې غونډې کار او هلکان او ټاکل سو" ۴۳

صمدخان چې پهٔ ښوونځي کښې وو نو که هر څو له پهٔ قامي کار نهٔ پوهیدلو خو خدای چې دې کار ته پیدا کړی وو نو پهٔ ښوونځي


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کښې د الله د ورکړیو صلاحیتونو په وجه د استادانو په مخکښې خپل خان د یو لیډر په حېث پیش کړی وو. په ښونځي کښې چې کوم پروګرامونو کېدل په هغوي کښې استادانو په جرګه د مضمون لیکلو د پاره د دوی نوم خوش کړو. ځکه چې استاد به په صمدخان کښې د قابلیت نخښې لیدلې وی دا په دې چې دوی د کلي د وطن د روایاتو سره سم په پښتني ماحول کښې روزل شوی وو دی په کم عمري کښې په دې خبره پام رسېدلی وو چې قام غلام دی او په زرګونو کلومیټره لرې راغلی د انګرېز حکم لاندې ژوند تېروي .د اتم ټولګي نه پس بې په ښونځي کښې د تعلیم سلسله بند شوه ځکه چې ګزاره بې ګرانه وه او دخپل مشر ورور سره بې زمینداري شروع کړه . د دوی د کورنۍ ځمکه او جائیداد د نورو خلقو په شان لږ وؤ په دې اړه دوی لیکلي دي:

"د ښونځي نه د اوزګارېدو پس مې د ورور سره خپل په لږ زمینداري کې د زیر مي زخمي او لږ ډېر د لاس کارپېل کې. د بلوچستان د نورو پښتنو رنګه زموږ د کورنۍ ځمکه او تول جایداد هم ډېر لږ وي"۳۲

اتم ټولګي پس بې ورور سره په کلي کښې په زمیندرۍ کار پیل کړو په دې دوران دوی سنده،پنجاب ښارونو ته خپل مالونو



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پسې تلو او هلته سياسي شعور او تنظيمي کارونه اخبارونه په نظر کښې وساتل چې ترې د ژوند ډېر څه يې زده کړل.

صمد خان شپږ اووه ژبې زده وې نو بېکاره به نه کښېنستلو لوست، ليک او مطالعه به يې ډېره کوله په دې اړه دۀ ليکلي دي:

"که د چه سره خبرې نۀ کوم يا داسې کار چې پۀ بوخت يم نو به هرو مرو څۀ ليکم يا بې لولم څکه مي ډېر زيات کتابونه لوستي دي او اوس هم لولم او څکه چي د پښتو سبوامې پارسو، تازي "عربي"، انګرېزي، اردو سيندي او بلوچي ژبې ليکل لوستل زده دي نو په لوستو او ليکلو سترې کېږم هم نه چې پۀ يوه ژبه سترې سم نو بله راوخلم او پۀ دې بدلې مي ستړياولاړه سي"۴۵

دوی پۀ ډېر کم عمري کښې زياته مطالعه او سفرونه اوکړل نو څکه ورته خپل وطن د نورو وطنونو پۀ حساب ډېر خوار او زورېدلې محسوس شو چې پۀ دې وجه يې د قام او وطن ته رڼا راوړل د ژوند مقصد وګڼلو- دوی دې ته ډېر مخکښې نه پام وو چې قام پۀ مختلفو ستونزو کښې ګېر دی او د دغو ستونزو خلاصول دپاره سياسي شعور او سياست لازم او ملزوم دي خو چونکې د انګرېز سرکار وو نو داسې پۀ اسانه يې د ازادۍ کار ته نۀ ايله کوو - دوی چې کله يې سياسي کار پيل کوو نو سرکار


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کله په کور او کله په جېل کښې بندي وساتلو د ښونځی تعليم
يې چې نيمګړې پاتې وو هغه يې په قيدوبند کښې هم جاري
وساتلو چې په دې دوران يې د ډېرو اسلامي کتابونو او
تفاسيرو مطالعه اوکړه دوی ليکلي دي:

"د شان مي په نېژدی دوه نيم کاله کي پخواني او اوسني غټ وارهٔ
اردو،پارسي او تازي (عربي)څهٔ اتلاس توسيرونه وکتل چې ټول
دود(مروج)کيتابونه پکښې وولکه بيضاوي جالالين توسيرکبير او د
هغو مني او زيات بيانونه شرح وحواشي هم داسې مي بناغلي امام
غيزالي شاولي الله، شبلي نعماني، سرسيد، ندوتل اولما کيتابونه
اقبال (علامه اقبال)او د نورو اردو پارسي او پښتو پوهيتانو (شعرا)
پوهيتي او د ويناوو (احاديث) شپږ صحآح سته مشکات، ميرکات،
نوي،ابن خلدون اونور ډېر کيتابونه وکتل" ۴۶

صمد خان ديني او دنياوي علومو زياته مطالعه لرله نو ځکه که
انقلابي تحريکونه وو که د ښهٔ ژوند تېرولو درس و تدريس وو که د
اسلامي ژوند سره تړلي حالات وو، که اسلامي تاريخ وو د يې هر څهٔ
کتلي او لوستي وود قام د بدو ورځوته يې ډېر په وړوکوالي کښې پام
راسبدلی وو، که د امام غزالي کيميايې سعادت کتاب دی چې د
ژوند د هرې اړخ ذکر پکښې موندهٔ شي، که د اقبال يه نورو شاعرانو


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

شاعري وه د دې نه علاوه فلسفه د مختلفو قامونو تاریخ د خپل قام ننګ، غېرت هر اړخ یې ښه مطالعه کړې وه ورسره د قران شریف تفسیرونه د احادیثو کتابونه یې هم لوستي وو. دوی د اتم ټولګي نه پس چې ښوونځی یې پرېښی وه او نور تعلیم یې په جیلونو کښې کړې وو، چې په جیل کښې یې، بي ای او انګرېزي، ادیب پښتو، عالم پښتو، ادیب فارسي، عالم فارسي، منشي فاضل، او دې نه علاوه یې اووه ژبې زده وې او د یو څو ملکونوسفرونه یې هم کړي وو چې ټول پاکستان نه علاوه چین، بنګال افغانستان پکښې شامل دي پروفېسر عبدالغني غنو د دوی تعلیمي سفر په اړه لیکي:

"ا: بی اے۔ انگریزی ۲: ادیب پشتو ۳: عالم پشتو ۴: ادیب فارسی
۵: عالم فارسی ۶۔ منشی فاضل،

زبانیں

ا: پشتو ۲: انگریزی ۳: اردو ۴: فارسی ۵: عربی ۶: بلوچی ۷: براہوی
۸: سندھی

سفر

تمام پاکستان کی علاوہ ہندوستان، چین، افغانستان" ۴۷


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## ۵: سیاست ته راتګ او سیاسي مبارزه

د نړۍ د انسانانو د دود دی چې چېرته زور ظلم زیاتی وي په داسې وخت کښې د تاریخ په پاڼو کښې لیدل کېږي چې د دې زور، زیاتي او د ظلم خلاف تل د پاره یوه داسې ډله یا یو داسې شخصیت راپسي چې قام د زور و ظلم د زیاتي نه ازاد کړي. هغه وخت د ظالم زور و زیاتې خپل اولس ته په ګوته کوي د ظالم هر ستم ته په روڼ تندي ولاړ وي او هېڅ کله د قام او د وطن د حقوقو نه نۀ دست برداره کېږي دوی د قام ښو او بدو دواړو ته نظر وي په دې تناظر کښې قام د ازادۍ دپاره معلوم هداف وټاکي او د قام په سیاسي،شعوري،تنظیمي تور سره روزنه

اوکړي-

سیاست د ظالم او مظلوم په منځ کښې جنګ ته وایي ، سیاست مانا د یو قام او وطن وسایل اومسایل پېژندل او هغه ته لنډه حال جوړول ،سیاست مانا د خپلې ژبې،تاریخ، کلتور،جغرافیائي حدود پېژاندل او په دې کښې اوسېدونکیو خلقو دپاره یو ملت جوړول،سیاست د پېغمبرانو سنت دي چې ښو ته رابلل او بدو نه منع کول،داسې نورو ډېرو پوهانو د سیاست په اړه لیکنې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کړې دي خو دلته د سیاست په اړه مختار خان یوسفزي "ګوند د ګوند ضرورت او جوړښت" نومي کتاب کښې لیکي:

"لکه څرنګ چې معلومه ده چې د معلومو اهدافو د حاصلولو د پاره د دولتي او حکومتي ادارو د تسلط د لاندې د راوستلو په خاطر د تولنې رهبري او لارښونه کول او په دې لړ کښې په علم پوهه او تدبیر سره په چارو کښې مداخلې ته سیاست وایي. سیاست د تولنې تضادات او مسایل درک کوي او د حل د پاره ورته لارې چارې لټوي" ۴۸

سیاست دې دپاره کېږي چې قام ته د ازادۍ لارې ښودنه اوکړي یوه داسې ډله جوړول چې قام په ښو او بدو خبر کړي، هغه منظم کول، په شبعو وېشل په خپلو پرادیو نظر ساتل په ملک کښې هره یوه قام دښمنه پالیسي ته پام کول او هغې ته لاره جوړول او نیول په دې نسبت قام ته ټاکل شوي هدف په لاس ورکول دي.

زورور قامونه چې کوم قامونه غلام ساتي نو په دې حقله دوی په خپل زور او چالاکۍ سره د قام لارې چارې نیولو دپاره په تنخواګانې، په رشوتنو، په زور ظلم، د قامي سیاست لاره نیسي دوی دغه هر څه په نظر کښې ساتي او هر قسمه سیاسي قامي


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

غورځنګونو ته د مخکښې نه د لارې بندولو دپاره عملي کارونه تر سره کوي ـ د خوارو خلقو نه په زور او ظلم د وطن زمکې ونیسي یو څو بدمعاشانو ته دوی خپل اختیارات ورکړي کوم چې ملي خائینان وي دغه زمکې بیاپه بیعه ورکوي۔ دی خوارانو ته سرکاري نوکرۍ ورکوي چې د خپلې غلامۍ نه نا خبره پاتې شي ـد قام او وطن په خلاف د جاسوسۍ جال په ټوله علاقه کښې خور کړي دغسې په خپل کور، کلي کښې د وطن دښمنان پیدا کړي اول یې وطن ونیسي زمکه یې قبضه کړي قام فکره ازاد خیاله مشران ، ځوانان له مینځه یوسي اکثره په جیلونو مصیبتونه اخته کړي د خلقو په منځ کښې بې اعتباري جوړه کړي د قام او د وطن د کټې په ځای هر سړی د ځان او کور بچ کولو خیال کوي په داسې غلامۍ ژوند او بدرنګه زمانه کښې د ډېرو عزتونه لوټل کېږي دغه خلق چې د هر څۀ ګوري ویني او د ازادۍ لار نۀ پېژني چې په دې حالاتو کښې هم د ځان خبر او په هر ظلم خاموشه پاتې کېږي ظالم دا هم کړی وي چې د یو قام د کامیابۍ هغه لارې یې معلومې کړی وي په کومو لارو کښې چې د قام یووالی او غېرت ننګ تړلی وي هغه که مذهب ،قامي ننګ و غېرت ،روایات، ژبه،



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تاریخ په هغه روایات چې د کالونو کالونو راهسې د قام د خېر مرکزونه وي هغه د خېر مرکزونه بیا په شر بدل کړي چې د خپل فریاد رسولو ځایونه یې سپک شي چې هر څوک د وروره او ترېوره بدظنه شي لکه موجوده زمونږ د نظر وړاندې دي که د قام مدرسې، جوماتونه او قامي جرګې دي چې هر سړی د قامي مشرانو، جرګې مارو او امامانو نه ستړي دي او په سپک نظر ورته ګوري -

فېرنګیانو زموږ وطن په زوره نیولی وو او دلته اولسونو یې د خپلې خوښې ژوند ته نهٔ ایله کول په هر ځۀ د دوی قبضه وه زور وو ظلم زیاتې وو نو په داسې حالاتو کښې دغه د ظلم نظام نسکورولو دپاره خدای پاک په ګلستان تحصیل کښې په عنایت الله خان کاریز نومي کلي کښې د جولائي په اوومه نېټه نولس سوه اوؤ کښې عبدالصمد خان اچکزی وزیړولو هلته لوی شو د دوی د پیداوښت په زمانه کښې د انګرېزانو حکومت وو نیمایي نړۍ یې تر خپل تسلط لاندې راوستی وه په هر چا یې خپل اثر ورسوخ وو قام به یې د خپلې ژبې خپل تاریخ خپلو روایاتو نه په زور او ظلم اړولو - د دېورنډ تپلې شوې معاهدې پس افغانستان نه رابېلې کړی شوی علاقې چې انګرېزي


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سرکار د برټش بلوچستان نوم ورکړی وو او هغه د پښتنو علاقې نن چې په موجوده بلوچستان کښې ګډې دي پښتانه ورته جنوبي پښتونخوا وايي پښتانۀ خو څۀ له اوله بې علمه او بې هنره وو سکولونه نۀ وو، غربت وو، د زور، ظلم زياتی نظام وو پښتنو انګرېزانو سره جنګونه کول سرکار يې کورونه جائيدادونه ضبط کول د خپلې خوښې ملکان يې پيدا کړي وو دی مالکانو ته به يې مراعات ورکول چې د خپلو خلقو جاسوسي او لاره نيسي په دې وخت کښې د انګرېز سرکار سره ځای په ځای جنګونه کېدل خو سياسي تنظيم يا هېڅ قسمه سياسي ډله نه وه۔

د عبدالصمدخان اڅکزی سياست ته راتګ فطري عمل وو۔ د ځوارلسو کالو وو چې د خپلې مشرې خور سره روغنتون ته تللی وو او هلته يې يوه عسايي نرس چې بوډۍ ښځه وه د هغې د خپل قام او مذهب سره چې څومره مينه کوله هغه يې ليدلې وه، هغې په باره کښې دوی ليکلي دي:

"څنګه چې لويدم اود دې خوار زيارو او د پردوخلکو پښتنو بلوڅو او هندکيانوناجوړان د دې خسمانې او پور هغو باندې د دې خرڅ تېول راته ښکارېده هومره مې مينه وورسره زياتيدله او


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې بیا په دی پوي سوم چې دا هرڅه دوي خپل د دین د خوروني او پرې پیژندې لپاره کوي نومي یوې خوا ته د دوې سره مینه زیاتیدله او بلې خوا ته مي پر څان او خپل کام پۀ زیاته پور مولایانونیت بد بده چي دوی ولې د کار نه کوي او د مي تر زړه ایستي ووچې زه رالوې سم نودغه شان به خپل څان اومال د دین او قام په لاز کي لګوم"۴۹

صمدخان که هر څو د ېر وړوکی وو خو د یوې نرسې زیار چې د خپل قام او مذهب د پاره یې کول د دوی هم زړۀ دا غوښتل چې ګني یوه ښځینه د خپل دین او قام سره دومره مینه لري پۀ کار خو دا وه چي زموږ قام سره د کار عالمانو، مشرانو، جرګې مارو کوله چې یوه ښځه د خپل قام او دین دپاره څومره دې لرې څایه راغلې ده او د خپل دین خپرونه کوي موږ دومره پرېبوتي یو چې د څاني ګټې پۀ خاطر مو ټول قام غلام کړی دی - که هر څو دوی وړوکی وو خو د څان سره وعده کوي چې که لوی شوم نو خپل څان او مال به د دین پۀ لار لګوم دغه فکر وو چې کله ترکیانو یونان ته ماته ورکړه نو د اسلامي مرکز سره د میني پۀ خاطر د انګرېز سرکار پۀ دوران کښې دښوونځی نه د جلوس ایستلو د پاره استاد ته خواست کوي اول یې هغه منع کوي چې


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د انګرېز سرکار دی دا کار څنګه کوی شې خو بیا هم چوتې یې
ورکړه پهٔ تعلیمي اداره کښې پهٔ ټول هند کښې بیا بالخصوص
پهٔ ټوله پښتونخوا کښې که زهٔ وو وایم چې د ښونځی نه
طالبعلمانو جلوس بل چا ویستلی وي صمدخان چې ډېر پهٔ کم
عمري د ښونځی نه جلوس ویستلی وو مونږ ته اوس هم دغه
اشعارې راکوي چې انقلاب او د ظلم خلاف یو اواز کېدلو
دپاره اولنۍ ځای تعلیمي اداري دي چې پهٔ دې اردو کښې پهٔ
سائینسي بنیادونو سیاست اوکړي او د قام ستونزې حال
رواباسلو، یو تعلیم یافته قام جوړولو،خپل حق و وسائل
پېژندلو د پاره ملي ګوند پهٔ شعوري او تنتظیمي بنیادونو
جوړول او قام ازادۍ دپاره اسانه لاره ټاکل او پېژندل د
طالبعلمانو ځوانانوکار دی۔

د جلوس پهٔ اړه دوی پهٔ حقله خپله لیکلي دي:

"د یونان د ماتي په خوشالي کي مي د څو نورو هلکانو جرګه
(ډیپوټېشن) مشر اوستاد له بوتی او چهوتی مو ځینې
وغوښتله په دې لاپوي نه وم چې د انګرېز سرکار ښونځی دی
خوشالي څنګه کوای سي خو مشر اوستاد موډېرخوشاله سو او
ډېرې وستایلودایه راته وویل چي سرکاري ښونځی په دی


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خوشالي کي ځنګه بندولا يي سم او بيا يې د نوروا وستادانو سره مرکه وکړله او د سپل (ايکس کرشن) په پلمه يې ښونځي بند کئ او چهوتۍ يې راکړله" ۵۰

کورنۍ تربيت له عمله په دې پوهه وو چې زموږ ملي هدفونو ځه دي او ځنګه خاصلېږي دې دپاره دوی په ډير وړوکولي کښې خپل اواز پورته کړی دی - ترکي يې نه وه ليدلی خو په دې پوهيدو چې د مسلمانو ملک دی خو د ماشوم ولي له وجې د ورته معلومه نه وه چې دلته هم د فېرنګيانو حکومت دی او ځنګه د يونان د ماتې په خوشالي کښې چوتيي کولی شو -

يونان د ماتې په وخت دوی د ديارلسو کالو وو خو چې ازاد پسنده سوچ لرونکی وو نو په دې حقله خاموش نشو پاتي کېدلی-

عبدالصمدخان اچکزی د وړکولي له وخته ځينې داسې حالات وو چې دوی يې حدثاتي تور سره سياست ته لېواله کوو د دوی کورنۍ هم په سياست او پښتني تاريخ کښې د قام وطن د ننګ او غيرت کټلو دپاره په هر ځای کښې برخه اخيستې ده ،دغه مينه په ميراث کښې ورته پاتې ده - د دوی سياسي مبارزه او قام سره مېنه پروفېسرسيال کاکړ داسې بيانوي:


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"خان شهيد د سهېلي پښتونخوا د سياست او ادب پهٔ اسمان
باندې هغه وخت لکه د ستوري وځلېدهٔ چې پښتانهٔ له هره
اعتباره پاتې وو، خان شهيد د وينې او مينې د تړون پهٔ اساس د
پښتنو هر اړخېزو مسايلو ته خپله جدي پاملرنه راوګرزوله دا
يې ارمان وو چې پښتانهٔ د ملي شعور خاوندان او د لويې
وحدت څښتن شي"٥١

صمدخان ډېر وړوکې وو خو کورنۍ د تربيت له وجې يې قام
بدو ورځو، غريبۍ، خوارۍ ته پام ګرزېدلی وو د قام دغه شان
ستونزې له عمله د دوی سياسي روزنه روانه وه چې قام به د دې
بدو ورځو نه څنګه خلاصوو اودې دپاره يې عملي ګامونه پورته
کړل د دې ذکر دوی پهٔ خپله داسې کړی دی:

"د کورنۍ کور او لوستو پازه وو که څهٔ بل څېز په وړوکوالي مې
له د قامي کارو سره زړهٔ وو خو دومره چې يو خوبه مې تر وسه د
خوارانو خسمانه کوله دخوارو وارو په لوستوکې به مې لاس
کاوه، د څوارلس کالو وم چې د دغې بره ازموينې له مخه سرکار
راله دوولس روپۍ د مياشتي اړه وظيفه راکړله ما به د پيسې
مشر اوستاد ته ورکړلې چې د خوارانو هلکانوکتابونه کاپۍ
قلمان په واخلي يا به مې خپله ورواخستل"٥٢


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لکه څنګه چې دوی لیکلي دي چې له خو د لوستو سبب وو له
بل څۀ ووچې د قام سره مینه مې دا ډول وه چې د خوارو خلقو
به مې خسمانه کوله د خپل قام سره د دې میني پۀ سبب یې د
ژوند تر نیمائي زیات وخت پۀ جېلونو کښې تېر کړو خو د قام د
ازادۍ خبرو نه پۀ شاه نۀ شو۔

نن هم که پښتانۀ دغه فکر عام کړي او پۀ خپلو کلیو، کوڅو
کښې د خوارو خلقو د زده کړې خیال وساتي دې سره به قام
کښې د یوالي جذبه راشي علمي شعور به زیات شي ګټه به یې
دا وي چې ټولو پښتنو پۀ منځ کښې به تربوري دښمني پۀ
وروري بدلی شي هغه خلق چې د غریبۍ له وجې تعلیم نه پاتی
دي د تعلیم خاصلولو سره به بې قام سره همدرۍ پیدا شي او
پۀ دې شان دغه سوچ مخ پۀ وړولو کښې به عملي کارونه تر
سره شي ۔ هغه خلق چې غریبۍ له وجې تعلیم نه محرومه دي پۀ
قامي سیاست کښې هم ګډون نۀ کوي او تل پۀ مفاداتو پسې
ګرزي ځکه چې دوی دپاره قام داسې لاره نه وي تاکلې چې دغه
خلق پۀ قامي سیاست پوهه کړي یه یې خپله اومني چې کوم ډول
سیاسي کار کول پۀ کار دي نن اکثره پښتانۀ د قامي ګوندونو
پۀ ځای پۀ نورو ګوندونو کښې سیاست کوي چې هېڅ ګټه پۀ


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لاس نۀ ورځي خو بيا هم د قامي تحريکونو پۀ خلاف ولاړ دي ځکه چې موږ خپله قام پۀ برخو وېشلی دی او پۀ دې وجه پۀ قامي اهدفو کښې تل پاتې راغلي يو۔

لکه څرنګ چې ما مخکښې وليکل چې عبدالصمد خان اڅکزی پۀ ژوند کښې داسې پېښې وې چې دوی يې قامي سياست ته لېواله کړو۔

د افغان بادشاه غازي امان الله خان کيسه يې ليکلی ده چې د پښين او کوئټې پۀ لار يورپ ته کله تلو پۀ هغه ورځ چې دوی څه محسوس کړل او څۀ يې وليدل پۀ دې اړه دوی ليکلي دي:

"د ګورګانو دا پړک چې راغی او ليکه ودرېدل په ختوکښې بوټونه څه لړل سوي وو نو د هنکي بنګيانو يوه ټولی راغله او په پاکو ټولو يې د دی بوټونه پاک کړل۔۔ ۔۔د ولې زمونږ پښتانه او هنکيان دومره سپک يو پۀ کارخود وه چې نن دپښتنو دی پښتون باچا ته خپل پوج کنډک سلامي ورکولای که هغه نه وی نو هينکيان خو وی د څه دي چي سلامي انګرېز ورکوي - زړه مي غوښت چي پکار ووچې زموږ د ټولو له خوا يوه سړی هرکلی وورته ويلي وې او د هغوي جواب مو اورېدلی. وای او په يو اواز مو ځو ناري کړې وې که څه هم تر دغه وخته مانه په


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

څه ډله یا ګوند کي کار کړی وو او نه مي د بل چا کامي ډله یا ګوند (تنظیم) لیدلي وو۔۔۔۔دغه چورت رسره وو چې زموږ دبده ورځ به څنګه او کله بدلیږي"۵۳

صمدخان پهٔ دی فکر کښې وو چې قام به ازادی څنګه مومي او د کلي وطن حالات به څنګه بدلیږي دې خبرې ته یې پام وو خو بل خواه پهٔ ټول ولایت انګریزان مسلط ووچې د قام ناپوهی، بې کسی او د خوارو خلقو کمزوریو ته یې داسې خلق پیدا کړي وو چې د خپلو خلقو خلاف به یې مخبري کوله خان شهید پهٔ دې پوهېدو چې انګریزانو زموږ وطن پهٔ زور نیولی دی زموږ کلتور روایات،ژبه مذهب او وسائل پهٔ رڼا ورځ لوټي نو دې د پاره سیاسي ګونداو تنظیم جوړول ډېر ضروري وو - یو څېرک سړی چې د هر څهٔ نه خبر وي او یه خبر شي بیا غلی نهٔ نشي پاتی کېدی دوی خپله لیکي چې قامي مینه او تړون قدرتي کار راته معلومېږي چې زهٔ یې تل دې ته هڅول پهٔ دې اړه دوی خپله لیکلي دي :

" د مې باور دې چې قامي کار او لوږه او کم خرڅي څهٔ د خودایي (قدرتي)تړون سره لري ولې پهٔ دغه دوه درې کاله کښې چې زما د قام او هېواد دي بدې ورځې پام وو او یوې خوا ته به


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مې پېلامه (اسباب) لټول بلې خواته به مې په چاره کښې پام کړ
او دې ته به مې چورت واخځ چې ماله څۀ کول پکار دي"۵۴

د پښتنو په خاوره مزاحمتي تحریکونه د هرې قبیلې له خوا
تل روان وو چې په دې وجه یې خپل وطن د پردیو یلغارګرو نه
ژغورلی دی خو دې یلغارګرو ته په مستقبل کښې لاره نیول
دپاره چرته بند نۀ وۀ تړل شوی چې ټول پښتون قام کښې یې پله
سیاسي تنظیم کښې راغونډ کړی وی د تنظیم او سیاست
نشتوالي له امله دغه مزاحمتي تحریکونه اکثره د یو بل نه ن
خبره وو او که خبر وو بیا چرته یو ځای شوي نۀ دي او نه په تاریخ
کښې مخې ته راغلي دي - هر زورور چې راغلی دی پښتنو
قبیلې ورسره جنګونه کړي -

په صوبه سرحد موجوده خیبرپښتونخوا کښې اولسونه سره
نږدې دي خو په دې نسبت د جنوبي پښتونخوا اولسونه د یوې
نه بلې ضلعې پورې په زرګونو کلومیټره سره لرې پرتۀ دي په
ټول برټش بلوچستان او بلوچستان کښې کالج نۀ وۀ په ګلستان
تحصیل کښې یو مډل سکول وو، اخبارونه د ټرانسپورټ
آسانتیا نۀ وه او په نورو علاقو کښې که سرکار زورور وو خو
اولسونه له نږدولي له وجې بیدره وو اخبارونه، ټرانسپورټ وو


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

عبدالصمد خان اچکزی سیاسي مبارزه پېل کلي سره نږدې وو ـ
تر کوله هغه وخت دوی درې ملګري وو، بل خواه ته سرکار چې
همت نه نيمائي زياته نړۍ نیولې وه خو د لوی خوصلی خاوند
مرګه دې بائللی او تل يي پۀ لوړه سینه سیاسي مبارزه تر
دوامداره ساتلې ده ـ

دوی غوښتل چې قام د بدو ورځو نه خبر شي د دې بدو ورځو
علم او ورکولو د پاره یوه داسې لاره وتاکل شي چې قام د شعور،
تنظیم پۀ لار روان کړي نو هله به قام د ازادۍ لاره مومي ـ

د صمدخان سياسي مبارزه او سياست ته راتګ پۀ باره کښې
فیض الله پانیزي لیکلي دي:

"خان شہید عبدالصمد خان صرف پندرہ سال کی عمر میں سیاست میں داخل ہوئے جب برصغیر
کے حالات اچھے نہیں تھے بلوچستان کی صورت حال بھی گمبیر تھی اور تحریک خلافت بھی شروع
تھی اور اس کی قیادت کرتے ہوئے برطانوی حکومت کے خلاف اپنی سیاسی جدوجہد کا آغاز
کیا"۵۵

حق کله هم پۀ زور ختمېږي نۀ پټېږي که سرکار دوی ته لارې
بندولې پۀ دې نسبت سره د دوی سیاسي پختګي د قام وطن
سره مينه نوره هم زیاتېدله ـ



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دوی د خپلو تجربې سترې ستومانې په نتیجې کښې دې
پام وو چې یوه داسې سیاسي ډله جوړول غواړي چې قام
وطن د پاره کار اوکړي په دې حقله دوی لیکلي دي:
"اوس زه په دې پوه وم او په بیړه لګیا وم چې یوه ډله اوغو
(جماعت)داسې جوړ کم چې د اولس او هیواد لپاره خوداي
پاره کار کوي نو هله به کار سمبړي خوګرانه د وه چې پخوا
کار چېرې په غونډ بلوچستان کې نه وو سوې نه څوک په رسېد
ډله خو پرېږده هلته خو د کوټې د ښار د او پره هلکو پرته
درست ولایت کې د اول سیاسي دیني غونډې یا په غونډوکي
چا ویان (مقرر)د وینا دود هم نه وو"۵۶
لکه څنګه چې ما د پښتنو د تېر تاریخ د تسلسل خبره کړې
ده، دغه شان چې کله صمد خان قام او اولس د پاره ملاتړي
دلته د وسلاوال تحریکونو په ځای قام په سیاسي توګه پوهول
غواړي خو دا هرڅه په حوله خو اسان دي خو عملي کول یې ګران
وو چې یو نوې سوچ نوې تحریک داسې داله چې پښتنو په ژوند
کښې لیدلی نه وي دغه خلق په شعوري، علمي، سیاسي تو
منظم کول د زورو ظلم نظام نسکورول او بل خواه ته د فېرنګي
سرکار او د هغوي په لاکهونو مراعات یافته خان، ملک،



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

نواب، سردار خلاف په دریو ملګرو مبارزه کول، بل خواه ته زموږ پښتنو نه د خان شهید سترې ستومانې د هغه وخت غوښتنې چې دوی په یوځینې ځان تر سره کولی نتي دور موږ نه سوال کوي چې د ډېرو وسائلو باوجود هم مونږ د خان شهید کارونه سر ته څۀ چې له پښتون قام ته نۀ دي ورښودلي او موږ په دې کار کښې ولی پاتی یو دغه سوال حال کول غواړي چې د زرهاو سهولیاتونو باوجود خپل مرام سر ته رسولو کښې له تر اوسه پاتې یو که د خان شهید لار خپله شي او په رښتیني مانا سره قام ته ورښودل شي نو قام ددې بدو ورځو خلاصولې شي- خان شهید په یوځیني ځان اخبار چلول،خپله خرځول چنده کول او لیکل،اکثره په جېلنو کښې وو سیاسي تنظیم چلول،خپل اواز تر هنده رسول،ژباړې کول،مکتوبات،ژوند لیک لیکل،د پښتو ژبې لیکدود او لغات لیکل د لرې لرې علاقو دورې کول سیاسي پوهانو سره په جمهوري طریقه لیدل کتل او بل طرف ته نن پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ چې یو اخبار،د سوشل میډیا ټیم او مجاله نۀ لري بس په لاکهونو کارکنان هره میاشت چندې ورکوي د خان شهید ژوند نه نا خبره دي د خان شهید د ژوند مرام یې نۀ خپله او نۀ بل ته ورپېژندلي دي-


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دوی لیکلي دي چې نۀ سیاسي ډله وه نۀ چا چرته تقریر ولاسړی وو د سیاسي ډلې دجوړولو پۀ اړه لیکي :

"زموږ تر ټولو په مخ کي تر ټولو لوړي کس دا وو چې بیلو کلو خلک به څنګه راغونډ کوو چي یو ځاي ډېرو خلکو ته خپله خبره وره سو د ډېره سوچه اوخبرو پس مو د خوښه کړله چې جوماتونو کي دیني ویناوې (تقاریر) پېل کو او په کار دې لوړې پیل زموږ د کلي په جومات کې وکي----په دغه ورځ د لمانځه پس زه ولاړسوم او د مي وئیل چي که څه هم دخودای کتاب پۀ تورو لوستل او اورېدل هم ښه کار دی او ګټه او ثواب لري....
نو ما یوه لنډه غونډې وینا اوکړله او ډېر خوشحاله وم چي که خبر وي کار روان سو"۵۷

زړۀ یې چې څۀ غوښتل د هغوی پۀ تالاب کښې وو چې د حق لار وه نو خدای پاک هم ورته اسانوله هغه داسې چې د کلي مولاد شپې لمنځۀ پس تبرک الزي لوست کولو کلیوال به ورته ناست وو نو دوی دغه تجویز ورکړو چې که پۀ پښتو معنا سره وو ویل شي خلق به هم پرې پوهېږي او منع به یې هم زده کړي نو د کلي امام دوی ته وو ویل چې زۀ نن ناجوړه یم که تاسې څۀ وائیل غواړي نو دوی اوچت شو او داغه وخت یې لنډه شان وینا اوکړه


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې خپل د ژوند مرام مقصد او لاره يې وه هغه يې مونده کړه ـ
دوی چې څۀ غوښتل هغه کار خو يې د جومات نه شروع کړو خو
لويه بنده دا وه چې د فرنګي سرکار له خوا پۀ داسې قسمه
اولسي کارونو سخت بندېز وو د اولسي کارونه څۀ اسان هم نۀ
وه لکه شوکت ترين چې ليکلي دي:

"برصغیر پاک وہند کی تقسیم سے قبل ایک ایسے معاشرے میں سیاست کا اغاز کرنا جس میں ایک طرف بقول عزیز بگٹی چار ولی ریاست ۶۰ بلوچ نوابین ریاست ۵۳ بلوچ ملک و معتبر اور ۴۸ پٹھان ملک او معتبر انگریز سرکار کی وظیفہ خوار تھے اور دیگر مراعات حاصل کر رہے تھے شاہی جرگے کے تمام اراکین جن میں ۱۳ بلوچ اور ۴۷ پٹھان تھے یہ مراعات حاصل کر رہے تھے جبکہ ذاتی خدمات کے عوض مراعات حاصل کر نیوالے ملک و معتبر کی کل تعداد ۳۶۱۴ تھی جن میں ۱۰۹۱ بلوچ ۲۵۲۴ پشتون تھے موروثی حیثیت میں اعزازئے اور الاونس حاصل کرنیوالے ۱۱۷ بلوچ اور ۶۱ پٹھان تھے ذاتی حیثیت میں انگریزوں کی خدمات گزاری پر معاشی مراعات حاصل کرنے والے ۹۱۴ بلوچ اور ۲۱۶۸ پٹھان ملک و معتبر تھے" ۵۸

سرکار د چلاکي جال پۀ ټوله سيمه کښې خور کړی وو۔ د قام
رښتيني مشرانو پۀ ځای يې خپل د خوښې ملکان، نوابان،
سردران ټاکلي وو چې سياسي کار ته يې څوک نۀ پرېښودل او
پۀ دې وخت کښې د قام پۀ مانا چا څۀ کار کول غوښتل خو دغه


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وظیفه خوارو خلقو به یې لاره نیوله پۀ دې حالاتو کښې داسې
دول سایسي کار کول چې سرکار څخه پۀ شعوري طور د قام
خلاصون اوکړي انګرېز او د هغوي مراعات یافته خلقو پۀ منځ
کښې سیاست کول د غرۀ سره سر وهل وو خو چې خان شهید د
لوړې حوصلې خاوند وو نو دغه دوی د پاره هېڅ ګرانه نۀ وه پۀ
دغه لړ کښې قیدوبند که نور تکلیفونه وو چرته هم د قامي
اهدافو نه وانۀ وړېدو ـ صمدخان پۀ سلو کښې یو یادېږي چې
خپل قام ته یې سیاسي پوهه ورکړه او پښتانۀ یې د تنظیم سره
اشنا کړل او د پښتنو د تېرو تحریکونوچې کومې کمۍ وې د
هغې تدراک یې هم وکړو ـ پۀ دې اړه د "خان شهید
عبدالصمدخان اڅکزی علمي او ادبي خدمات" پۀ مقاله کښې
داسې راغلي دي:

"پښتنو د تېروسله وال او غېرتنظیمي مبارزې پۀ ځایي خان
شهید پښتانۀ منظم سیاسي او د عدم تشدد په بنیادولاړې
مبارزې ته راوبلل او منظم یې کړل خان شهید نه صرف د جدید
تنظیم سره اشنا کړل بلکې د پښتون د ازادي بخښونکې
تحریک پخوانې غلطۍ یې هم اصلاح کړې خان شهید ددنیا
کامیاب قامي تحریکونو په څېرد پښتنود ازادۍ دپاره د



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پښتو خپله ملي پارټۍ جوړه کړله" ۵۹
دوی سیاسي کار په شعوري توګه مخ په وړاندې بوتلو دپاره ملې خلې کولی د تېرو تحریکونو تاریخي پس منظر یې په نظر کښې وو. دوی غوښتل چې قام او وطن د پاره یوه داسې سیاسي لار جوړه کړو چې پښتنو د ازادۍ دپاره یو ملي کاروان تل موجود وي چې د هرې یوې پېښې او بلا نه قام ساتلو دپاره کارکوي عبدالرحیم مندوخیل په خپله مقاله کښې لیکلي دي.
"محکوم پښتنو ته وحدت ،قامي خودمختاري،جمهوریت او هغې دپاره لار تکل،دې دپاه یې عملي کارونه ترتیب کړل په دې حالاتو کښې په ۱۹۲۹ کښې لاهور ته لاړو چې هلته د کانګرس، بهارت مهاسبها او نورو ګوندونوکالنۍ غونډې کېدونکې وې ۶۰"
دوی چې د لاهوره راغلو ډېر څه یې زده کړل نو سیاسي کار یې نور تېز کړو خپلو درېو ملګرو سره یې د تنظیم جوړولو پلان عملي کړو. په هند کښې د کانګرس لوی تحریک وو په برټش بلوچستان کښې چې هېڅ سیاسي کار نۀ وو نو ځکه دوی سره د ملګرو د پښتنو بلوچو شریک مسایل کانګرس ګوند ته د رسولو پلان وټاکلو. دې باره کښې دوی لیکلي دي :


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

" په لندن کي د غونډ میز جرګه کېږي په دی وخت بلوچستان ږغ د هندتر مشرانو رسول پکاردي - - - - څوک چې د قام په لار کي ځان او سربښندي په موږ کښې دې دوه کسه د دی کارلپاره ووزي او دوه به ناست وي که سرکار هغه دوه قامي کارته پرېښول نوبیا به دا دوه هم وزي یابه یې بندپوره سي کني هغه دوه لاسګري(ضمانت)دپیسوباک نه کوي کار به کوي که سرکار ونیول بېرته به داسې پریکړه کوي د دوه چې مشر ورورمي اوښاغلي ایوب خان به اوزي زه اوښاآغلي ایساخان به ناست وي ۶۱"

صمد خان د دوی ورور یو ملګرې ته چې سیاست پهٔ شروع کښې کوم مشکلات مخې ته راتلل هغو دپاره یې هم لار تکلی وه اوپهٔ دې ښهٔ پوهېدلو چې سرکار عمل به څهٔ وي خو د دوی نظر چې یوې لوی ملي مبارزې ته وو نو ځکه یې پهٔ شعوري توګه کار کول غوښتل هر څو که دوی کم ملګري وو خو د تګ لاره یې موندلې وه .

صمدخان اچکزی قام د ازادی د پاره کوم فکر چې ډېر پهٔ وړوکولي کښې لرلو د پښتنو غږ تر هنده رسول، سرکار د بندولو دپاره یو منظم پلان نیول چې که سرکار ملګري بندي



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کړل نو اول نه لار پيدا کول ترتيب جوړول او خپله مبارزه دوامدره ساتل د دوی د عمر مطابق ډېره د فکر وړ خبره ده که هر څو په دريو څلورو ملګرو ګرانه وه نن نه اتيه کاله وړاندې چې خان شهيد کومه لار د ازادۍ د پاره ټاکلې وه تر ننه مو نه خپله او نه بل ته ښودلی ده چې له اوسه د ازادۍ د نعمته ټول قام محرومه او سخت د بدبختۍ او د غلامۍ ژوند سره سر يو نن هم که د دوی تنظيمي لار باندې عمل اوکړو بيا هغه وخت لرې نه دې چې موږ ټول ملي هدفونه سر کولی شو ـ

دوی د هند ته تګ خبره کړې وه چې د ښونځي پرېښودلو پس ورور سره په زميندارۍ اخته شو نو د هند پارټۍ کانګرس نه هم خبر وو نو څکه دوی خپل د اولس درد اواز پورته کولو سرکار د زور ظلم زياتي نه د کانګرس مشران خبرول اوغوښتل د ملګرو په خوښه هند ته صمد خان ولېږل شو چې په دې اړه دوی ليکلي دي :

"دکال ۱۹۳۱م په جولائي په پای کي د ملګرو په خوښه د سينده په لار بمبئ ته روان سوم چې غونډه مېز جرګې دغړوسره ووينم او د بلوچستان په خواري او د سرکار په سختو او نا خوالي يې خبر کم دکوره ايدرابات ته ولاړم په ايدرابات کي مي په اخبار کي


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د ګاندهي جي پروګرام وليد چې دغه وخت په ماردولي کي وو
او په څو ورځې کې بمبۍ له روان وو په لارې دوو روزې له
احمدآباد ته راته نوما وی چې په احمدآباد کې به یې ووینم۶۲"
صمدخان چې کله هند ته لاړو نو هلته یې ګاندهي جي او
کانګرس نورو مشرانو سره ليدل کتل اوشول او د بلوچستان په
حقله يې انګرېز سرکار او د هغوی ظلم و زياتوب نه خبر کړل دا
ورته معلومه وه چې مونږ په خپل وطن کښې د غلامۍ ژوند
تېره وو نو دغه احساس وو چې دوی يې سياسي کار ته لېواله
کړو۔ د سرکار زور زياتی هم ورته معلوم وو چې ګني جېلونه
تکليفونه به پکښې راځي خو که وکتی شي چې د دريو ملګرو
سره د خپل مظلوم او خپلي قام اواز په ۲۴ کالو کښې هغه وخت
د هند لويه پارټۍ کانګرس ته ځان رسوي چې په دغه وخت
کښې د سرکار سره په لندن کښي ګول مېز کانفرنس کېږي د
ګاندهي جي سره ليدل هغۀ ته خپله مدعا بيانول او د
بلوچستان د خوارو خلقو اواز تر سرکاره رسولو په اړه دوی
ليکي:
"چې له دوي نه خپلې کوټې ته راغلم په هغه شپه کښېنستم
اوترسهاره مې دبلوچستان په حکله خپلې ټولې خبرې وليکلې



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

سهارمي د ګاندهي جي کشرسيکرټري ته ورکړلې هغوي ته ګاندهي جي خبره نه وه کړي هغه وخت يې ورلپ اوتپوس يې ترې وکي هغوي زه وورويللم وى "دادې څه وخت ليکلى؟"ماوى دشپې چې له تاسوولاړم"بيده سوى نه يې" - - -

ـمادګاندهي جي په نامه د خط په رنګ کې ليکلي وو وى"زما نوم ترې وباسه نو به د غونډميزي جرګې د هر غړي په نامه سي"هغه واخيست اوسباله داتلس مخو۹پاڼويه واړه اونيژدې ټايپ پارکوټي ترې تيارسوي ووبنځه سوه پارکوټي يې راوړل رايې کرل نيم ما ځنې واخيستل نيم مې دوي ته ويل چې تاسې يې وويشئ۶۳"

د تېرو ليکنو په تناظر کښې موږ د صمدخان فکري، شخصي پېژنګلو ته پام راګرزولو دپاره د دوى رسا فکر د هغې وخت سرکار،د خلقو ناپوهي،ملکيزم،نوابيزم په سستم کښې د فيرنګي سرکار په خلاف د خپل زورېدلي قام غږ د هند کانګرس ګوند ته د پښتنو د ژوند ژواک غوښتلو دپاره په ليکلي شکل کښې وړاندې کول چې هلته د ټول کانګرس ګوند مشرانو ته هم وېشي او په لندن کښې چې کومه غونډه کېږي هغه ته يې ليږي۔


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خان شهید د پښتنو ښهٔ ژوند تېرولو دپاره اتیه کاله مخکښې
چې کومه مقدمه کانګرس ته او د دوی پهٔ وستطاعت سره
برطانوي سامراج ته پهٔ لیکلي شکل کښې وړاندې کړې وه هغه
مقدمه چې دوی برطانوي سامراج ته لیکلې وه ښکاري داسې
چې منل شوې نهٔ ده او تر ننه پهٔ دې حواله پهٔ دې ډول د پښتنو
مقدمه له تر اوسه چا نهٔ د وړاندې کړې چې پهٔ نتیجه کښې موږ
حالات ورځ تر بله خرابېږي،د پښتنو وسائل،ژبه،تاریخ،کلتور
او ځوانان ښځې پهٔ رڼا ورځ پهٔ ګولۍ ویشتل کېږي۔
صمدخان چې کوم ډول سیاسي کار کول غوښتل پهٔ دې باندې
هغه قوتونه پوهېدل چا چې د ظلم نظام جوړ کړې وو نو ځکه د
خان شهید ژوند ډېر د سختیو سره مخ شو دوی یې سیاسي
کارته نهٔ ایله کوو نهٔ یې د اولس پهٔ منځ کښې پرېښودو او پهٔ یوه
بهانه کله پهٔ بله بهانه یې تل د اولس د نظره لرې وساتلو۔
د صمدخان سیاسي ژوند یو حادثاتي ژوند دی د فزکس کلیه ده
چې"د هر عمل یو ردعمل وي" دوی چې د قام او وطن سره بې
کچه مینه لرله نو دې مینې له سببه هغهٔ خپل ځان و مال قام او
وطن د پاره قربان کړي وو۔ صمدخان چې کله هند ته تلی وو
هلته یې د خپل ځپلي قام اواز ترهنده پنجابه ،سینده ورسوډ


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ځکه چي هلته پرېس وو هر قسمه سياسي جلسه جلوس بيانونه د سرکار خلاف کېدل - په دې وخت کښي چي اکثره به د ګاندهي جي په کور کښې غونډې کېدلی د هندوانو، مسلمانانو ليډران به راتلل دوی د ګاندهي جي نه ځۀ زده کړي وو او پۀ هغه لاره باوري وو چي د عدم تشدد لاره وه دوی ليکي :

"خو چې پۀ دغو ورځو کښې مې د بېلو خلقو سره د ګاندهي جي خبرې واورېدی ستړګې مې رونې شوی او په دې پوي شلم چې دا لارخود بېزره توب نۀ ده داد ډېرې وچتې بهادرې او ګټمېره لار ده ـ ـ ـ ـ ـ او د ما تر زړۀ وکښله چې که نور نۀ وي تر خو چې د پښتنو خپل قامي سرکار جوړېږي او هغه دا لار د ټول قام پۀ خوښه پرېږدي زما د ژوند لار به د زغم(صبر) وي۶۴"

صمدخان اچکزی غوښتل چې پښتون قام د عدم تشدد لار خپله کړي خپلو منځ کښې وررورلي،توربوري ختمه کړي او د دښمن پۀ مقابل کښې ټول قام په يو ګوند کښې راغونډ شي -

دوی د دې مشرانو نه ډېر سياسي او تنظيمي کارونه زده کړل - صمدخان چې له هنده راغی نو يوسف علي خان مګسي يو بيان لکولی وو چې د بلوچستان د اصلاحاتو پاره دې يو جلوس وباسۀ شي او مشري دې هم عبدالصمدخان اچکزی وکړي -دې


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په باره کښې دوی ليکي چې :

"په زميندااخبار"کي د هغه يو بيان راغلی. چې پکاردي چي په پلانکې ورځ پنځلس ورځې پس په بلوچستان کي د خپل واکه سرکاراصلاحات لپاره د بلوچستان د ورځې(يوم بلوچستان)په نامه کار پېل سي او په کوټه کي يوه ورۍ جلوس ووزي دا دې مشري د مولا ناعبدالصمدخان بي ای اوکي که څه هم زه نه مولاناوم او نه بي ای.- - - - دبلوچستان سپکه ده هرڅه چي وي اوس چې يو قام دوسته سري دپردي ولاته دا رغ وکي وس نو د به کېږي تو بيا مو خپل د ملګروسرشمېر سره اوکئ او ايله مولس کسه وشمېرل چي د دي کار لپاره به هر څه ته تياروي ۶۵"

د دوی سياسي هلې ځلې ته د اولس نظر وو هغه خلق چې د خپلې صوبې نه يي په نورو صوبو کښې ژوند کولو زړۀ يې غوښتل خو عملي کار ګران وو ځکه چې سرکار څوک قامي کار ته نۀ ايله کول خو د دوی حوصله، همت خلقو پۀ نظر کښې وو نو ځکه دوی نه د مطالبه لرل د بلوچستان د اصلاحتو دپاره د پښتنو بلوچو پۀ شريکه جلوس ويستل هغه پۀ لسو ملګرو چې د بلوچستان پۀ تاريخ کښې د دوی پۀ مشري کښې دويم جلوس وو ورمبې جلوس د يونان د ماتې پۀ خوشالي کښې د ښونځی



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

نه دویم د پښتنو بلوچو پهٔ مسایلو باندې چې دې سره د دوی
سیاسي کار نوره هم تېز شو۔

صمدخان سیاست ته راتګ او بیا سیاسي مبارزه پېل کول د
وخت سرکار، خان، ملک د نوابانو پر ضد وه خو پهٔ داسې
خالاتو کښې چې نهٔ څوک سیاست پېژني نهٔ چا لیدلی وي بیا
نوره هم ګران شي اولس هم ناخوانده وي چې د ښو بدو تعین نهٔ
شي کوی دوی پهٔ داسې ناخوانده خالاتوکښې چې د وخت
سرکار ډېر زورور وو پهٔ ټول ملک کښې پهٔ هر ځای کښې یې
خپل سړي ساتلي وو د سرکار هر ډول پروپیګنډې هم وی چې
هېڅ د حق او نا حق پته نهٔ لګېده د دې اندازه موږ د دې نه پهٔ
اسانه کولې شو چې د پښتنو او بلوچو پهٔ شریکه جلوس کښې پهٔ
مشکله لس تنه ګډون کوي۔

د ډېرو سترې ستوماني پس چې ټول ژوند یې د فېرنګي سرکار
او د هغه مرعایت خوړونکوخلقو پهٔ خلاف مبارزه کوله نو پهٔ
دوی پسې به یې دغه پروپېګنډې کولې چې صمدخان د سرمایه
داری جاګیرداری خلاف نهٔ وو چې دوی ته پرې ډېر درد رسي او
هغه بیا پهٔ خپله داسې وایي:

"۹ نومبر ۱۹۷۱ کی نوائے وطن کوئٹہ" میں مجھے جام سہاک کی زبان یاد کیا گیا ہے۔ مضمون کی


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

باربار پڑھنے کے باوجود سب سے پہلے فقرہ عبدالصمد اچکزئی "سرمایہ داری، جاگیرداری اور سرداری کی خلاف نہیں رہے لیکن کچھ مدت سے وہ سرداری نظام کی مخالفت میں پیش پیش نظر آتے ہیں اس کا مطلب سمجھ میں نہ آسکا۔ اگر مقصد یہ ہے کہ میں کبھی بھی سرداری کے خلاف نہیں رہا ہو تو مجھے سخت افسوس ہے کہ میں نوجوان نسل کو یہ بتا نہ سکا کہ میں اور میرے ابتدائی زمانے کے ساتھی اس سلسلے میں کیا کچھ کرتے رہے۔ مختصر یہ کہ ہماری جدوجہد شروع ہی انگریزی سامراج کے اس مورچہ سے ہوئی جسے سرداری نظام رکھتے ہیں اور اس راہ کے کانٹے ہمارے قدموں اور تلوؤں میں چبھ کر انہیں لہولہان کرتے ہوئے کٹیں راہیں ٦٦"

صمدخان اڅکزی د فېرنګي سامراج او د دوی تپل شوي سرمایه درانه نظام پرخلاف مبارزه پیل کړه ،فېرنګي سامراج پهٔ پښتني معاشره کښې د پښتنو روایات تر پښو لاندې کړل خلک یې د پښتونولي راوګرزول،د ملکیزم،نوابیزم پهٔ نسبت یې طبقاتي نظام جوړ کړو ـ خلق یې پهٔ طبقو ووېشل،عملي کار پهٔ ځای لالچ او د دروغو راج شو د سرکار چال چالاکۍ سره خلق د خپلو نه بېزاره شول اعتبار ختم شو د نااميدي ژوند وو د دې ظلم نظام نسکورولو دپاره خدای پاک صمدخان خوښ کړی وو چې قام یې پهٔ سیاسي،تنظیمي،علمي،شعوري، جمهوري لار سره روان کړو، سرکار زورور او چلاک وو پهٔ اسانه یې سیاست


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ته نهٔ ایله کوو او د اولس نه یې لرې اکثره پهٔ قیدوبند کښې وساتلو. خو د سرکار پهٔ مزاحمت باندې د دوی سره د اولس مینه او همدرد ورځ پر ورځ زیاتېدله. چې پهٔ سیاسي کار کښې پهٔ دې پوهه شو چې قامي کار ته مو سرکار نهٔ ایله کوي او دغه لا لویه مبارزه غواړي پهٔ دې کښې جېل او ورسره نوره کشالې هم راتللې شي نو دې د پاره دواړه ورونه سره کښېنستل او د بې سره خوښه کړه چې یو پهٔ کورکلي پاتې کېږي یو به سیاسي کار ته ځان سپاري پهٔ دې باره کښې دوی لیکلي دي:

"هم پهٔ دغه ورځو کي مي مشر ورور رته وئیل چي "ماته داسې ښکاري چې د قامي ازادۍ کار به اوږد وي په دې کي ډېر ځله بند او خواري راځي او دا د پښتنو هولکه پښتني ژوند دې دکور مځکه پر تول یوسړي غواړي د کورخلک سپین سرې مور اوخپلوان ډېر زیات کړېدلي دي اوترڅو به زمونږ د بل دغاړې وي مونږ دواړه قامي کار نه سو کولی یو به هرو مرو کورته پاتېږو نو ستا خوښه ده که ته کورپاتېږې زه به قامي کارکوم ته مي کومک کوه اوکه ته قامي کارکوي زهٔ به کوریم ماوی"ښه دې زه به قامي کار کوم ته د کور کار کوه۶۷"

صمدخان د پښتنو ژوندژواک ،ستړې ستومانۍ د سرکار او د


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

نوابانو، سردرانو حال اخوال نه بښهٔ خبر وو د هر څه یې پهٔ نظر کښې ساتلي وو نو دوی دپاره اوس پهٔ دې کار که هر څومره مشکلات وو خو قامي سیاست یې پهٔ ځان فرض کړیوو.

دوی هم د نورو پښتنو پهٔ شان سخت ژوند وو خو دې سخت ژوند ته اسنتیاوې پیداکولو دپاره بل څوک نهٔ راتلل نو دوی خپلو ورونو پهٔ داسې حالاتو کښې قامي ازادۍ او قامي تحریک دپاره پهٔ کور کښې سره جوړه کړه چې یو به کورته او بل به سیاسي کار ته اوځي۔

نن هم موږ که د ازادۍ خبرې کوو نو د صمد خان پهٔ ټاکل شوی لاره به عمل کوو او تر هغه وخته موږ ازادۍ نشو اخیستله چې تر څو پورې مو دکوره یوسړی سیاسي تحریک ته نهٔ وي ویستلی۔

پهٔ تاریخ کښې تل استعماري قوتونو د قام مخه نیولو دپاره د پښتنو د روایاتو سره سم سیاسي ګوندونه جوړ کړي دي دا دغې پېژندنه به موږ پهٔ تاریخي تناظر کښې کوو د تېر تاریخ نه واخله تر نه پورې د هر ګوند هر ډول مطالعه کول او د هغې پس پهٔ تعمیري سوچ سره خپل قامي سیاسي لار ټاکل او پهٔ هغه کښې بشپړ کارونه تر سره کول۔



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

عبدالصمدخان اچکزی د پښتنو معاشرتي ژوند پهٔ نظر کښې ساتلی وو ځکه چې دوی له پلاره یتیمان پاتی وو سپین سرې مور یې کور کروندې پهٔ یواځینې ځان نشوې ترسره کولې د ماشومانو ژوند تعلیم تربیت هم ضروري وو -

خان شهید چې پښتنو د ازادۍ د پاره کومه لار ټاکلی وه که پښتانهٔ خپلو کښې سره کښېني او د صمدخان سیاسي روزنې فلسفه خپله کړي کومه چې دوی پهٔ دریو ملکرو د لوی بین الملي طاقت خلاف پېل کړی وه نو زر د چې موږ خپله ازادي او وطن اوګټو - که موږ د دوی ژوند اوګورو چې هغه پهٔ څومره سختو حالاتو کښې کوم ډول سیاسي مبارزه کړی ده نو موږ نن د یویشتمې پېړۍ د تقاضې مطابق د پښتنو ښهٔ ژوند دپاره پهٔ اسانه لار پیدا کولی شو خو شرط دا دې چې قام د ځوانانو نظریه داسې جوړه نهٔ وي چې ګوند یې څهٔ کوي او دوی پهٔ هغه پسې پهٔ پټو سترګې تګ کوي د کارکونانو هلې ځلې به ګوند پهٔ شکل کښې هله وي چې پهٔ صحي مانا سره قامي کار کوي او که پهٔ قامي کارونو کښې بدلي راتلله نو کارکونان به یې نشاندهي کوي ځکه چې د دوي هلې ځلې به شخصي یه ګوندي نه بلکې قامي وي -


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د بلوچستان قامي غونډه چې دوی یې صدرات کړی وو دغه غونډه د بلوچو او پښتنو په شریکه غونډه وه چې په سندھ کښې شوی وه ـ دوی خپله لیکلي دي چې:

"لومړي کامي غونډه او زما وینا د شان د بلوچستان د خلکو پښتنو بلوڅانودا لومړي قامي غونډه دبلوچستان دسرکاري پولي(سرحد)نه باهراودسینده او پنجاب دبلوڅانو په شراکت د خیرپوردریاست دنواب خیموسمان اومالي مرسته د بلوچستان اوسینده لویوزمیندارو‌سردارو‌خیلوپه پیسو اوکومک زما په مشري کي پیل سوله ۶۸"

یوسف علي خان مګسي په ۱۹۳۲ کال کښې د خپلې صوبې نه لرې په ملتان کښې د ال انډیا بلوچ په نوم یواجلاس رابللی تابعیه اوکړه چې دوی ته یې هم بلنه ورکړه خو صمدخان بلنه په دې اونهٔ منله چې دا د بلوچو په نامه وه خو د دوی په تجویز د ټول بلوچستان په نوم اجلاس راوغښتلی شو چې خان شهیدخپله هم پکښې ګډون وکړو او د ډول د پنجاب صوبې په ملتان ضلع کښې د پښتنو او بلوچو په ورمبی ځل په شریکه یو لوی اجلاس د دوی په صدرت کښې تر سره شو چې په دې وخت کښې د پینځویشت کالو وو خو د سیاسي پوهې او علمي



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بصیرت له وجې چې دواړه قامونو سردران، نوابان، مالکان موجود وو د دې باوجود دغه اعزاز د دوی په نامه شو وو ـ دې باره کښې انجینئر اسد ترین داسې لیکلي:

"خان شهید نے یہ تجویز پیش کی کہ پشتونوں اور بلوچوں کے نام سے ایک مشترکہ جماعت بنی چاہیے جو پشتون اور بلوچ مقصد کا پرچار کرے اس کے بعد دسمبر ۱۹۳۲ کی جیکب آباد، بلوچستان کے نام سے ایک کانفرنس کے انعقاد کا فیصلہ کیا گیا تھا یوسف مگسی نے دوبارہ تار کے ذریعے اطلاع دی کہ کانفرنس صرف بلوچوں کے نام سے نہیں بلوچستان کے نام سے ہوگی اور صدارت کے لیے آپ کا نام تجویز کیا ۔ ۔ ۔ ۔اسطرح آل انڈیا بلوچستان کانفرنس، آپ کا نام تجویز کیا۔ ۔ ۔اسطرح آل انڈیا بلوچستان کانفرنس پشتون بلوچ خطے کے حقوق جغرافیائی زبان کلچر یعنی بلوچستان میں اصلاحات ریاست قلات (بلوچستان) میں سیاسی آزادی اور ہندوستان کی مکمل راہ متعین کرنے اور یہاں کے لوگوں کی حالات سے ہندوستان اور دنیا کو امادہ کرنے کے لیے انقلابی اقدام کا اغاز کی ۶۹"

کوم سیاست چې عبدالصمدخان اچکزی په ډېرو کمو ملګرو پیل کړې وو او کومې غوښتنې یې وی هغه اواز یې تر هند، سنده پنجابه پورې ورسولو سیاسي هلې ځلې روانی وی خو د سرکار له خواه مشکلات هم وو نو د بلوچو او پښتنو نظر چونکې د دوی په سیاسي اهدافونو وو نو ځکه د غونډه هم د


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دوی په تجويز د ال بلوچستان په نامه راوبلل شوه چې صدارت يې هم دوی اوکړو خان شهيد څيرک انسان وو د قام په مانا په ازادۍ پوهېدلو ګڼي په ټول بلوچستان يعني پښتون بلوچ صوبه کښې په دواړو قامونو کښې نوابان،مالکان،سردران موجود وو خو د دوی سياسي پوهه بصيرت وو چې په پينځويشت کالو د خپلې صوبې نه بهر په بله صوبه کښې د پښتنو او بلوچو په شريکه کانفرس کښې صدرات کوي دغه باور پيدا کول ټينګې ارادې،شجاعت،ايمانداري،سوچه سياست وو چې دوی يې د دې جوګه کړی وو چې د دوو قامونو تر منځ د پښتون بلوچ سياسي واکمنۍ دپاره کانفرنس صدرات دوی ته سپارل کېږي۔

بايد مونږ خپل ګرېوان ته اوګورو چې په تاريخ کښې څومره زمونږ ملي اتلان تېر شوي دي د هغوي په ژوند کښې مونږ ملګرتياوې نه دي کړی کله هم د وخت په مناسبت مو د خپل رهبر ملاتړ نه کړی نو مو د هغه لار خپله کړی چې د ژوند رهنمايي ترې اوکړو اتيه کاله وړاندې په سوونو ميله لرې خلق يې پېژني هلته د دوو قامونو مشري کوي مونږ يې په خپل کور کلي کښې نه پېژنو هغوي قام دپاره کور، کلی، مور، ښځې،


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

زامن د پروديو په اسره پرېښې وو- د خپل تاريخ نه سبق نهٔ اخلو ځکه مو ژوند ورځ په ورځ د سختيو سره مخ کېږي په دومره غني وطن کښې په لاکهونو پښتانهٔ په بهر ملکونو کښې مزدوري، پسې ورک دي خپل وسائل،ژبې،تاريخ،کلتور نه نهٔ خبره دي-

دوی چې د بلوچستان کانفرنس نه واپس راغی نو سرکار پرې الزام ولګوو اودرې کاله يې قيد کړو-

خان شهيد پرېس ايکټ دمنظوري د پاره د جېل په دوران کښې درخواستونه وکړل او د دوی په زيار باندې پرېس ايکټ منظور شو کله چې د جېله رايله شو په ۱۹۳۸کښې د "اسقلال" اپهٔ نامه اخبار په اردو، پښتو کښې شروع کړو چې دې باره کښې عبدالرحيم مندوخېل په کابل سيمينار نامي مقاله کښې داسې ليکلي دي:

"خان شهيد چې له بنده څهٔ رايله سونو ملګري يې راغونډ کړل چنده يې اوکړله اوداستقلال په نوم يې داخباردرايستلو کوښښ پېل کړوديوسف علي خان مکسي دقلمي نوم"عزيز"په مناسبت سره يې"عزيزاليکټرک پريس په پرنس روډ کوټه کښې ولګوۀ - اوبيايې دکال ۱۹۳۸په لومړي ځل له کوټې په خپل ادرات کې پېل کړ ۷۰"


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

یاده دې وي چې پهٔ پښتون بلوچ دواړه ولایتونو کښې اخبار ایکټ نهٔ وو ځکه اخبار چا نشو چلولې خان شهید پهٔ جېل کښې وو چې د پرېس ایکټ دپاره یې درخواست دائر کړو چې منظور شو نو دوی چې د جېله رایله شو نو د استقلال پهٔ نامه یې اخبار پېل کرو چې پهٔ ټول ولایت کښې وړمبی اخبار وونو ځکه پهٔ دې وجه دوی پهٔ بلوچستان کښې بابائے سیاست او بابائے صحافت پهٔ نامه هم یادېږي - د دوی سیاسي شعور او باور دومره زیات وو چې سرکار یې یوه لار بندول غوښتل دوی به متبادل لاره ویستلې وه صمدخان به یې زورولو کور وړو ماشومانو د مرګ، جائیدادونو د ضابط کولو هر بېې به یې ورسره کولې څوک به ویرېدل نږدې به نهٔ ورتلل -

خان شهیدپهٔ دې پوهېدلو چې خلق د یو بل نه لرې دي په دې ډول به اسانه سره خپل اولس ته د انګرېز سرکار د ناوړو کارونو ظلمونو قام ته د ازادۍ لار ښودل د غلامۍ نه خبرول خلاصول د اخبار پهٔ زریعه به پهٔ اساني سره پهٔ قام کښې بیداري راولي خو د انګرېز سرکار او د هغه مراعات یافته خلقو دې ته نهٔ ایله کوو چې ګني څوک دی د سرکار خلاف کار وکړي -

دوی دواړه وروڼه او بل توربور ایوب خان اڅکزی چې دکلي د جومات نه یې سیاست شروع کړی وو د ایوب خان اڅکزی د


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ژوند او پیداوښت پهٔ څهٔ ونهٔ لیکم نو دغه به زیاتې وي د دوی ژوند پیدا ښت پهٔ حقله پرفېسر سیال کاکړ لیکلي دي:

## ایوب خان اچکزی

د پښتو دغه نومیالي سیاستمدار پیاوړي لیکوال او ملي شخصیت د ۱۹۰۶کال پهٔ شاوخواکښې د سهیلي پښتونخوا پهٔ گلستان کاریز نومي کلي کښې پیدا شو۔ نومړې د یعقوب خان زوي د سعادت ملوک خان لمسې او پهٔ قبیلوي لحاظ ارزبېگي بیا جلېزي وریسې حمېدزي تر دې لوړگوجین زي او پهٔ لوي سر کښې اچکزی دی[۷۱]"

پهٔ دې وخت کښې دوی پهٔ خپله ورور يې او يو ملگری ایوب خان ځو واره جېل ته هم لاړل ځکه چې دوي د بلوچستان پهٔ حقله د هند کانگرس مشرانوسره لیدل کتل روان کړي وو چې د وطن د ازادۍ د پاره سیاسي ډله جوړه کړي ۔


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# انجمن وطن پارټی


صمد خان په ۱۹۰۷ کښې زیږدلی وو په ۱۹۳۸ کال یې د "انجمن وطن" په نامه سیاسي ګوند جوړ کړو په دې وخت د دوی عمر یودېرش کاله وو د تېر تاریخ سره د خپلې تجربې په رڼا کښې په پښتون افغان وطن کښې یو د داسې ګوند بنیاد کېښود چې پښتون قام ته د ژبې، کلتور، تاریخ، جغرافیې، وسائلو پېژاندنه کوي پښتنو ته یوه داسې لار چې تر تل تله ملي هدفونو حاصلولو دپاره خپل ګوند چې ملي بېرغ له لارې په سیاسي، تنظیمي، شعوري توګه د ژوند سفر روان وساتي ۔ د پښتنو په سیمه هغه وخت "انجمن وطن" واحد ګوند ووچې خپل بېرغ یې وو هغه په درې رنګونو مشتمل وو سور، سپین، شین په منځ کښې یې منوګرم هم وو ۔

دوی غوښتل چې قام په یو منظم تنظیم کښې راغونډ شي او په سیاسي طریقه قام پوهه کړی شي د ملګرو په خوښه یې په بلوچستان کښې(یاده دې وي چې دلته بلوچستان او ورسره برټش بلوچستان چې خان ته جله ریاست وو او د موجوده بلوچستان برخه نه وه)په ۱۹۳۸ په ۲۰ مئ کښې د "انجمن وطن"



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

په نوم د سياسي ګوند بنياد کېښودچې صدر يې هم صمدخان وټاکل شو ياده دې وي دې نه مخکښې په تاريخ کښې مزاحمتي تحريکونه وو او تېر شوي وو خو په تنظيمي ډول سياسي ګوند نهٔ وو چې خالص د پښتون کاز دپاره کار کوي:

"په کال ۱۹۳۸دمئ په مياشت کښې خان شهيد او د دوی ملګروله ډېرو هلو ځلو ورسته په لومړي وارد پښتنو دقامي خپلواکي اولسي واک دپاره"انجمن وطن"په نوم يو سياسي ګوند جوړکړو چې خان شهيد يې صدروټاکل شو۷۲"

صمدخان اڅکزی د ورکوالي نه تر "انجمن وطن"پورې د کومو مرحلو راتېر شوی دی، څنګه سياست ته راغلی په کوم ډول يې د عملي سياست اغاز کړی فېرنګيانو ډېر په چال چلاکۍ سره په قيد و بندکښې د ولس نه لرې وساتلو دوی غوښتل چې قام په سياسي عمل پوهه شي که هر څو دا ګران کار وو څکه اولسونه سره لرې وو ميډيا ،ټرانسپورټ نهٔ وو په جلسه جلوس بنديز وو خلقو ته رسوول ګران وو خو دوی چې د ډېرې لوړې حوصلې خاوند وو بل هر يوکار يي په مينه احلاص سره کوو سرکار ډېر زورور وو وسائل هم ورسره وو خو په خان باوري وو


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د دوی دا کوشش وو چې پښتون بلوچ دواړه په شریکه د خپل
قام وطن دفاع وکړي د قام په ګټه پوي شي "انجمن وطن"
خپل کار روان وو په اولس کښې ډېر مقبول شو ځکه چې خلقو
یوه د حق لاړ غوښتله خوځوک پرې پوهېدل نه چې د دې زورور
قوت خلاف څنګه او له کومه ځایه مبارزه پېل کړي - خو چې
کله دوی سره د ملګرو په شریکه "انجمن وطن" بنیاد کېښود نو
خلقو ژوند تېرول او د ازادۍ ومندله:

ډېر زر او جماعت په اولس کښی مشهور شو او چې کله کال
پس د انجمن وطن سالانه غونډه په کال ۱۹۳۹کښې په کوټه
کښې منعقد شو نو د حاضرینو تعداد په ورومبي نشست کښې
یو زر وو او په اخري نشست کښې اته زره وو- ۱: هغه وخت
تېرشو چه خلګو به د وطن په مظلومۍ اوپستۍ باندي د غم
ژړاژړله اوس د اوښکو بهیولوزمانه تیره شوه اوس د دی حالت
په عزت خوشحالي او آزادۍ د بدلولو سوچ په کار دی د خپلو
غمونو غم پکار دی او د ټولونه لوئے غم غیرملکي غلامۍ ده.
۲: انجمن وطن به د دی غیرملکي غلامۍ دخاتمی یوه زریعه
ګرزول وي-


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۳: انجمن وطن د سرکار او د هغه پیدا کړو سردارانو د کبر او غرور او استبدادي نظام نشه کمزوري کړی او په اولس کښې ئې د بیدارئ احساس زیات کړی۔ ۴: چونکه نه فوځ نه اسلحه نه دولت او نه پوره بیدارقام لرو چې حفاظت پرې وکړی شو نو زموږ طریقه به دعدم تشدد وي۔ ۵: انجمن وطن به خالص د جنوبي پښتونخوا تنظیم وي د دی ځای د اولس دمفادو دپاره به جدوجهد کوي د دې جماعت په لویولویوپارټوکښې وابسته کول او د مذهب په خوشنمانوم اودنورو ملکونو د مسلمانانود امداد په نوم مونږ په دښمنانو کښې زیاتوالی راولي[۷۳]"

کوم تحریک چې صمد خان په دریو ملکرو شروع کړی وو هغه ته سرکار هم حېران وو او هغه خلقو چې په دوی پورې به یې خانده کوله چې درې تنه چې د کونډې ښځې زامن دي څنګه به خلق راټولوي او یو ګوند به جوړه وي خو چې خلقو ولیدله چې په اول نشست کښې زر تنه یو ځای راجمع شول دې سره د خلقو ارادې او ذهنونو ومنل چه کوم ډر یې په زړونو کښې وو هغه ختم شو صمدخان په صدارتي مجلس کښې د "انجمن وطن" سیاسي او تنظیمي کار وراندې بوتلو د پاره ټاکل شوو هدفونه


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پروفيسر شوکت ترين صيب خلقو ته وړاندې کړل - په دې باره

څه په دې ډول ليکي:

"صوبہ کی پرائمری، ثانوی صنعتی اور اعلیٰ تعلیم کی ضرورت اور اس کی راہ میں تازہ حائل شدہ مشکلات ملک کے تباہ حال کسانوں اور مزدوروں کی بہتری جس پر انجمن وطن کو خاص توجہ دینی چاہیئے - خاتمے سے قبل ایک بار پھر آپ سب کا شکریہ ادا کرتا ہو اور درخواست کرتا ہو کہ اپ انجمن وطن کونسل، اور جغرافیائی تعصب سے صاف رکھ کر اپنی اندر وطنی اور غیر وطنی مخالفین کے لئے رواداری، مروت اور انسانی ہمدردی پیدا کریں - ملک کے سیاسی اقتصادی اور مجلسی "انقلاب" کا سب سے سہل بلکہ واحد راستہ یہی ہی انقلاب زندہ باد۴۷"

که چېرې مونږ د خان شهيد فکري شعور ته پام وکړو چې دوی په هغه زمانه کښې قام دپاره لار يه کومې غوښتنې لرلی که مونږ چېرې د دوی سياسي شعوري سفر په نظر کښې ساتلی وی بايد چې مونږ به نن د ډېرو سيالو قامونو په صفونو کښې ولاړ وی دلته يو سوال په پارتی پورې اړه لري څکه چې عام اولس ته د خان شهيد سياسي مبارزه او فکري شعوري رسولو کښې دوی هغه کردارد پښتنو په ژوند کښې نه دې مخکښې کړی کوم فکر چې صمدخان د "انجمن وطن" په صدرتي مجلس کښې وړاندې کړی دی -


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## د زما زاتي نظر دی

پۀ برټش بلوچستان کښې د"انجمن وطن" پۀ حقله دوی ځپله داسې ليکي:

"پۀ ۱۹۳۸کي د انجومنی وطن (انجمن وطن) پۀ لومړي واکيڅ ارتم (سياسي تنظيم)جوړښت پلي سود دیګوند موخه (نصب العين)په برټش بلوچستان کښې د وختي سموني لاثيني اصلاحات راوړل نفاظ وه روغه او زغم (عدم تشدد)او د وختي لاړې چارې(ائيني ذرائع)د دی آر(اصول)وو او زه د دی مشر ووم۷۵"

صمدخان اچکزی پۀ درې دېرش کالو کښې پۀ ټول بلوچستان کښې چې کوم سياسي بدلون راوست د فېرنګي تپل شوي نظام پۀ خلاف يوخواه پۀ ټول هند کښې او پۀ پښتون ،بلوچ وطن کښې سياسي مبارزه تاؤده او فضا برابره شوله پۀ داسې وخت کښې فېرنګيانو خپل چال او د دوی مراعايت يافته خان،نواب،ملک پۀ شکل کښې د قامي سياست لاره نيولو دپاره د قام،او مذهب پۀ مانانعره پورته کړله چې تر ننه پورې دغه لړۍ روانه ده چې د هر څو ظلمونو، ستړيوستومانو،


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

قیدوبند د ښکاره دښمن پر ضد مبارزې ته خلق شق په نظر ګوري چې په دې جنګونو سیاسي مبارزو کښې چې خپل قام ته ښۀ ژوند غوارې په لکھونو پښتانۀ بې کوره،بې دره ،شهیدان شول او له شهیدان کېږي۔

د "انجمن وطن" ګوند پس چې سیاسي هلچل روان شو څۀ په دې ډول دي:

"اسی سال میں ۲۲جون ۱۹۳۸ میں خان صاحب نے اس مقصد کے لئے انجمن وطن کے نام سے جماعت قائم کی۔ ۔ ۔ ۔ ۔اس کے ساتھ لوکل مسلم ایسو سیئشن کا دائرہ کار برٹش بلوچستان رہاہے جبکہ قلات سے نیشنل پارٹی ریاست قلات میں سیاست کر رہیں تھی اس دور میں جمیعت العلماہند بھی صوبے میں آئی۔ ۷۶"

دوی قام د یو ولی، ورورولی۔ او د تنظیم په لاز روان کړو ګوند سیاسي هلې ځلې تېزې کړې خپل اواز تر نوره پښتنو رسولو دپاره یې د"صوبه سرحد"موجوده خیبرپښتونخواد کانګرس مشر خان عبدالغفار خان باچاخان د بلوچستان په دوره راوغوښت چې د بولانه تر چترله پښتون یو پهوستون جوړ شي دوی لیکي:

"انجمن وطن" اعلان اوکړ چې باچاخان دانجمن وطن په بلنه


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

راروان دی اودصوبي دلرې پرتو سیمو دوره به کوي اودانجمن د
بېرغ د رېولوپه دستوره کښې به ګډون کوي باچاخان
دستمبردمیاشتې پرنولسمه نېټه دریل دلارې کوټې ته
راورسېدو اودرې سوه کسانو پررېلوې سټېشن ده ته هرکلی
وکړو دی نیغ دخان شهید کورته ولاړې څکه دهغهٔ پهٔ بلنه راغلې
وواو د هغه میلمه ووباچاخان خان شهید په میلمستیا دټولې
سهلي پښتونخوا کلوکلوته ولاړې او هلته یې د انجمن وطن
غونډو ته وېناوې اوکړې[۷۷]"

د صمدخان سیاسي فکر او ویژن ورته معلوم وو چې پهٔ کومه لار
دوی راون وو دغه لار به یوه ورځ ټول پښتون قام پهٔ یو ګوند او
یو بېرغ کښې راغونډ کړي خو سرکار د اولس پهٔ منځ کښې نهٔ
پرېږدو -

باچاخان د کانګرس د پښتنو مشر وو خو دلته د "انجمن وطن"
ګوند پهٔ بلنه د قام یو ولی د ژبې پهٔ تړون او د فېرنګي سرکار
نه د ازادۍ غوښتلو د پاره یې جلسې او جلوسونه وکړل، پهٔ
۱۹۳۹ کښې نړۍ وال جنګ پېل شو "انجمن وطن" پهٔ دغه وخت
کښې د کانګرس سره نهٔ سیاسي اتحاد او نهٔ څهٔ تړون وو خو پهٔ
برټش بلوچستان کښې د انګریزانو خلاف مبارزه سیاسي


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

نظریات د "انجمن وطن" د نظامت لاندې دوی لرې خایونو ته ورسول -چې کله په هند کښې "هند چهوړ دو" تحریک په زور شو نو دوی هم په بلوچستان کښې د کانګرس سره د "انجمن وطن" غړي هم میدان ته راوویستل - صمدخان اڅکزی د کانګرس غړی نۀ وو خو بیا هم مسلم لیګیانو د هندو او د هندوانو ایجنټ ګڼلو:

"دبلوچستان برټش ګورنراودهغه دباندې زماانډول مخالفین موسلیم لیګیان تل ماته هندو او د هندو ایجنټ او په دغه ډول نوموړیه بولم چې نه خو زه د کانګرس غړی سوی یم اونه د ۱۹۴۶تر نیمائي پورې په بلوچستان کي دکانګرس ګوند وو. زموږ د ګوندهم د کانګرس سره هیڅ دوختي(ائین) اړیکي نه وی‌زموږ رویوازې داووچې ځکه چې موږدبرطانوي سرکارڅخه تنګ راغلي وو - انجمونې وطن د دی سربېره چې دده دکانګرس سره هېڅ اړه نه وه،ددی‌غورځنګ لپاره د خپلو پینځوسو غړوخسمانی(خدمات)وړاندې کړی هغسې موږ په ۱۹۴۲کې د"هندپرېږدئ" پۀ غورځنګ کې پۀ خپله برخه واخیسته۷۸"

صمدخان اڅکزی دې ته پام وو چې فبرنګي ته د تلو سره د



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پښتنو د مستبقل لاره هم وټاکله شي ـ د هند نه دانګرېزانو وېستلو دپاره سياسي غورځنګ په ټول هند او پښتونخوا کښې روان وو خو د پښتنو فکر په ځای پاتې وو په داسې وخت کښې چې پښتنو د ازادۍ وخت رانږدې شوی وو په دې سلسله کښې د خېبر پښتونخوا د کانګرس غړي باچاخان سره خط او کتابت اوکړل چې د پېښور ماهنامه پښتون مجاله کښې چاپ دي او د پښتنو د ازادۍ په اړه يې خپل دريغ ورته وړاندې کړو د انګرېز د تلو سره که پاکستان وي او که هند وي په دې کښې د پښتنو د شناخت په مناسبت يوه مشترکه او خپلواکه صوبه جوړول غواړي شوکت ترين د ماهنامه پشتون پېښور اپرېل ۱۹۴۷ بيان ليکي:

"ایسے حالات میں ہم پشتونوں کے لئے خصوصاً ازاد قبائل اور بلوچستان کے پشتونوں کے لئے چاہئیں کہ اس بات پر غور کریں اور جتنا جلدی ممکن ہو سکے اپنی راہ کا انتخاب کریں صوبہ سرحد کے پشتونوں کو بھی چاہئیں خواہ وہ لیگ میں ہو یا کانگرس میں وہ اپنی پارٹی کے مفاد کو پشتون قوم کے مفاد میں ترجیح نہ دے اور اس مسئلے پر پشتون قوم کو متحد کرنے کی کوشش کرے ۷۹"

د کانګرس سياسي غوښتنې د فرنګيانو نه خلاصون وو فرنګي، چونکې د مسلمانانو هندوانو په شريکه دښمن وو خو


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې مسلم لیګ ګوند جوړ شو نو د هندوستان تقسیم خبرې
راغله نو دغه نظر یې وړاندې کړو چې مسلمان او هندو پهٔ
مذهب پهٔ قام سره بیل خلق دي دې خبرو سره مسلمانو هندوانو
پهٔ منځ کښې نفرت او تقسیم زور واخیست فرنګیان پهٔ دې
پوهه وو چې موږ به د دې ځایه ځو نو خپل فکري کار یې سرته
ورسولو چې پهٔ ټولو قامونو کښې یې د قامونو پهٔ نسبت پهٔ
مختلفو نظریو سره خلق ووېشل.

صمدخان غوښتل چې د زرګونو سرشیندلو قربانیو ګټه ضائع
نهٔ شي او خواري یې ورکه نهٔ شي،شوکت ترین پهٔ یوه مقاله
کښې دې باره کښې لیکلي دي:

"انجمن وطن اوخان شهیدپه دې تکل ووچې باید هندوستان
تروېش ورسته پښتانه یوملي وحدت جوړکړي او هر چا زیاتو
سر ښندونو ورکولو وروسته باید د دې سر ښندوګټه هم ترلاسه
کړي خان شهید په دې حقله باچاخان سره په پرله پسې ډول
تماس کښې پاته شوی دی په دې حقله یې د ټولو پښتنو په نامه
تفصیلي تجویزونه هم وړاندې کړل چې نن هم زمونږ د ملي
یوالي دپاره د هغو پرته بله لار نشته خان شهیددا وړاندیزونه


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پښتونستان" کښې داسې ليکلي چې خان شهيد د بنوقرارداد
په حقله چې په يوه انټرويو کښې داسې فرمائي:

" ہم نے بنوں کے مقام پر جرگہ کیااور وائسرائے ہند، گاندی جواہرلال نہرو وغیرہ کواس فیصلے
سے آگاہ کیاکہ پشتون کبھی ہندوستان کا حصہ نہیں رہااورنہ ہی ہیں۔ انگریزوں نے ایک جعلی
معاہدے کے ذریعہ قبضہ کیاتھااس کے باوجودانہوں نے ہماری جغرافیائی حیثیت اور قومی شناخت
کوتسلیم کیاہے۔ اس سلسلے میں ہم نے گاندھی مولاناابوالکلام آزاد کوٹیلی گرام بھیجا؟ کہ آپ
ہمیں ایک ہندوستانی کی حیثیت سے آگے لے جارہے ہیں ہم توبے گناہ لوگ ہیں ہمیں آپ
مشکلات میں ڈال رہے ہیں ہم افغان لوگ ہیں ہندوستان کا کبھی بھی حصہ نہیں رہیں آپ براہ
مہربانی اس سلسلے پر ہماری مدد کریں ہم نے آزادی کے مسئلے پر پوری ہندوستان کاساتھ دیاہے ہم
نے گولی اور قیدوبندبرداشت کی لیکن انہوں نے ہماراساتھ نہیں دیا[۸۳]"

فرنګي سرکار د تقسیم په پالیسي کښې کامیابه شو هندوانو
ځان ته ګوشې ملک شو مسلم لیګان اکثره سرکاري خلق وو نو
دوي ځان ته کالوني جوړولو دپاره په زور نور قامونه هم ځان
پورې وتړل په هره حواله پښتانه په مذهب، ژبه، کلتورتاریخ،
جغرافیه بیل خلق وو - چونکې پښتانه په زیات تعداد سره د
باچاخان په مشرۍ کښې په کانګرس کښې وو خو د تقسیم په
وخت د کانګرس مشرانو پښتنو سره هېڅ مراسته اونکړه


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پښتانه يې په ځای پرېښودل نو پښتنو په دې حواله غونډې اوکړې خو اوبهٔ په ورځي تېرې وی -

د اسلام په مقدس نوم باندې پاکستان ځان ته يوملک په وجود کښې راغلوکومو خلقو چې انګرېزانو سره سياسي جنګي مبارزی کړی وی په هغو تنظيمونو مشرانو باندې هر ډول بنديز ولګېدو اکثره مشران پاکستاني رياست جېلونو ته واچول په مشرانو د انډيا ايجېنټ او د غداری تورونه پورې شول قام او د اسلام په مانا د پښتنو قربانۍ په زلالت خوارۍ بدلی شوی په داسې حالاتو کښې د پښتنو د حقوقو دپاره غني خان چې د باچاخان زوی وو د "زلمی پښتون" په نامه يو تحريک جوړ کړی وو هغو ميدان ته راودنګل د پښتنو خپلواکه صوبې د پاره چمتو شول او په پاکستان کښې ننه د پښتنو دپاره يې د يو رياست غوښتنه وکړه دې تحريک د پښتنو مشرانو قبائلو ملاتړ اعلان اوکړو خو باچاخان بابا دوی دغه کار وغندلو چې زموږ سياسي غوښتنې په تشدد نه بلکې په عدم تشدد دي چې فېرنګيانو سره مو دغه مبارزه اوکړه پاکستان خلق زموږ مسلمان ورونه دي خپل حق به ضرور راکوي خو له بده مرغه

www.sikaraam.com



Scanned with CamScanner

ازادي پهٔ غلامي بدله شوه چي تر ننه پوري پښتنو ژوند ،عزت

سره لوبې کېږي - پروفېسر عبدالغني غنوليکلي دي:

" خان عبد الغنی خان کی قیادت میں راضاکارو کا ایک جھتہ زلمے پشتون کے نام سے بنا تھا۔ یہ جھتہ مکمل طور پر اسلحہ سے لیس اور منظم مشق وترتیب یافتہ اور اسکی فوجی تنظیم کے امور سنبھالے ہوئے تھے۔ زلمے پشتون نے پیشکش کی کہ گروپ فی الحال پچیس ہزار مسلح، عین نوجوان اور پشتون جوان پر مشتمل ہے اور دیگر جس قدر بھی ضرورت ہو جوان تیار ہیں ہمیں اپنا حق دوسروں کے رحم وکرم اور انصاف کے حوالے نہ کریں۔ اس حق پر لازما ہمارا خون بہے گا تو سب سے بہتر یہ ہوگا کہ ہم ابھی ابھی اپنا حق اپنی زور وبازو حاصل کرلیں۔ پشتون کے حق کے حصول کے لیے یہ راہ سب سے مختصر اور نزدیک ہے۔ لیکن باچاخان نے کہا کہ ہمارا حق ایک ثابت شدہ بات ہے۔ اور دوم یہ کہ فرنگی ہمارا حق نہیں کھاسکتے دوسرا کون ہوگا کہ وہ کھائے گا بہتر یہ ہوگا کہ ہم اپنی جدوجہد قانونی راہ اور عدم تشدد کے بنیاد پر آگے لے جائے ۸۴"

د فېرنګي سرکار وخت ته موږ پام وکړو چې پهٔ هغه وخت کښې کوم سياسي ګوندونه وو پهٔ دې ګوندونو کښې ګټې د کوم قام پهٔ برخه ورسېدلې سرکار چلاکي. او زموږ بې خبري وه چې پښتنانهٔ بلوڅان يې د پنجاب او مسلمانان يې پهٔ هند کښې د هندانو غلامان کړل -

فېرنګي د ټګ سره پښتنو ته يوه لار جوړول پهٔ کار وو پهٔ دې



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وخت کېنې د افغانستان کردار هم ضروري وو ځکه چې د
انتقال پهٔ وخت که لږ کار شوی وی پښتانو خپل د ژوند تېرولو
واک او اختیار ګټلې شو چې تل دپاره به د زورېدلو، ورکولو،
مرکولو، بې کوره کولو نه خلاصون لاړ موندلی وی خو باچاخان
چې کومه فلسفه د انګرېزانو سره شروع کړې وه پهٔ پاکستان
کېنې یې هم پهٔ هغه رنګ غوښتله چې پایله یې دا شوه چې
پښتنو مشران یې پهٔ جېلونو اومنډل ډېرو وطن پرېښود پهٔ
"انجمن وطن" پهٔ "استقلال" اخبارونو بندیزونه ولګېدل۔



Scanned with CamScanner

## ورور پښتون پارټي

فېرنګیانو نه چې کومو قامونو ازادي، غوښتله د هغو قامونو ژوند د تقسیم پس د پر د سختو سره مخ شو د عام خلقو سوچ دا وو چې د اسلام په نامه د مسلمانو څان ته ملک جوړ شو خو چې کومو مبارزینو د فېرنګیانو په خلاف مبارزه کړې وه هغې ته معلومه وه چې پښتنو سره یوه بله لوبه اوشوه - د پاکستان جوړېدو په وخت صمدخان په کور کښې نظر بند وو او په ۱۹۴۸ کښې پاکستان لیویز او پولیس په خپل کور کښې اونیو او سرکار شپږ کاله د بند سزه ورکړه -

د شپږ کالو پس چې د جېله رایله شو نو د ملګرو په خوښه یې په پاکستان کښې ننه پښتنو د ژوند ژواک، ژبه، تاریخ، وسائل، جغرافیه ساتلو د پاره "ورورپښتون" په نامه خپل ملي ګوند جوړ کړو چې صمدخان یې مشر وټاکل شو - "ورورپښتون" په پاکستان کښې پښتنو د حقوقو ورمبی ګوند وو چې ائین دستور او خپله جهنډه یې لرله - په دې نه مخکښې پښتنو د "انجمن وطن" ګوند وو چې ائین دستور او خپله جهنډه یې لره.

د ورور پښتون په اړه دوی لیکلي دي:


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"که څهٔ هم پهٔ ۱۹۵۴ کښې شپږو کلونو پرله پسې بندخخه ایله کېدو پور مهال زهٔ د پرناجوړه وم او د ترخې(پتنی) او بدو کې(گرده) پهٔ خواري اخته وم سرکاري او د درمانیانو(ډاکټرانو) "بورډ" د ترخې دغې خپرلو(اپریشن) سلا راکړې وه، خو زما پخواني ملګري او خوانان پور ما راټول شول او پهٔ داناجوړې کښې یې، زما سره د بلوچستان(برټش) پهٔ لانجو خبرې پېل کړې، د څهٔ مهال وروسته یو ګوند "ورور پښتون" (پشتونبرادرهوډ) پهٔ نامه جوړ کړل سوچې په پاکیستان کې دننه د پښتنو یو داسې خپلواکه ټلواله(وحدت) جوړ کړل سي، چې سره نښتې د پښتنو پورسیمو خپورسي او دا یولې "وحدت" د روغې جوړې او زغم او د دختې لارو جوړ کړل سي زهٔ یې دی اړتم(تنظیم) "کنوینر" وټاکلم ۸۵"

د عبدالصمد خان اچکزی سیاست پهٔ دې بنیادونو وو چې قام پهٔ سیاسي، علمي، شعوري، تنظیمي لار روان کړي چې پهٔ پاکستان کښې داسې یو سیاسي ګوند چې خالص د پښتون قام د حقوقو دپاره سیاست کوي هله به پښتون قام ازاد او د ښهٔ ژوند تېرولو جوګه شي۔

د "ورور پښتون" پهٔ حقله شوکت ترین لیکلي دي:



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

"ورور پشتون" وہ سیاسی اور جمہوری تحریک ہے جس نے پاکستانی سیاست کی افق پر ان مٹ نقوش چھوڑے ہیں۔ اس کا قیام ۲۴ اپریل ۱۹۵۴ کو عمل میں لائی تھی اور دسمبر ۱۹۵۶ میں پاکستان نیشنل پارٹی کا حصہ بنی ۸۶"

"ورور پښتون" ګوندپهٔ ۲۴م اپرېل ۱۹۵۴ کښې جوړ شو چې صمدخان یې صدر وټاکل شو. د "وروړپښتون" کابینه او د منشور کمیټې. نوموړه شوکت ترین د "وروړپشتون" نومي کتاب کښې داسې لیکلي دي:

## قیام: ۲۴ اپرېل ۱۹۵۴

۱: صدر "خان عبدالصمد خان اڅکزئ"

۲: جنرل سېکرټري "محمد هاشم خان غلزئ"

۳: نائب صدر "مولوي رحمت الله مندوخیل"

۴: ناظم شعبه نشرواشاعت "فضل احمد غازی"

## منشور بنانی والي کمیټي

۱: خان عبدالصمد خان اچکزیؒ۔ ۲: محمد ہاشم خان غلزیؒ۔ ۳: مولوی رحمت اللہ۔ ۴: ملک عثمان کاسی۔ ۵: سائی کمال خان شیرانی۔ ۶: ملک امیر جان۔ ۷: محمد اکبر خان اچکزیؒ۔ ۸: ملک عبدالعلی کاکڑ۔ ۹: ملک محمد یوسف پیر علي زیؒ۔ ۱۰: گل حسن خان مندوخیل۔ ۱۱: عبدالخالق کاسی۔ ۱۲: کمال الدین شیرانی ۸۷"



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د پښتون قامي تحريک "ورورپښتون"د دغو غړو چې کوم د پارټي منشور وټاکلو او د هغه وخت د "ورورپښتون" پارټي مرادونه په دې ډول دي:

## ورورپشتون کی اغراض ومقاصد

۱:پاکستان کے اندر متصل پشتون علاقوں پر مشتمل پشتونستان کے نام سے ایک خود مختار صوبے کا قیام اور پشتونوں کے درمیان بھائی چارے کے جزبات کو فروغ دینا۔

۲:بلوچستان میں تمام پشتونوں کی زندگانی، دین، زبان، ثقافت، گزربسر اور تعلیم وتربیت کی ترقی کے لئے کسی لالچ کے بغیر محنت اور جدوجہد کرنا۳:پاکستان کے اندر دیگر ہمسایہ پشتونوں کے ساتھ مشترکہ معاملات میں صلاح ومشورہ کرنا اور ان مشترکہ معاملات کے فروغ کے لئے ایک دوسرے کی مدد کرنااور اپنے ملک پاکستان کی خیر خواہی چاہنا۔

۴:خدا کی مخلوق کا خدا کی بتائے ہوئے راستے (شریعت) کے مطابق کسی لالچ یا طمع کے بغیر خدمت کرنا، جیسا کہ پشتون ولی اور پشتونوں کی قدیم تاریخ سے عیاں ہے ۔ اور خدا کی بندو بالخصوص پشتونوں کو نیکی مثلاً سچائی، غیرت، ہمدردی، وسیلہ رحمی اور صلح کی طرف راغب کرنا۔

۵:یہ مقاصد قانونی، آئینی ذرائع سے حاصل کیئیں جائینگے اور کسی بھی مرحلے پر برداشت اور عدم تشدد کو ہاتھ سے جانے نہیں دیا جائے گا۸۸"

پاکستان د پنځو قامونو مشترکه ملک دی هر یو قام په خپله تاريخي خاوره اباد دی د پاکستان د جوړېدو سره سم پښتون


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

قام د ډېرو مسلو ښکار شو، کلتوري، مذهبي، ژبني، تاريخي
جغرافيائي حدودو ساتنې دپاره د يو ګوند جوړښت او د هغو
لاري چارې ټاکل د وخت ضرورت وو-

صمدخان او د هغو ملګرو چې کوم ډول ائين د پښتون قام د
پاره هغه وخت ټاکلې وو تر ننه زموږ مسائل هغسې زيات دي او
کمېږي نه ځکه چې موږ تل سياسي لار په صحيح مانو پېژاندلې
نه ده او په عرضي نعرو يه په لږ دولت مو خپل قام خرڅ کړي
دی -

په پاکستان کښې مېشت قامونه بيلې، ژبې، تاريخ، کلتور،
معلومه جغرافيه لري دغه قامونه په يوه لار راوستلو دپاره د
ټولو ژبني، کلتوري، تاريخي، جغرافيائي خيال ساتل، په ملک
کښې مېشت قامونو ته ابتدائي زده کړې په خپله مورنی ژبه
کښې ورکول، په ټول ملک کښې يو تعليمي معيار ټاکل، په
داخله، خارجه پاليسی کښې په فوج، عدليه کښې د قامونو
برابري ورورولي جوړول، برتري ختموول ائين او پارليمېنټ
بالادست جوړول د ژونداسانتيا خلقو ته رسوول، ټولې اداري په
خپل ائيني چوکټ کښې اوسېدل د ټولو قامونو د ښۀ ژوند


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تېرولو خوشالي او ضمانت اخیستل د ملک د چلولو یواځینۍ لار ده.

صمدخان د "ورور پښتون" سیاسي ګوند مخته بوتلو د پاره "پښتو" او "پیغام جدید" دوې مجلې شروع کړې وې دوی چې کوم ډول سیاسي کار روان کړو سرکار دې هلو ځلو ته پام شو او زر یې په خپل کور کښې نظر بند کړو او په مجلو یې هم بندیز ولګلو دې باره کښې دوی لیکلي دي:

"په جولایي ۱۹۵۴ کښې چې زهٔ په خپل کلي کي ثاربند کړم نو پهٔ مایې دلیکلو، وینا کولو او د باندې د. خلکو سره د. لیدو کتو بندي زلګولی وو، ورسره ورسره یې د ورور پښتون د دوو مجلومیاشتنۍ "پښتو" او اوونۍ "پیغام جدید" باندې دیوه کال لپاره بندیز ولګوو. خوتردې تکه زه باورلرم چې د دی غېج وه، دا ګومان کېږي چې په روشتیادمهال د بدنومه پوټ "پوبنلی" ثیري " خفیه دستاویز" له مخې د "یونټ" دجوړولولپاره لار ارولو دا لومړی ګام وو ۸۹"

د فېرنګیانو پهٔ زمانه کښې یې د "اسقلال" پهٔ نامه اخبار چلولو، لیک کول، چنده ټولول، خرڅول به یې خپله کول چې پاکستان


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

جوړ شو "استقلال" اخبار بند شو د "وروړپښتون" سياسي هلې ځلې دپاره يې "پښتو" او "پيغام جديد" په نامه دوې مياشتينۍ مجالې شروع کړې دوی د سياست سره ادبي لمن هم ټينګه نيولې وه ادب سياست سره تړلي دي د سياست لارې چارې په ليک کښې راوستل تاريخ جوړول ورسره د ژبې او ادب لمن سترول وي دغه ليک د تاريخ برخه جوړېږي چې راتلونکي نسلونه د خپل قام رهنمائي ځنې اخلي۔

صمدخان د فرنګيانو وخت او پاکستاني رياست د دواړو زور ظلم په نظر کښې ساتلو خان شهيد په دې پوهه وو چې اوس دښمن په فرنګي نه زيات ظالم دی نو دوی اکثره د ژوند حالات او داسې تاريخي ليکنې د پاکستان په جېلونو کښې کړې دي ځکه چې هغوي خان شهيد دې ته نه ايله کوو چې کوم ډول سياسي ليکنې يه کار څوک اوکړي۔ خان شهيد ځيرک سړی وو دې ته يې پام وو چې ما به سياسي کار ته نه پرېږدي خو خپل پيغام تر خلقو رسولو دپاره يې د "پښتو" او "جديد پيغام" په نامه دوې مياشتينۍ مجالې شروع کړې چې د ورور پښتون هلې ځلې او سياسي افکار خلقو ته اورسوي خو سرکار په


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۱۹۵۴ جولائي کښې دوی نظر بند کړو په مجالو يې بنديز ولګولو۔

صمد خان چې شپږ کاله يې مسلسل جېل تېر کړی وو، بيا يې د "وروړپښتون" او د مجلې کار پېل کړو نو سرکار په ملک کښې دته د ون يونټ ناروه لوبه روانه کړله اول ګزار په دوی سره نوره مشرانو او په "وروړپښتون"وکړو چې د ۱۹۵۴ نه تر ۱۹۵۸ پورې سرکار په مختلفوحيلو بهانو کله په کور کله په جېل کښې بندي وساتلو۔

"وروړپښتون" ګوند په دوو دوه نيم کالو کښې خان شهيد اکثر په کور کښې يه جېل کښې نظر بند وو خو په دې لړه زمانه کښې "وروړ پښتون" سياسي هلې ځلې او د دوی سياسي بصيرت داسې وو چې سرکار ته معلومه وه چې که صمدخان د اولس په منځ کښې پاتې شي نو پښتون قام به زر د چې په يو ګوند کښې راغونډ شي دې دپاره سرکار خپله چالکي وکړه لکه د فبرنګي په زمانه کښې يي پښتانۀ د تقسيم په معامله او دلته يي د ون يونټ په نامه اخته کړل ځکه چې دې سره دوي خپله استعماري پاليسي په ملک کښې نشوه چلولې نو ځکه يې اکثره بندي وساتولو۔



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پهٔ ۲۱م جولائي ۱۹۵۵ د یوکال نظربندي لرې کولو پس باچاخان
پهٔ بلنه خیبر پښتونخوا د دورې پر محال سیاسي مشاورت
دپاره پهٔ ۷م اګست ۱۹۵۵پېښور ته روان شو پهٔ دې دورې پهٔ
دوران پېښور،ډېره اسماعیل خان،بنو،کوهاټ او د قبائلي
علاقه جات دورې اوکړې د دورې پهٔ دوران د دوی تقریر محور
پهٔ پاکستان کښې ننه د پښتانو متحده صوبې غوښتنه وه پهٔ
۱۹۵۶ فروري د اېنټي فرنټ یونټ میټینګ په پښاور کښې
شوی وو چې د ټولو ضلعو دورې پهٔ کښې شوی وی۔
دا دې دورې پس "وروروپښتون" پهٔ ۱۷ ستمبر ۱۹۵۵ باچاخان د
جنوبي پښتونخوا پهٔ دوره راوغښتلو په ۱۶م ستمبر کوئټه ته
راروان وو ټوله کوئټه د ورور پښتون پهٔ جهنډو لړلی وه کوئټه
ریلوی سټېشن باندي خلق استقبال ته ولاړ وو خو باچاخان،
ثمین جان، شاه محمد خان یې ګرفتاره کړل یو عبدالاکبرخان
یې پرېښود۔
د دې دورې زکر د شوکت ترین "ورور پشتون" نامي کتاب
کښې ۵۳ مخ نه واخله تر ۱۰۰م پورې تفصیل سره لیک شوی
دی
د دې ټولې دورې زکر(" ورور پشتون" شعبه نشرواشاعت په یوه



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کتابچه خان "عبدالصمدخان اچکزی دوره صوبه سرحد" کښې تفصیلي لیکل شوی دی) شوکت ترین صاحب حوالې د "خپلواکۍ تړون" نه اخستې دي ما دغه لیک د شوکت ترین "ورور پښتون" کتاب نه اخیستې دي۔

د دې دوارو دورو زکر مو مختصر اوکړو ځکه چې زۀ کوشش کوم چې د دوی د ژوند لنډ حالات ملګرو ته وړاندې کړم ځکه چې د خان شهید ډېر اړخونه دي او د هر اړخ يې ځان ته ګوشی مؤضوع او کتابي شکل غواړي۔

پۀ ۲۵ اکتوبر ۱۹۵۶ کښې يې عدالت ته تفصیلي لیک ورکړو چې هغه ټول پۀ کتابي شکل کښې چاپ دی دلته زۀ يې يو اقتباس لیکم د شوکت ترین صاحب کتاب "ورور پښتون" لیک پۀ اردو کښې دې زۀ يې پښتو سره لیکم:

"د ختمولو پس بیان داسې مناسب ګڼم چې پښتنو د وحدت دپاره پښتونستان زما د ژوند ارمان دی چې پۀ پاکستان کښې پۀ يوه حواره خطه کښې اوسېږي چې انګرېزانو پۀ مختلفو غېر ائیني تقسیم سره بیل کړي خو دغه زیار ما د ژوند نه کم ازکم پۀ سزه تشدد چا بیل نۀ کړل د زما عقیده ده چې زما تجویز د پښتنو وحدت د پاکستان امن ترقۍ او سالمیت دپاره دومره


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ګټور دي چې پۀ ملک کښې پۀ پيښمه حصه کښې نوره قامون
اسېږي - - - - - - پۀ نني زمانه کښې د ترقۍ معيار پۀ تعليم
باندې ايښې شوې دی او د نړۍ ماهرين پۀ دې خبره متفق دي
چې نظام تعليم پۀ خپله مورنۍ ژبه کښې کول د کاميابۍ لار
ده. ښۀ تعليم پۀ ژوندي ژبې پۀ زريعې سره کېږي هغه ژبه چې پۀ
روزمره استعمال کښې دفترو، تجارتي مرکزو او ادبي رنګ
خلقو کښې رايج وي ۹۰"

صمدخان اڅکزی پاکستان پۀ عدالت کښې چې کوم تحريري
بيان جج صاحب ته وړاندې کړی دی هغه د فېرنګيانو د زمانې
راڅخه د خپل مظلوم قام ازادۍ چې د انسانانو بنيادي حق دی
تر دې دمه چې دوی ليکلي چې ماته خپل ګناه معلوم نشو چې
پۀ کوم تور زۀ د سرکار پۀ بنديخانو کښې تېروم او که د پښتنو
ژوند ژواک پۀ اړه سرکار موږ له خپلو هدفونو اړه وي نو دغه
تجربه خو فېرنګي سرکار اوکړه هغه نن نشته موږ غواړو
پاکستان د ټولو قامونو شريک کور دی چې کوم دليل او
تجويزونه ما عدالت ته وړاندې کړل د هغې پۀ زريعه يو بهترين
ملک چلولې شو.

پۀ ۱۹۵۸ د ايوب پۀ مارشل لا کښې څوارلس کاله قيد شو



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

عبدالصمدخان اڅکزی واحد سرې وو چې د ایوبي مارشل لا تول دور یې د ملک په مختلفو جېلونو کښې تېر کړو، په ۱۹۶۹ کښې د یحیا خان په دور کښې رها کړې شو چې هغه د ګوندونو سره د یونټ ماتولو او الیکشن په کولو راضي شو.

www.sikaraam.com



Scanned with CamScanner

# نېشنل عوامي پارټۍ

صمدخان چې پهٔ ۱۹۵۶ کښې له بنده ايله کړی شو نو"وړور پښتون" پهٔ نمایندګي يې د يونټ اواستعماري حکومت پهٔ خلاف کار پېل کړو، او د نورو مشرانو سره د هلوځلوپس د"ون يونټ"خلاف د ملک ډېرسياسي ګوندونه سره يو شول يوه متحده سياسي پارټۍ يې جوړه کړله.

د ون يونټ فرنټ مشاورتي کونسل غړو عکس د "وړورپښتون" کتاب څخه مخ ۹۲ او د نېشنل عوامي ګوند بېرغ د پروفېسر عبدالغني غنو د "بابائے پشتون اور پشتونخوا" نه ماخوذ دي.

د نېشنل عوامي ګوند پهٔ باره کښې عبدالرحيم مندوخېل ليکي:

"خان شهيدچې په۱۹۵۶کښې له بندڅه ايله کړل سو، نويو ځواني د يويونټ او استبدادي استعماري حکومت په خلاف سياسي کار روان کړ او بل ځواني د پښتون، بلوڅ، سندهي او بنګالي قامونودخپلواکۍ اولسي تحريکونواود پنجاب د اولس واکۍ تحريک اتحاد هلې ځلې پېل کړې ۱۹۵۶په پائۍ دخان شهيداود نوروګوندونو مشرانو په هلوځلو د ګوندونه سره ګډ او



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د بنګال ابادۍ نۀ منلو دپاره د "ون يونټ" نعره پورته کړه چې پۀ دې کښې د ټولو قامونو مشران سره يو ځای شول چې پۀ نتيجه کښې "نېشنل عوامي پارټۍ" جوړه کړه - دې باره کښې عبدالرحيم مندوخيل ليکلي دي:

" نيشنل عوامي پارټۍ امپريلسټ دښمن، استعمار، جاګيرداري دښمن، کمپرا ډور دښمن، دپښتون، بلوڅ، سندهي، بنګالي او پنجابي قامونو د سيالۍ اود اولس د واک او د وادې، د مثبت غيرجانبدار پاليسي او د يونټ د ماتولو او د ژبې، ثقافت پربنياد د قامونو د خودمختار صوبو جوړولو بېرغ اوچت کړ دې مرادونوته رسېدلو دپاره ګوند ډېرې هلې ځلې وکړې نوپنجابي استعماري فوج دپنجاب په ګټه جوړکړی د۱۹۵۶ائين ختم کړ او پر ۷ اکتوبر۱۹۵۸ئي دفوج دستر درستيز"کمانډرانچيف"ايوب خان په مشري کښې لومړي مارشل لا ولګوله يعني بربنډفوجي آمريت ئي جوړ کړواواصل ګزارئي پرنيشنل عوامي پارټۍ اودهغه مشرتابه باندې اوکړو۹۲"

چې کله د "ون يونټ" پرخلاف د قامونو پر بنياد نيشنل عوامي پارټۍ جوړه شوه پۀ دې وخت کښې د نېشنل ګوند مشران



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

باچاخان،صمدخان،حيدربخش جتوئي،جي ايم سيد،ميا افتخارالدين، مولانه بهاشاني وو. خو چې کله په ۷ اکتوبر ۱۹۵۸ کښې مارشل لا ولګېدله نو دغه ټول مشران يې بندي کړل. نور ټول مشران يې له څۀ مودې پس خلاص کړل باچاخان علاج د پاره لندن ته لاړو د ايوبي مارشل لا وخت يې پاکستان نه بهر تېر کړو. صمدخان اچکزی ته څوارلس کاله د قيد بامشقت سزه ورکړل شوه. نېشنل عوامي ګوند کښې څۀ موده پس اختلاف راغلل چې په نتيجه کښې "نيپ"په دوو درړې تقسيم شو چې د يو ګروپ مشري بهاشاني کوله او د بل مشري خان عبدالولي خان کوله چې د باچاخان زوی وو.

لکه څنګه چې باچاخان سياسي مبارزه د کانګرس سره وه چې د فېرنګي د تګ ګټې هندو او پنجابي په نصيب شوی او پښتانۀ د ازادۍ په ځای د غلامۍ ښکار شول د پاکستان جوړېدو په وخت کښې هم د فيصلو وخت وو خو هغه هم او نۀ شول چې د پښتنو شريکه کاز دپاره کار شوی وه چې کله "نيپ" جوړ شو دې وخت کښې خپل هدف خاصلوو په ځای نور قامونه هم په ځان پورې وتړل چې په نتيجه کښې خان شهيد څوارلس کاله قيد تېر کړو خو چې د ګټې ځای راغې نو "نيپ"


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کښې د نورو قامونو او ګوندونو مشران وو د هغوي خیال او
خوشالي ساتلو د پاره يې د صمدخان جبل او سترې ستوماني
په اوبو يوړې چې په اخر کښې د بلوچو سردرانو خان شهید ته دا
هم وو ویل چې تاسې د "نېپ" کارکونان نه یاست.خان شهید
چې ولي خان سره رابطه اوکړه نو د هغوي جواب هم دغه وو چې
دغه صوبائي مسله ده چې اختلاف تر دې نوره زیات شول دغه
ذکر په "خان شهیدئی پښتون اورپښتونخوا" کښې پروفېسر
عبدالغني غنو په څلورم ټوک کښې په ۸۱ مخ باندې تفصیل
سره لیکلي دي-

نوټ: :"په ۱۳م جنوري ۲۰۲۰ م کال د ولي خان برسي په پروګرام
کښې د دوی لمسی او صوبائي صدر ایمل ولي خان په مشرق
اخبار کښې بیان راغې چې ولي خان د "نیپ" منشور نه انخراف
اوکړو دغه اخباري بیان ما د نېشنل پارټۍ یو وکیل سره شئیر
کړو هغه راته ویل چې ولي خان خان شهید خو ډېر ویژنري
سیاست دان وو او دې وخت کښې هغه ډېر لوړ شخصیت وو نو
صمدخان باندې يې څۀ کول ما ورته ویل چې صمدخان جبل به
کوم ګناه او څۀ دپاره تېر کړو او تاسې دغه شان خبرې کوئ چې
د خان شهید څوارلس کاله قید او د پښتون قام د ژبې، تاریخ،



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کلتور، جغرافيه د پښتونستان جوړولو پهٔ ځای جنوبي پښتونخوا پهٔ بلوچستان کښې ګډه کړه چې د بلوچو خوشالي او د دوی نارضګي باندې راخي شو.

پهٔ ټول ملک کښې د سياسي غورځنګونو مبارزه ښه پهٔ زور سره روانه وه چې دې دپاره يې (يونائيټيډ ډيموکرټيک فرنټ (U,D,F)ګوندونو اتحاد جوړ شوې ووچې نېشنل عوامي ګوند هم پهٔ کښې شامله وه چې مشري يې ولي خان کوله پهٔ دې اجلاس کښې اېجنډه وه چې ون يونټ ماتول،عام انتخابات کول وو خو د نېپ مشرانو د خپل منشور نه انخراف اوکړو.

د دي ذکر د شيرعلي باچا پهٔ يوه مقاله کښې چې پروفسرعبدالغني غنو د بابائے پشتون اور پشتونخوا کښې ليکلې ده:

"عوام کے منوانے کی خاطر مخالف جماعتوں کا اتحاد یونائیٹڈ ڈیموکریٹک فرنٹ جس میں نیشنل عوامی پارٹی جس کی قیادت اس وقت عبدالوالی خان کر رہے تھے شامل تھی اس سے مزکرات شروع کیے ون یونٹ کے توڑنے اور عام انتخابات منعقد کرانے پر راضی ہوا لیکن نیپ کے پشتون قیادت نیپ کے اپنے منشور ،لسانی، ثقافتی اور تاریخی بنیادوں پر صوبوں کے از سر نو تشکیل کے مطالبے سے پیچھے ہٹ گئی ۔اور جنوبی پشتونخوا، برٹش بلوچستان کو بلوچستان کے ریاستی یونین)



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

قلات (شامل کرنا اور بلوچستان کے نام سے ایک بالکل نئے صوبے کے تشکیل کو تسلیم کر لیا جسکی وجہ سے پشتون کو ایک صوبے مجتمع کرنے کے وہ اعلیٰ مقاصد کو سخت نقصان پہنچا جس کے لیے پشتونوں نے بے شمار قربانیاں دی تھی اور اسطرح اپنوں کی وجہ سے یہ تاریخی موقع ہم نے پھر گنوا دیا۔۔ خان شہید رہائی کے بعد لاہور تشریف لے گئے جہاں یو ڈی ایف کے تمام لیڈر جمع ہو گئے تھے اور اپنے لیڈر ساتھیوں کے ساتھ اس سلسلے میں بہت مذکرات کیے لیکن انہوں نے کبھی ایک بہانہ اور کبھی دوسرا بہانے ان کی یہ باتیں رد کر دی اور اپنی رعایتی تھیوری پر اڑے رہے ۹۳"

صمدخان چې له جېله را ايله شو د ګوند مشرانو سره بقاعده پهٔ تماس کښېې وو نېشنل عوامي پارټۍ چې پهٔ دوو دا ړې وه د يو ګروپ مشري ولي خان د بل بهاشاني کوله که څهٔ هم د ګتې ځاى راغلی وو خو ولي خان چې دګوند مشر وو خپل دريځ يې د قام پهٔ ماناپېښ نهٔ کړو او بيا چې کومه غونډه پهٔ لاهور کښې شوې وه چې صمدخان هم ورغلی وو - ولي خان د پارټۍ د منشور نه انحراف وکړوځکه چې ولي خان د بلوچو پهٔ لاړ وو پهٔ دې وخت د صمدخان او ولي خان اختلافات راغلل،صمدخان چې کله افغانستان ته لاړو هلته يې باچاخان سره اوليدل چې ولي خان،افضل بنګش،اجمل خټک،ايوب خان اڅکزی هم


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

موجود وو صمد خان باچاخان ته "نیپ" منشور یادوونه وکړه خو چونکه دې وخت د ګوند مشر ولي خان وو نو ځکه باچاخان هم د خپل زوی سره اختلافات نهٔ کول چې پهٔ دې ځای دوی دېر سره سخت شول بنهٔ زړهٔ بدګی راغلو دا دې تلو خبرو ذکر د دوی سره د (محکمه قبائل اطلاعات ونشریات ډائریکټر ابرهیم عطائي صاحب پهٔ کتاب کښې تفصیلي ذکر شته دغې ځنې ذکر پروفیسر عبدالغني خان غنو پهٔ "بابائے پشتون اور پشتونخوا" کښې پهٔ نهم جلد کښې د ۷۳ نه تر ۸۱ پورې راغلی دی۔

د ولي خان او صمد خان پهٔ منځ کښې اختلافاتو پهٔ پهٔ اړه پروفیسر عبدالغني غنو پهٔ کتاب"بابائے پشتون اور پشتونخوا "کښې سایي کمال خان وایي چې ماته خان شهید هغه خبرې کړې وې کومې چې ولي خان او د خان شهید پهٔ منځ کښې یو واري لاهور بل پهٔ کابل کښې شوې وې :

"بابائے پشتون ولی خان یہ آپ نے میرے ساتھ کیا کیا مجھے کیوں چھوڑ دیا ان صوبوں کو کسطرح تسلیم کیا یہی تو ہماری قرارداد تھی کہ لسانی ثقافتی بنیاد پر بنے گے، نیشنل پارٹی کا منشور؟ ولی خان یہ ہو گیا، خان شہید پشتون کیوں ہو گیا ایسا کس نے کیا؟ ولی خان: یہ میں نے کیا بابائے پشتون کیوں پارٹی کہاں گئی؟ ولی خان: پارٹی چھوڑو۔۔ ولی خان ان سے کہا ولی خان: بس آرام سے بیٹھیں یہ



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پانچ ضلع (صوبہ سرحد) میرا پشتونستان ہی بن گیا۔ بابائے پشتون: پھر نہیں بیٹھو گا وہ ہماری چالیس سال کی جدوجہد کا کیا بنے گا؟ یہاں تو کچھ اور سیاست ہے ہماری سیاست، پشتون سیاست کہاں گئی ہمارا جدوجہد کہا گیا کہ یہ پانچ ضلع) صوبہ سرحد (تمہارا پشتونستان ہو تو یہ باقی کیا بنے گا وہ صاحب فرماتے ہے کہ اس مقام پر خان شہید رو پڑے اور بعد میں وہاں سے اُٹھ آئے ۹۴"

صمدخان چې کوم اختلافات د نېشنل عوامي ګوند سره پيدا شول دې باره کښې"خان شهيد سيمينار" کښې عبدالرحيم مندوخېل ليکلي دي:

"چې دپښتون اولس قامي تحريک کښې دمحکوم پښتون يوولي پرسوال اختلاف پيداسوخان شهيدله دې پرېکړې سره سخت اختلاف وکړ۔اووددې پۀ خلاف ئي قائل کونکي دلائل وړاندې کړه ۔خويوځل بيادپښتون قامي تحريک اوګوند د ادغام پۀ وجه دنورودقامي تحريک دکټوتابع سوی‌وو۔له دې وروسته خان شهيدخپل دريځ دنېشنل عوامي پارټۍ په ادارو کي دننه په زياته پښتون مشرتابه ته وړاندې کولوهلې ځلې وکړې پۀ دې لړکښې دې کابل ته راغلی۔خوهغوی دپښتون اولس دبېشمېره اوناقابل بيان کړاوونوپه لاس يو ځل بيا رواستلي سپرلی مخه داخل په خپله ونيوله۹۵"



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

د جنرل ايوب خان بد د سياسي ګټې د پاره پنجابي استعمار ګرانو دجنرل يحيا خان په مشري کښې استعماري فوج بله مارشل لا ولګوله ځو اولسونه اوس بېدار وو اوخپلې پولې ورته معلومې وې دا يې يقين وو چې اوس به خپلواکه صوبې جوړېږي .دې باره کښې عبدالرحيم مندوخيل ليکلي دي:

"دپنجابي استعمارګرانو له ګټوسره سم د خلاتو بيلولو دپاره بيا د فوج د ستردرستيز(کمانډراف چيف)جنرل يحيا خان په مشري کښې استعماري فوج پر۲۵مارچ ۱۹۶۹ددويم ځل دپاره مارشل لا ولګوله بربنډفوجي امريت يې جوړکړ خود بحران د شدت د لږولو دپاره يې دانتخاباتواعلان وکړ. دکال۱۹۶۹په پائي کې ئې ديونټ دماتولوداسې اعلان وکړ،چې پر ۱ اپريل۱۹۷۰به نوؤ ولايتونو پولې ښکاره کېږي. اوپر جولائي۱۹۶۹به د صوبو حکومتونه خپل واک تر لاسه کوي۹۶"

د نومبر ۱۹۶۹ نه تراپريل ۱۹۷۰ پورې نوې صوبې جوړول وو دې سلسله کښې خان شهيد ډېرې هلې ځلې وکړې چې دې وخت کښې څۀ امکان د پښتنو د يوالی پيدا شوی وو پۀ هغه بيا اوبه واوړېدې.

د پاکستان جوړېدو نۀ مخکښې سياست د فېرنګي سره وو،



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ګوند بنیاد کېښود او د باچاخان په څایي سیاست ته ولي خان
د باچاخان زوی راځي بیا د صمدخان او ولي خان سیاست ته
اولس په کومه سترګه ګوري دیو څان ته ګوشی سوال اوتاریخ
دی او دغه تاریخ خامخه څېړل غواړي۔

صمدخان د فېرنګیانو په وخت کښې کوم ډول مبارزه کوله او
غوښتني یې څۀ وې چې د "انجمن وطن" په دستور کښې
موجودې دي په پاکستان کښې د "ورور پښتون" کومې
غوښتني وې هغه د "ورورپښتون" ګوند په ائین دستور کښې
تفصیلي ما لیکلې دي د "نېپ" سیاست څۀ وو او غوښتنې یې
څه وې خان شهید په دې غوښتنې دوه دېرش کاله قیدوبند تېر
کړل او سرکار ته هم معلوم وو چې په دې کار کښې څوک څومره
ښتیني دی ۔ فېرنګي وو که پنجاپک وو دواړو ته معلوم وو
څکه یې د دوی هلې ځلي په نظر کښې وې او دوی یې د خپل
اولسه تل په جېلونو یه داسې ملګرو باندې وغلولو چې سپینې
ږیرې پورې خان شهید ته داسې موقع په لاس نۀ وراغله چې په
ژوند یې خپل مرام خاصل کړی وه تر مرګه د خپلو تاکل شوي
هدفونو نه چېرې هم په شا نۀ شو۔

د صوبې د جوړولو وخت چې راغی نو ولي خان په زاړو صوبو د



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ولي خان په "باچاخان او خدای خدمتګاري" کتاب کې د ۵۶۶ مخ باندې داسې کړی ما دغه بلوچو سره راخي وو چې د دې ذکر حواله د انجنئیر اسدترین "بابائے پشتون اور پشتونستان " نه اخستې ده۔

"نواب خیر بخش مري، نواب اکبر بګټي، او میرغوث بزنجو د "ون یونټ" په ماتولو او زړو صوبو په بحال کولو په سلسله کښې ماته شکریې دپاره راغلل موږ یو بل ته د "ون یونټ" ماتولو او د زاړې صوبې بحال کولو مبارکبادي ورکولې چې دې دوران صمدخان هم راغې موږ هغوي ته مبارکي ورکړه خو هغه سخت ناراضه شو او دا یې وو ویل زۀ دې بلوچو ته غلام کړم بلوچ سرداران خیران وو خو د صمدخان غصه نۀ سړېدله۔ ۹۷"

دلته په رهبري سوال راخي چې موږ تاریخ ولې پټوو چې کله هم رښتیا اود ګټې ځای راغلې نو موږ د سنجیدګۍ په ځای ځومره د غیر سنجیدګي مظاهره کړی ده۔

صمد خان د پارټۍ صدر ولي خان ته، جنرل سېکټرۍ اجمل خټک او د ګوند نورو مشرانوته مکتوبات هم لیکلي چې د پارټۍ منشور ور یادولو دپاره ناسته اوکړي خو د هغوي چې ارادي او سوچ مختلف وو نو نتیجه یې دغه وه چې کومه موږ


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تاسي پهٔ مخ کښې ده ـ
دغه ټول مکتوبات خان شهيد پهٔ درې جلدونو کښې چاپ دي
چې ټول تفصيلي ذکر پهٔ کښې موجود دی او هغه ما پهٔ ادبي اړخ
مقاله کښې پهٔ تفصيل سره ليکلي دي
دلته د "خان شهيد سيمينار"نامي مقاله کښي کښې عبدالرحيم
مندوخيل د دې مکتوباتو ذکر کړی دی او زه يې دلته حواله
ليکم:
"په دې شرائطو کښې هغوي دنېشنل عوامي پارټي بالحصوص
پښتون مشرانو ته ليکونه وليکل ـ ـ ـ ـ پهٔ دې کې ځينې ليکونه
دا دي ۱عبدالولي خان صدر نېشنل عوامي پارټۍ پرنوم له
ګلستان کوټې څه ليک،۶۹ـ۱۲ـ۹ـ(۲)اجمل ختک جنرل
سېکرټري په نېشنل عوامي پارټۍ پرنوم له ګلستان کوټې څه
ليک ـ۶۹ـ۱۱ـ۱۰(۳)عبدالولي خان صدرنېشنل عوامي پارټۍ
پرنوم له لاهور هوټل څه ليک،۷۰ـ۱ـ۱۱(۴)اجمل ختک جنرل
سېکرټري پرنوم له لاهور هوټل لاهور څه ليک، ۷۰ ـ۱ـ۱۴(۵) د
محمودعلي قصوريَ صدر مغربي پاکستان نېشنل عوامي
پارټۍ پرنوم ليک۹۸"
چې د ولي خان او صمدخان اختلافات زيات شول او د صوبې د



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بحال کولو مسله پیدا شو نو دلته یو ځل بیا د پښتون قام
مستقبل د پاره دوی سره د نوي تنظیم فکر پیدا شو چې
پښتنو دپاره یو داسې جماعت جوړکړهٔ شي چې خالص دپښتن
قام د شناخت او د خپلواکه صوبې د پاره کار اوکړي۔



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## پښتونخوا نېشنل عوامي پارټي

صمد خان اچکزی پښتون قام مسلو ته په هغه وخت پام رسېدلی وو چې له د ديارلسو څوارلسو کالو وو چې د سکول په زمانه کښې يې په جرګه مظمون وليکلو نو د سرکار هر څه ورته معلوم شول چې د دوی بنيادي سياست د فېرنګي وېستل او د هغوي تپل شوي نظام د سرداري، نوابي، ملکي خلاف وو که "انجمن وطن" "وروروپښتون" که "نيپ" زمانه وه دوی په هر ځای د پښتنو د ژوند ژواک او يوه متحده صوبې غوښتنه کړی ده چې فېرنګي سرکار او پاکستاني سرکار ته قابل قبول نۀ وه -
د نېشنل ګوند منشور نه انخراف کولو باندې صمدخان او ولي خان اختلافات زيات شول په دې دورونو کښې دوی خپله او نورو پښتنو مشرانو کوشش کړی وو خو ولي خان په خپله خبره ټينګ ولاړ وو څۀ يې چې غوښتل هغه يې اوکړل -
د ډېرو مزکراتو باوجود چې خبره سمه نۀ شوه نو د "وروروپښتون" د صمدخان زاړۀ مالګري د کوئټې سره نږدې د "هنه وړک" په مقام سره راغونډ شول چې ځان ته نوې ګوند جوړه وو خو صمدخان چونکې په دې مؤقف ولاړ وو چې موږ بله پارټی نۀ



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

جوړه وو څکه چې د نېشنل پارټۍ منشور نه انحراف موږ نه بلکې دوی کړی دی خو د ملګرو پهٔ صلاح مشوره دغه فیصله اوشوه چې د" نېشنل عوامي ګوند" سره د "پښتونخوا" توري زيات شي۔

"پښتونخوانېشنل عوامي پارټۍ" يې جوړه کړه چې صمدخان يې صدر وټاکل شوډې باره کښې پروفسرعبدالغني غنو" خان شهيدئی پشتون اور پشتونخوا"کښې ليکلي دي :

"جس وقت جنرل یحیٰ خان نے ۱۹۷۰ یکم جولائی میں ون یونٹ توڑ دیا اور جنوبی پشتونخوا کے پشتون نیشنل عوامی پارٹی کے لیڈر کے فیصلے اور مرضی سے بلوچستان میں باندھ دیئے گئے یہ ناچاکی واضح ہو گئی اور وہ عبدالصمد خان جسے دشمن کی چالیس سال کے مسلسل سختیوں، مصائب، ازار رسانیوں اور قید وبند کی تکلیف شکست نہیں دے سکی۔اپنے قریبی اور پیارے ساتھیوں کی ناخبری اور بجا غلطیوں کی وجہ سے اپنی قومی لشکر سے علیحدہ ہونے پر مجبور کر دیئے گئے ۔اگست ۱۹۷۰میں عبدالصمد خان نے اپنے چند جوان اور بزرگ ساتھیوں کی مدد اور تعاون سے کوئٹہ میں اپنی جدوجہد کا نیا سنگ بنیاد نیشنل عوامی پارٹی پشتونخوا کے نام سے ایک عوامی اجتماع میں رکھ دیا۹۹"

د"پښتونخوا نېشنل عوامي پارټۍ" درې رنګه بېرغ وو چې سور،سپين،شين پهٔ منځ کښې ستوری لګېدلې وو چې پروفېسر عبدالغني خان غنو د "بابائے پشتون اور پشتونخوا"پهٔ


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ورومبی توک کښې چاپ دی -
د پښتونخوا نېشنل ګوند بېرغ، ائین دستور وتاکل شو چې
ائین دستور خپل اغراضو مقاصد وو چې څلور بابونو لري - د
ائین منشور اعراض مقاصد (پروفېسر عبدالغني غنو په "بابائے
پشتون اورپشتونخوا" کښې ۱۲۶مخ نه واخله ۱۳۸ مخ) پورې
په تفصیل سره درج کړي دي زهٔ يې دلته په پښتو کښې ليکم
ترتيب يې څهٔ پهٔ دې ډول دی -
"باب اول "اغراض ومقاصد" اوو ۷ سیکشنه لري دويم
باب"پروګرام "شپږ ۶ سېکشني، نهه ۹ جوزونه لري او هر يو
جوز ځان ته سېکشن لري "تعليم" دولس ۱۲، "خوراک"درې ۳،
"زراعت" دوويشت ۲۲، "جنګلات"درې ۳، "روز ګار مزدوري"
اوو ۷، " صنعت" اتهٔ ۸، مکان درې ۳، "صحت او صفائي"
څلور۴ سېکشن لري - دريم باب "شهري حقوق" څلور۴ سېکشن
او باب څلورم "زبان" "محاسبه" "جېل خانه جات"درې ۳ ، "رسل
ورسائل" "ملازمين" "کرايه دار" معدنيات" " حېوانات"
چراګاهي ۱۰۰"

د "پښتونخوا نېشنل عوامي پارټۍ" بنيادي غوښتنې پهٔ ملک


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کښې نه جمهوریت، ووټ په زریعه پارلماني ممبران تاکل،یاده دې وي چې تر دې دمه په ټول ملک کښې د سړي په سر ووټ وو خو په برټش بلوچستان او بلوچستان کښې د انګریزانو تاکل شوی میونسپل کمیټی، غړو او سردرانو نوابانو نه بل چاته د ووټ حق حاصل نۀ وو نو دوی د سیاست یوه بنیادي نقطه د ون ووټ ون مین هم وه ۔

د ټول پاکستان بالخصوص پښتون بلوچ په هر څۀ کښې مساوي حقوق،په پاکستان کښې سماجي انصاف،اقتصادي مساوت په بنیاد ازاد وفاقي ریاست قائمول چې په هغه کښې ژبني، کلتوري، تاریخي، جغرافیائي وحدت پر بنیاد د صوبو ازسرنو تشکیل ،په ملک کښې ټولو اوسېدونکیو ته تر متمرکه مفت تعلیم،خوراک،روزګار،مکان،طبي امداد،انصاف او تحفظ مهیا کول د حکومت ذمه وري،تر پېنځو کالو ماشومانو باندې پرئمري تعلیم لاژمي، تر اتمه پوري په خپله مورنۍ ژبه کښې ذده کړې د حکومت کردار او ذمه وري ۔

څنګه چې فېرنګیانو بلوچستان خلق د هر څۀ نه محرومه ساتلي وو پاکستاني ریاست تر هغې سخت چلن ورسره اوکړو د


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

فرنګیانو په زمانه کښې په ټول هند باشمول سنده، پنجاب، کشمیر صوبه سرحد کښې د سرې په سر ووټ وو میډیا ازاده وه خو په بلوچستان کښې هغه ټول سیاسي ایکټیویټیز باندې بندیز وو چې اولس د بیدارۍ سبب وو. پاکستاني ریاست د قام بیدارۍ او د اولس منځ نه لرې کولو دپاره خان شهید دوویشت کاله بندیخانو کښې بند وساتلو مسلسل سایسي مبارزې پس چې یحیا خان د ون یونټ ماتولو او د عام الیکشن اعلان اوکړو او د ډېرو سختیو ،تکلیفونو بد الېکشن اعلان شو په بلوچستان او برټش بلوچستان کښې د سرې په سر ووټ نۀ وو،انګرېز چې کوم سرکاري خلق ساتلي وو خان، نواب، ملک، سردار په پاکستان کښې هم د هغوي ووټ وودې د پاره دوی ډېره مبارزه وکړه خلق چې د ووټ په اهمیت پوی شول خو دې وخت کښې سرکار ساتلي خلقو ووټ د ځان حق وګڼلو قسمه قسمه پروپېګېنډې به یې کولې په الېکشن کښې د دوی مقابله د ملایانو سره وه ملایانو به دا وئیل چې ووټ د ملایانو حق دی او صمد خان او د هغوی ملګري غداران دي کافران دي چې ساده پښتانۀ یې په دې غولول کله چې



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

صمدخان د ون ووټ ون مين غوښتنه کوله دغې ملايانو او سرکاري خلقو پهٔ دغه پروپېګنډې کولې چې ووټ او جمهوريت د اسلام نه د کفرنظام دی ۔ د ووټ تصور اسلام کښې نشته بلکې خليفه تاکل کېږي ووټ اچول کفر دی

صمدخان د پشتونخوا نېشنل پارټۍ د جهنډې لاندې پهٔ ۱۹۷۰ اليکشن کښې برخه واخيسته د پښتونخوا نېشنل پارټۍ هغه وخت انتخابي نشان"جهاز"وود انتخاباتو پهٔ اړه ،دخان شهيدنۍ پشتون اورپشتونخوا کښې ډاکټرحامد خان د دهٔ زوی دی هغه وايي:

"بابانے فرمایا انتخابات ہورہی ہیں ۔یہاں مولانا سے مقابلہ ہے ہمارانشان ہوائی جہاز ہے اپ کوچاہیں کہ سب لوگ ووٹ استعمال کریں اور ہمت کریں۔ مولانانے تو یہ افواپھیلائی کہ جو بھی ووٹ مولاناکو نہیں دے گا وہ کافر ہے ووٹ مولاناکا حق ہے ۔اس موقع پر مفتی امین نے تقریر کی اور کہا ہمارے ووٹ کا صحیح حقدار خان عبدالصمد خان ہے کیونکہ خان باباہمیشہ علماء کیساتھ رہے ہیں اور علماء نے باباکی حمایت کی ہے مثلاً مولانا ابوکلام ازاد، مولوی رحمت اللہ ژوب۔ ۔ ۔ بابائے پشتون نے تقریباً ۳۰۷۰ ووٹ لیکر انتخابات میں کامیابی حاصل کی ۱۰۱"

د هر څو پروپېګنډې باوجود پهٔ دې بې شعوري،بې علمي او سرکار چلاکيو کښې دوی د قومي اسمبلۍ سيټ وبايلو او


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

صوبايي سيټ يې وګټلو:

"اسلام او ووټ يومقدس امانت پۀ نامه يې اولس دوکه کول اوبل طرفته يې خان شهيداو هغه ملګرو باندې د کفر فتوې لګولې اود غداري خطابونه يې ورکول او دغسې ئې عام مسلمان پښتون دجذباتو نه د فائدې اخيستلوکوښښونه کول خان شهيد باوجود د دې مخالف ګردونو اتلس زره ووټونه واخيستل خوبياهم پۀ مرکزي سېټ ګټلوکښې ناکام اوګرځولى‌شوالبته په صوبايي اسمبلۍ کښې هغه کاميابي اوموندله ۱۰۲"

د" صوبه سرحد"موجوده خيبر پښتونخوا د باچاخان ملګرى عبدالاکبرخان اکبر د صمدخان پۀ باره کښې ليکي چې دصوبې سيټ يې د پښتونخوانېشنل پارټۍ له طرفه ګټلى وو:

"عبدالصمدخان اڅکزى د پښتونخوا نېشنل عوامي پارټۍ د طرفه د خپلو تېرشوو خدماتو قربانو په وجه په صوبه کښې کامياب شو۱۰۳"

پۀ بلوچستان کښې وړومبى اليکشن اوشو پۀ بلوچستان اسمبلي سېشن کښې صمدخان تر ټولو سنئيره سياست دان وو


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې پۀ اولنۍ سېشن کښې يې د صدرات او سپيکر فرائض هم
دوی ترسره کړل پۀ صدراتي مجلس کښې يې پۀ تېرو او موجوده
حالاتو باندې او بل يې د پښتنو ژوند ژواک او پاکستاني
رياست چلولو دپاره پښتونستان غوره وګڼلو پۀ دې اړه انجينئر
اسدترين ليکلي دي:

"صمدخان اچکزی پۀ ۱۹۷۰ کښې صوبائي اسمبلي سيټ او
ګټلو تر ټولو وړاندې يې د اسمبلي صدرات اوکړو- دوی د
سپيکر پۀ کرسي د ايوان انتخابت اوکړل د ټولو کاغذات
درست وګڼله د دوی پۀ صدرات کښې قائد ايوان منتخب شو پۀ
خپله وينا کښې يې اعلان اوکړو چې پاکستان کښې د ټولو
حقوق برابر دي ـ ـ ـ ـ د ۳۰مئ ۱۹۷۰ د اسمبلي پۀ فورم وينا
کښې فرمائي چې موږ تاسې ته معلومه ده چې هندوستان او د
پاکستان تقسيم عمل تر سره شو پنجاب او پۀ ځنې نورو علاقو
کښې کېدی شي چې د پښتونستان پۀ جوړولو کښې اتفاق اونه
لري خو زما رائې دا ده چې د دې نه علاوه بله لار نشته د م
يقين دی چې تاريخ به زما پۀ حق کښې فيصله کوي ځۀ وخت
چې تېر شي د تجربې پۀ بنياد به دغه ثابته شي چې د قامونو پۀ


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

منځ کښې د اتحاد واحده زریعه پښتنو ته یو وحدت ورکول دي

اګر چې دغه عمل حکمرانو ته قابل قبول نهٔ دي خو زما رائی دا

ده چې دغه عمل به خوفناک او د تباهي سبب اوګرزي ۱۰۴"

صمدخان د "ورورپښتون" "نېپ" او د پښتونخوا نېشنل عوامي

ګوند چې کوم منشور وو د هغې په رڼا کښې د ملک چلول

غوښتل چونکې پاکستان د ډېرو قامونو مشترکه ملک وو نو

خان شهید د ورمبنی ورځې دغه تجویز وو چې په لساني،

کلتوري، تاریخي، جغرافیائي توګه د قامونو پر بنیاد صوبې

جوړې شي په دې اړه دوی ته ډېر تکلیفونه اورسېدل

پښتونستان خو نشو جوړ ځکه چې "نېپ" مشران د خپلې

غوښتنې نه واوړېدل خو بنګال د ژبې د تحریک په رڼا کښې

چې یحیا خان او ملکي استعمارګرو فوج په ۱۹۷۱ کښې د ائین

ساز اسمبلي د رابلولو نه انکار اوکړو اود بنګال عوام باندې

حملې په نتیجه کښې بنګلادیش ځان ته خپل ملک جوړ کړو۔

د ملک حالات خراب شول پ ۱۹۷۲ کښې د بلوچستان اسمبلي

اجلاس راوغوښتې شو چې صمدخان اچکزی یې صدرات

اوکړو د دې ټول تفصیل عبدالرحیم مندوخیل په مقاله کښې

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لیکل شوی دی هغه لیکي:

"په ۱۹۷۲ کښې د بلوچستان اسمبلي اجلاس د صمد خان په صدرات کښې اوشو په دې کښې د "نېشنل ولي خان ګروپ" او جمعیت العلمائی اسلام پالیماني اتحاد جوړ شو او د سردار عطاوالله مېنګل په قیادت کښې حکومت جوړ شو خان شهید حزب اختلاف کښې کښېنستو - - - - فروري ۱۹۷۳ کښې ذوالفقارعلي بهټو په بلوچ قامي تحریک د بغاوت الزام په منصوبه باندې د اختر مینګل خکومت ختم کړو د صوبې نوې ګورنر اکبربګټي او ټاکل شو د صوبه سرحد مولانا مفتي محمود په مشري کښې جمعیت العمائی اسلام او نېنشل ګوند ولي ګروپ اختېجاجي استغفې ورکړې د پیپلزپارټۍ او نېشنل پارټۍ په منځ کښې د جګړې حالات پیدا شول نو خان شهید د ټولو ګوندونو منشرانو سره لیدل کتل اوکړل بهټو ته یې خواست اوکړو چې د پارټیانو او ازاد ممبرانو شریکه حکومت دې جوړ شي خو هغه نۀ اومنل او په نېنشنل عوامي ولي خان ګروپ باندې پابندي اولګوله لیډران یې ګرفتاره شول خان شهید غوښتل چې حالات خرابولو نه بچ کړي په دې سلسله کښې په ۲م



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دسمبر په اسلام اباد کښې یو میټینګ کونکې وو چې صمدخان هم په کښې شرکت کولو خو د وخت تسلط ګرو او د هغو ایجنټونو په ۲م دسمبر په خپل کور شارع جمال الدین افغاني روډ کښې سحر څلور بجې په دوو بمونو باندې شهید کړو۱۰۵ "

صمدخان اچکزی د ۱۹۲۰ نه تر ۱۹۷۳ پورې فرنګي د وخت سیاست چې پاکستان جوړ شو که هر څو نظام هغه وو فرنګیانو واک خپلو نوکرانو ته وسپارلو د هغې چلاکي په تناظر کښې زور و ظلم په نوې ډول شول خلق له دینه ویستل شول د غدارۍ الزامونه پرې اولګېدل او هغه خلق چې د فرنګیانو سره یې تول ژوند مبارزه کړې وه هغه یې بې ګناه جېلونو ته واچول جائیدادونه یې ضابط شول په داسې وخت کښې د ځان شناخت،حق غوښتل چې یو خواه ته سرکار او بل ته د سرکار مراعات یافته خلق،د قام ناپوهي،بې کسۍ او په بې شعوري حالاتو کښې قام دسیاست په مانا د نوې ژوند سره بلدول او هغه شعوري سوچ ته راګرزول ځکه ګران وو چې ملک د مذهب په بنیاد جوړ وو، د مفادو جنګ وې هر سړی په داسې


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

حالاتو کښې بیا د خان خبر غواړي دوی دا هر څۀ پۀ نظر کښې
وو سرکار څکه خو دوی اولس منځ ته نۀ وړپړېږدو د وخت
استعماري قوتونو د عدم تشدد علمردار د ازادۍ او امن
غوښتونکې پۀ خپل کور کښې پۀ دویم دسمبر پۀ دوو بمونو
شهید کړو۔

د خان شهید تجویز دا وو چې ملک کښې ننه دې جمهوریت
وي پارلیمان به دملک بالادسته اداره وي،قانون سازي او د
ملک فیصلې به له دې ځایه کېږې د قامونو د برابرۍ پۀ بنیاد
به ملک داخله خارجه پۀ شریکه وي خو متسفانه چې ملک پۀ
کومو بنیادونو جوړ وو له پۀ هغه پالیسۍ چلېږي څو
بدمعاشانو د قامونو حقوق پۀ زور نیولي دي د دوی سیاست د
دی ظلم نظام نه بغاوت وو۔ خو پاکستاني ریاست بدمعاشانو
صمدخان دې ته نۀ ایله کوو د پاکستان پۀ څلوریشت
پینځویشت کالو کښې یې دویشت کاله پۀ قیدوبند کښې تېر
کړل که هر څو یې پۀ ملک کښې ائیني غوښتنې وې خو د دې
باوجود دوی باندې د پاکستان پۀ زمانه کښې تر فېرنګي
سرکار سخت او زیات تشدد اوشو ۔ صمدخان پۀ داسې درشل


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ولاړ وو چې پښتون قام شناخت ساتلو، قام ته ازادي ګټلود پاره یو داسې پارټۍ جوړه کړي چې په ملک کښې تنه هر قسمه حالاتو مقابلې ته هر وخت چمتو وي - دې باره کښې شېرعلي باچا داسې لیکلي دي:

"خان شهید د خپلوتجربو په رڼا کښې دې نتیجې ته رسېدلی‌وو چې نه یوازې خپل دعدم تشدد د فکرترمیم وکړي بلکې د یو داسې قسم پارټۍ ضرورت احساس کړي هغه د اصلاحي پارټۍ د رد کولو او د یو مجاهد انقلابي پارټۍ د ضرورت محسوسولوپه درشل ولاړ وو او د دې نه وړاندې چه بهرراوځي هغه ظالمانو زموږنږخخه جدا کړلو ۱۰۶"

صمدخان اڅکزی د خپل قام سره زیاته مینه لرله د دې مینې په خاطر یې د ځواني خوږ ژوند د انګرېز او د پاکستاني ریاست په جېلونو کښې تېر کړل په هر قسمه خالاتو کښې یې د قامي ګټو د حصول نه هېڅ کله سرغړنه ونۀ نکړه استعماري قوتونه چې په دې پوهه شول چې دا سړی یو صمد خان نۀ دی بلکې دا تحریک دی چې څو پورې ژوندی وي دا د خپلو مقاصدو نۀ اوړي اود په داسې ډول چې د تېر تاریخ په تناظر کښې



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

علمي،تاريخي ،سياسي،شعوري،تنظيمي جغرافيائي طور د قام روزنه غواړي چې سرکار ته دغه اعمال چېرې هم قابل قبول نۀ وو ځکه چې سرکار نۀ غواړي چې قامونه وسائل،ژبه،تاريخ،کلتور،جغرافيه وپېژني چې پۀ نتيجه کښې د بنګال پۀ څېر صورتحال جوړ شي بنګلايان يو قام يوه پارټۍ وه چې پۀ لږه موده کښې يې خپل قام ته ازادي اوګټله موږ يو قام يو خو په شلو پارټيانو کښې تقسيم يو او هره يوه پارټۍ د قامي ګټې پۀ ځای د ځاني ګټې دپاره د يو بل پۀ مقابل کښې د استعماري قوتونو پۀ ښکاره ملګرتيا کوي چې دا هر څۀ کارکن او سياسي خلقو پۀ نظر کښې دي چې د ګوند ساتلو د پاره خو مبارزه کوي خو د اولس ګټې او تاوان دپاره تر اوسه سره يو رږغ نۀ شول نۀ کېږي - پۀ يويشتمه پېړۍ کښې چې د ازادۍ پېړۍ ده پښتانۀ له خپلو رهبرانو،د ناکس او دروغجن سياست له وجې تر اوسه هم د هر څۀ باوجود د ازادۍ د نعمته نه محرومه دي -

د صمدخان د شهادت ورستو " پښتونخوا نېشنل پارټۍ" چې بېرغ او ائين دستور يې پۀ معمولي ردوبدل سره د "کسان


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

مزدور پارټۍ" په ضم کېدو سره ترې "پښتونخوا ملي عوامي پارټۍ" جوړه شوه او تر اوسه د خان شهيد افکارو لاندې په ملک کښې ننه د هر جمهوري ګوند ملګري کړې ده۔

په ملک کښې ننه ائيني غوښتنې څه په دې ډول دي چې په پاکستان کښې انګريز دلاسه تقسيم شوه پښتون وطن په يو ځای کول،بولانه تر چتراله د پښتنو د شناخت په مناسبت پښتونستان پښتونخوا صوبه جوړول ،په دې خاوره د ټولو قدرتي وسائلو باندې واک اختيار خاصلول،په خپله مورنۍ ژبه کښې تعليم ورکول،په ملک کښې د قرآن و سنت خلاف ټول قانونه رد کول ،په ټول ملک کښې جمهوري او د ورور ولي فضا قائمول،د ظالم او مظلوم په جنګ کښې د مظلوم ملګرتيا کول،په داخله خارجه کښې د قامونو برابري،په ايماندرۍ سره د قامونو په صحيح مانا مردم شماري کول، د پښتونخوا ملي عوامي ګوند غوښتنې دي د دې حاصلولو په لاړ کښې د هر جمهوري خلقو ملاتړ د پښتون قامي وحدت د حاصلولو دپاره د عبدالصمدخان اڅکزی زوی محمود خان اڅکزی په مشري کښې خپل مزل ته د مخ په وړاندې روانه ده۔


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## ۶- علمي، ادبي زیار او اثار

عبدالصمد خان اڅکزی د ژوند ډېر اړخونه دي او هر یو اړخ یې ډېر مانیځېز دی نو دغه ډول په هر اړخ یې خانته کار او زیار کول غواړي دلته ما هڅه په لنډو لیکنو کښې راغونډه کړې چې لوستونکیو او اینده لیکونکیو ته سهولیات وي چې د خان شهید د ژوند زیار زر او په لنډ شان لیکنې پېژندنه ورته وشي۔

صمدخان اڅکزی که جېل وو که د بهر ژوند وو دا یې په نظر کښې ساتلي وو چې پښتون قام د غلامۍ ،ازادۍ او د کټهې لار کومه ده، ځکه یې سیاست سره علم او د ادب لاره هم تینګه نیولې وه ۔ دوی ډېر په وړوکوالي کښې د ډېرو سترو مشاهیرو کتابونو لوست کړی وو چې په نتیجه کښې د ښوونځي د فارغېدو پس چې سیاسي کار پیل کوو د هغوي د تجربې په بنیاد یې د هغو سترو مشاهیرو کتابونه په پښتو ژبه وژباړل د خپل ژوند لیک،لغات،لیکدود یې اولیکلو، دوی د خپل قام، ژبې او د علم سره زیاته مینه لرله ځکه هغه په دې پوهه وو چې یو قام د خپلې ژبې نه په بله ژبه هیڅ کله هم ښۀ ژوند نۀ شي تېرولی، خان شهید د قام د پاره هغه کتابونه چې په نړۍ کښې


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بو مقام ورته حاصل دی پښتون قام ته د بلې ژبې تاريخي،علمي کتابونه پۀ پښتو ژبه کښې وژباړل مقصد يې دا وو چې پښتنو د ژبې سره مينه پيداشي او د فارسي ،عربي ژبې کتابونه چې لوستی نۀ شي پۀ پښتو ژباړې سره به ورته اسانه شي . پۀ دې اړه پروفسرعبدالغني خان غنوېۀ " بابائے پشتون اور پشتونخوا" کښې ليکلي دي :

" شہید ملت پشتو کے شیدائی اوراس تاریخی زبان کی ایک بیشل پروانہ تھی۔گلستان سعدی کا پشتو میں ترجمہ کیا،۲: پشتو ڈکشنری مرتب کی۔۳:زماژوند یعنی اپنی سوانح عمری لکھی۔۴:ترجمان القران۔۵:کیمیائی سعادت۔۶:شبلی نعمانی کی پہلی جلد کا پشتو میں ترجمہ کیا،اور آزادی کا افق پشتو میں ترجمہ کیا۔ ملی آرزو کی ترجمان تھی پشتو اور پشتون لازم وملزوم سمجھتی تھی بلکہ ان کا عقیدہ تھا کہ پشتو درسگاہوں کا سلسلہ جاری وساری ہو۔ ۱۰۷"

عبدالصمدخان اڅکزی اکثره کتابونه پۀ جېلونو کښې ليکلي دي دوی د خپل ژوند سوانح عمري "زماژونداوژوندون" پۀ نامه ليکلې ده چې پۀ درې ټوکونو مشتمل دي . درې واړه جلدونو کښې خان شهيد د خپل زيږون نه واخله ابتدائي ژوند ،علمي زده کړې او تربيت، خانداني پس منظر، سياست، قيدوبند، د هندوستان سفر، د ګاندهي جي سره ليدنه، اسقلال اخبار، د


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پښتنو او دبلوڅو ژوند ژواک،او نوره هر ډول علمي، تاريخي، کلتوري، سياسي، مذهبي،فکري،سائينسي ليکني په کښې شوی دي خان شهيد د ملغلرو په څېر د پښتو توري په سوچه او په اسانه ژبه کښې کارولي دي - صمدخان اڅکزی د دې قائل وو چې سړی څنګه خبرې کوي باید ليکل هم هغه شان وليکل شي نو په دې اړه دوی خپل ليکدود ليکلی چې په ۱۹۵۶ کښې د "وروروپښتون" لخواه چاپ شوی دی د ليکدود په اړه دوی ليکلي دي:

"زموږ ژبه او د ژبې ليکدوددومره وينځلي او اسانه وي چې په هغه کښې د ليک چاپ (ليتهو) ټاپې (پرټننګ) او ټاپ (ټايپ رائټر) هغه تولې اسانۍ وي چې هغه د نن ورځې د يو اولس او سرکار د کار دپاره په کار وي - که موږ د لوستو او ليک دا اوسني ژبه او دود ساتو چې موږ د نورو ژبو په زياته د اردو په پيروي کښې روانه کړې ده د هرې ژبې توري چې خولې ته راغې هغه په پښتو کښې وايو او کارځنې باسو که د هغه مراد د پاره پښتو توري وي که نه وي تر دې چې د ښځې، ماندينې، تېر،اړتينې، زګې په ځای موږ وايف،يا اهليه محترمه وايو او ليکو او دا هم چې موږ به هر پردي توري هم هغه شانته ليکو چې هغه په هغه پرادي ژبه کښې ليکل کېږي که په


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ويلو کښې موږ ويلې شو او که نه ۱۰۸"

پښتوليکدو "زماژوند او ژوندون" مخ ۲۴، ۲۵ وړومبی ټوک

عبدالصمدخان اچکزی د خپلې ژبې سره مينې په اړه په خپله سوانح عمري کښې ليکلي چې کله يې د ارزاني خويشکي د شاعري مطالعه اوکړه:

"ما چې وکوت په ځير ځير د معنې ولړ(د وحدت پر کنګڼ ميشت د کشر کلي) دا شانې د اټکل(منطق) ګرانې خبرې ډېرې راوړې وې خو له دې پسې مې د پښتو سره دومره مينه پيدا شوله چې بيا مې هېڅ ليکلې شی نه دې ليدلی چې په ډېره مينه مې نه وي لوستی او نه مې د پښتو څهٔ نوي توري متل يا پوهيته اروېدلې وه چې نه مې وي زده کړې تر دې چې اوس خو د ژوند مراد هم پښتو ده او باور لرم چې که که پښتانهٔ نور هېڅ نهٔ ونهٔ کړي خالي پښتو خپله کړي او خپل ټول اولس سرکاري او ځاني کارونه په پښتو کوي پښتولولي پښتوليکي، پښتو وايي نو به د دوي په سل کښې که نور نه اتيه برخې کار وشي هم بې خپله ورورې خوږه شي او هم به د نورو خلقو د هيلې او جنجاله وځېژي او د هغو سره بې وروري پخه شي ۱۰۹"



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ورمبی جلد مخ ۱۲۷

د دوی ځینې داسې کتابونه چې چاپ نهٔ دي یا چرته پهٔ رسالو کښې یه پهٔ اخبارونو کښې راغلي،پرېس کانفرنسونه دي،دا جلسې تقریرونه دي غنو صېب خخه کړی ده چې د "بابائے پشتون اور پشتونخوا" نامي کتاب کښې د جلدونو په شکل کښې چاپ دي ـپروفسرعبدالغني غنو لیکي:

"کتاب میں جو کچھ لکھا ہے وہ میں نے مختلف رسالوں، اخباراتوں اور جرائد سے لفظ بہ لفظ اور حروف بہ حروف نقل کیا ہے یا پھر بعض حضرات کے انٹرویوز کو کاغذ پر منتقل کیا ہے یا اخباری بیانات کو ہو بہو کتاب میں منتقل کرنے کی وجہ اپنی سہولت اور اخبارات میں جو جیسا ہے کہ تاثر قائم رکھنے کے لئے میں نے ایسا کیا۔ جنوبی پشتونخوا میں قومی اخبارات کا اجرائی ۱۹۷۲ سے ہوا اس طرح بابائے پشتون کی اس سے پہلے یعنی ۱۹۶۸ سے اپریل ۱۹۷۲ تک کی تقاریر اخبارات میں نہیں آسکیں۔ پھر ان کے اکثر دورے اور تقاریر کوئٹہ شہر کے علاوہ باہر کے پشتون علاقوں میں تھیں وہاں بھی اخبارات کے نامہ نگار نہ پہنچ سکے علاوہ ازین ایک المیہ یہ ہوا کہ خان شہید کی تقاریر جنھیں پارٹی ٹیپ میں ثبت تھی وہ کیسٹ ان کے گھر سے چوری ہو گئے۔ اور رہی سہی کسر سیلاب نے پوری کر دی جس میں بابا کے نوادر تحریریں اور خطوط اور اثار سیلاب برد ہوئے "۱۱۰

د دوی دېر لیکلي شوي اثار اوبو وړي دي چي د ځینې کتابونه


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لکه "کيميائ سعادت" او "ترجمان القران" لغات ما پخپله ليدلي دي "خو بيا هم کار پرې روان دي، چې د هر مخونه يې اوبو وړي دي" د دوی چاپ شي کتابونه چاپ شي دغه کېدی شي چې کوم ماخپل ليدلي دي هغه دا دي "زما ژوند او ژوندون" درې جلده کتابونه چې د "پښتو ژبه او ليکدود" د خان شهيد ليکونه يعني مکتوب يې په درې جلدو کښې په اردو او پښتو کښې دي چې غنو صيب کار پرې کړی او چاپ دي، د شبلي نعماني "سيرت النبي" او "لغات صمد" په نامه کتاب لا نه دی چاپ شوی، د "فيوچراف دي فريډم" "ازادي کي افق" په نامه په اردو کښې چاپ دی البته د پښتو کښې د "ازادی پائې" لا نه دی چاپ، د شيخ سعدي "گلستان" پښتو ژباړه خو ناچاپ دی، بله دا چي د دوی د هر مقالات او مکتوبات د غنو صيب په کتابونو کښې که نه شته نو هغه ليکونه شوکت ترين په خپله ليکلي چې ما دغه د اسلام اباد په لائبرېری کښې موندلي دي او دغه نوی تحقيق دی:

"کتاب کا پہلا مضمون یا مقالہ دراصل خان شہید کی ان تجاویز کا اردو ترجمہ ہے جو انہوں نے گول میز کانفرنس لندن کو بلوچستان میں آئینی اور قانونی اصلاحات کے لئے بھی بھجوائی تھی۔



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خان شہید کو یہ تجاویز تیار کرنے کو کہا خان شہید نے ڈاکٹر محمد رمضان اور جام نو اللہ خان کی مدد سے اپنی تجاویز تیار کر کے لندن بھیج دی۔ دوسرا مقالہ "بے بسی کی انتہا" کے عنوان کے سالنامہ "الحنیف" جیکب آباد میں مارچ ۱۹۳۸ کے اشاعت میں شامل کیا تھا۔ تیسرا، چھوتا اور پانچواں مقالہ ہفتہ وار "استقلال" کوئٹہ کے مختلف شماروں میں چھپ چکے تھا چھٹا مقالہ "بلوچستان اور آزادی" دراصل پشتو مقالے کا اردو ترجمہ ہے جو ہفت روزہ "پشتون" چارسدہ میں ۱۷ مئی ۱۹۴۶ کو چھاپا تھا۔ ساتواں مقالہ "انگریزوں کا تازہ اعلان اور پشتون "تمام پشتون کے نام بالعموم اور باچاخان کے نام پر۔ کتاب کا دوسرا حصہ خان شہید اوران کے نام مختلف اشخاص کی مکتوبات پر مشتمل ہیں۔ البتہ اس سلسلے میں حکومت ہند، حکومت بلوچستان اور خان شہید کے درمیان بڑی تفصیلی خط وکتابت ہوئی تھی جنکی پوری جلد ہی "انجمن وطن پیپر "میں سامنے آئی ۱۱۱"

لکه څنګه چې شوکت ترین صېب او غنو صېب د صمدخان لیکونه اوخطونه راجمع کړي دي،داسې يو بل کتاب چې ددوی خپلې مقدمې،اوځینې مقالې پهٔ مختلفو موضاعتو باندې لیکلې شوې دي غنو صېب ترتیب کړې دي "خان شهیدئی پښتون دریځ" چې پهٔ اردو کښې د "خان شهید کي متفرقات" پهٔ نوم چاپ دی پهٔ دې کښې غنو صېب پهٔ سر کښې د خان شهید علمي او ادبي زيار پهٔ باره کښې لیکلي دي:


www.sikaraam.com
Scanned with CamScanner

خان شهيدئی پښتون څو، اسې "په دې پاړکي کې د ترکي (مقالات) درسنی، مرکې (انټرويوز) په منګړې (مضامين)، تيکي (مقالات) درسنی، مرکې (انټرويوز) په منګړې سوي کښې د. دی ويناوې او يوڅونورې ليکنې يوځائی کړل سوي دي، دخان شهيدئی پښتون دليکونه، خطونه، اودژوند پښتونځخه داجوتېږي چې خان شهيدئی پښتون د خپل تولګي (سياست) د پېل ۱۹۲۰ دلسيزې داوستري ځخه بيا د ژوند دوستريو ورځو پورې په سوونو، اسې، تېکي، ورځ پاڼو او پاركوتو (رسائل ومجالې) لپاره ليکلي او په هغه کښې خپرې سويدي[112]"

صمدخان د ژوند په هر پړاو باندې ژور نظر لرلو او د ژوند ډېر تاوده سارۀ يې ليدلي وو خان شهيد چونکې اتۀ ژبې زده وی نو په دې نسبت يې د دې ژبو کتابونو مطالعه هم کړی وه که ديني، قامي، سياسي، شرعي، مسائلو ذکر راغلی د اخبارونو، مکتوباتو، جلسو، يه انټرويوګانو په زريعه يې خپل دريغ وړاندې کړی دی په دې سلسله کښې يې ډېرو پوهانوسره د خط وکتابت په زريعه علمي بحث ومباحثې شوی دي په اردو او پښتو ژبه کښې يې خلقو ته خطونه ليکلي چې په درې جلده اردو کښې چاپ دي اودرې جلده په پښتو کښې چاپ دي ـغنو


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

صیب د دویم چاپ په سریزه کښې لیکلي:

"تړې سره به یې د نښلون (رابط)لپاره لیکونه لیکل اود لیکون
به یې اندته وو، بلکې واګیخ (سیاسي) د پوهنې، ادبي، دیني
(شرعي) دود یا په ټولینیز لانجو یا د اند ډاک لیکلوهڅې کولې
پخپله به یې خان پوهاوه او دنورو دپوهولو لارې چارې به یې
ښودلی ۱۱۳"

شوکت ترین د "خان شهید کي سیاست" په نامه کوم کتاب چاپ
کړی دی هغه هم د دویي اخباري بیانات، پرېس کانفرنسونه، د
جلسو تقریرونو مجموعه ده ډېر علمي کانفرنسونه،سیاسي
بیانات، د وطن په حواله، د ملک انتظامات او د "نېشنل
پارټی" په حواله دي - په دې کښې دوی خپل دریځ بیان
کړی،شوکت ترین صیب هم دغسې د کتاب په سریزه کښې د
کتاب په باره کښې لیکي:

زیر مطالعہ کتاب خان شہید کی پریس کانفرنسوں، جلسو کی تقاریر اوراخباری بیانات کیساتھ۔
اسلام اباد کے پرانے اخبار رائی فائل اور مائکرو فلموں تک رسائی ہوئی، جن سے خان شہید
کے مختلف پریس کانفرنس، اخباری بیانت، اور عوامی اجتماعت سے خطاب کے بیانات یکجا کرنے کا
موقع ملا ۱۱۴"


www.sikaraam.com
Scanned with CamScanner

صمدخان دیني ،دنیاوي،سیاسي،تاریخي مطالعه زیاته کړې وه چې کله به یې د نوره کتابونو لوست کولو پهٔ حاشیې به یې پهٔ پښتو کښې دخپلو خیالاتو اظهار هم کولوچې د مولاناابوالکلام آزاد کتاب"انډیا وینز فریډم" یې لوستی وو پهٔ هغه یې خپل دریغ د حاشیې پهٔ شکل کښې لیکلي دي:

"مولانا ابوالکلام ازاد کی کتاب "انڈیا وینز فریڈم" کی حاشیں پر بھی انہوں نے کافی کچھ تحریر کیا ہے اس کتاب میں ازاد نے لکھا ہے کہ صوبہ سرحد کے چند قبائل میری پاس دہلی آئی تھی میں نے ان کو چائے بسکٹ پیش کئے پھر میں نے اس سے دریافت کیا کہ جب اپ باچاخان کی پاس جاتے ہیں تو کیا اپ کو وہ بسکٹ وغیرہ پیش کرتے ہیں تو انہوں نے نفی میں جواب دیا خان شہید نے حاشیں پر لکھا ازاد صاحب کا تو شاہی مزاج ہے ان کو سبز چائے چین سے آتی ہے ذوق اعلی پایہ ہے لیکن پشتون تو غریب ہیں ان عیاشیوں کا متحمل نہیں ہوسکتے اور پھر لوگوں کو ان بسکٹوں وغیرہ کے لالچ سے اور طمع سے نکلنا بھی ہمارا فرض ہے ۱۱۵"

عبدالصمدخان اڅکزی د پلار څخه پهٔ وړوکولي کښې د دیني کتابونو لوست کړی وو پهٔ دې پوهېدلو چې کني پښتانهٔ ناخوانده دي د علم کمي ده نو دهٔ هغه علمي کتابونه چې خپله یې لوستي وو دا یې غوښتل چې د دې ژباړه پهٔ پښتو کښې وشي - یوه کته به یې دا شي چې خلق به د اسلامي دود او طریقې نه پهٔ اسانه خبر شي بله د چې


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خان شهيد عبدالصمد خان اڅکزي سياسي ژوند

خان شهيد عبدالصمد خان اڅکزي هم زيات شي خلقو به پښتو سره مينه
پښتنو کښې به د ژباړې رجحان هم زيات شي خلقو به پښتو سره مينه
زياته شي قام به خپلې ژبې ته پام رواوړي چې دې سره به د خپل
تاريخ، سياست، جغرافيې او ملي اتلانو نه خبر شي او د يوې ژبې پۀ
هېڅ به تول قام کښې سياسي بيدارى، خپلوي، ورورولي راشي چې
دې سره به پښتون قام او پښتو ژبه به د سيال قامونو پۀ صفحونو
کښې ودرېږي - د ژوب د کلي يو حکيم صېب چې غنو صېب ترېنه
انټرويو کړې ده چې د صمدخان سره يې خط و کتابت شوي دي او بله
دا چې حکيم صېب د هم وايي چې خان شهيد د "بخاري شريف" ژباړه
هم کړې وه، چې غنو صېب د "بابائے پشتون او پشتونخوا" کښې
خوندي کړې ده:

"حکیم صاحب، بابائے پشتون فرشتہ انسان تھے حکیم صاحب، بابائے پشتون اور میرے درمیان
خط وکتابت کا سلسلہ قائم تھا لورلائی میں بھی بابا کے خطوط آتے تھے لیکن افسوس یہ تمام خطوط
ضائع ہوئے ۔ حکیم صاحب، خان شہید نے بخاری شریف کا ترجمہ کیا تھا اور غالباً یہ صحیح بخاری
کا پہلا ترجمہ تھا ۱۱۶"

پروفېسر عبدالغن غنو صاحب د صمدخان لور "علي عهده
بېگم" بيان هم پۀ "خان شهیدنی پشتون اور پشتونخوا" کښې
تحرير کړی دی چې هغه وايي چې خان شهيد پۀ ترجمه او


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تشريح سره ماته قران وئيلو:

"قرآن مجيد با ترجمہ کی جب تلاوت فرماتے تو حاشیے میں بعض جگہ اپنی تشریح تحریر کرتے جہاں وہ مناسب سمجھتے جب مجھے قرآن مجید پڑھاتے تو ساتھ ہی ترجمہ اور تشریح بھی کرتے میں پشتو لکھتی جاتی، لیکن چونکہ وہ جیل میں ہوتے یا پھر فارغ نہ ہوتے لہذا سات پارو تک تشریح لکھوائی میں نے عرض کیا کہ، خوربی بی گل اغا مکمل ہوجائے تو پھر میں اسے چھپواؤنگی، بابائے پشتون، یہ تو محنت طلب ہے حاشیوں کی ضرورت ہے جب پیسے ہونگے تو میں ضرور تیرے لئے چھپوادونگا ۱۱۷"

عبدالصمدخان اچکزی عربي ژبه پهٔ ليکلو وائلو سره زده وه اتلس تفسيرونه او د احاديثو شپږ د صحيح ستاح کتابونه يې ځوځو واري پهٔ تفسير سره کتلي دي۔

علي عهده بيګم چې د خان شهيد مشره لور وه پهٔ پښتو ژبه يې ښهٔ عبور خاصل وو خان شهيد به پهٔ هره مسله چې وه مختلف مکتب فکر خلقو سره به يې د خط پهٔ زريعه هغه مسله بحث کوله د جېل څخه خپلې لورکې پهٔ نامه خط چې د ژبې سره د مينې اظهار بل پهٔ پښتانهٔ معاشره کښې د ښځې کردار او ستاينه خومره پهٔ ښکلي انداز سره خپلې لورکې ته د خط پهٔ زريعه بيانوي خان شهيد ليکي:



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# ۱۹۳۵، ګراني لورکی

ستره د ميني ډاک خط او د پښتو ژبې سره ستره مينه د داد ور ده خدای پاک دې د پښتون قام ټولو ښځو ته د پښتو ولی داسې مينه ورکړي چې پښتون قام پښتون او د پښتونخواپهٔ سر لوړي او د سيالانو سره سم شي۔

ستاسې

عبدالصمدخان۱۱۸"

خان شهيد د خپلې لورکی سره د پښتو ژبې د مينې ډاک خط څومره داد ورکوي او د پښتون قام د ټولو ښځو ته د ازدی او قامي کار کښې دعاګانې کوي ۔ پهٔ دې شان يو بل ليک چې خان شهيد د خپل کلي کور وطن نه لرې د پنجاب پهٔ سيالکوټ ضلع جېل کښې د ازادی د نعمت د محرومی ژوند تېروي بيا هم پهٔ داسې حالاتو کښې د خپلو ماشومانو د زده کړې د کلي مشران،وارهٔ يادوي ۔

سيال کوټ

نېټه :۲۹:۱۱:۱۹۶۸



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

گراني لورکۍ ښښتن دې مل شه

بنه یم او ښه مو غواړم ستاسو خط تر اوسه نه دې راسېدلی او نه

زه نوري خبرې لرم چې وې هغه مې اغاجان(د دوی مشرورور

حاجي محمداسلم)ته ولیکلې د کوچیانو د ازموینې څه وشو

کله به کېږي د کور کلي سیمې او د ولات ټولو مشرانو،

کشرانو، سپین ږیرو خواخوږو او ملګرو ته مې د مینې ډک

سلامونه وایه د کاکړې سترګې څنګه دي ؟ هغه ته زما سلام

وایه،

ستاسې،

عبدالصمدخان[119]"

په هره زمانه کښې په ګړده نړۍ کښې په یو وخت په کروړونو

انسانان ژوند کوي خو په دې انسانانو کښې ځینې داسې وي

چې د ګوتو په شمېر وي صمدخان اڅکزی د نړۍ په هغه

انسانانو کښې دې چې د ګوتې په شمار یادېږي -

صمدخان اڅکزی د خپل چاپېرچل ښه مطالعه کړې وه نو د

هغې په رڼا کښې د خپل ژوند مرام او هغه ته یې خپل هدف

ټاکلې وو خان شهید زیاته مطالعه په قیدوبند په دوران کړې ده



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خو په دې قیدوبند کښې دوی د ډېر مشکلاتو سره مخ وو کاغذ، قلم، کتابونه به یې په حساب ورکول چې د دوی چاپ شوي کتابونو باندې د پاڼې او کتابونو تعداد جېل سپرډنټ دستخطونه جوت دي. په داسې حالاتو کښې خان شهید د پښتو ژبې لیک دود، د خپل ژوند سوانح عمري، ګلستان سعدي، کیمیائی سعادت سیرت النبيﷺ، ازادي کي افق، صمدخاني قاموص، اخبارونه، مجالې په زرګونو اخباري لیکنې او خطونه په دې کښې ډېر کتابونه مضمونونه اوبو اوړي ځنې کتابونه چې بابا شهید شو هغه وخت مشر زوی یې ځنې کتابونه نور ډېر قیمتي لیکنې په غصه کښې سوزولی دي.

## ۷ـ قید و بند

صمدخان اڅکزی په کوم وخت چې سیاسي مبارزه پېل کوي د فرنګي سرکار وو تر نیمائي یې زیاتي نړۍ په خپل تسلط کښې وه په هر ځای په هرڅهٔ کښې یې خپل د خوښې خلق نوکران ساتلي وو پښتانهٔ بې کسی، ناپوهی نه یې دغه ګته پورته کړه چې پښتنو یې په خپلو منځ کښې بې اتفاقه او بې اعتباره کړل، نهٔ چا سیاست کړی وو نهٔ څوک د سیاست په مانا


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پوهېدل فرنګي سرکار د پښتنو، هندوانو، مسلمانو پۀ شریکه مذهبي او لساني دښمن وو ـ صمدخان ډېر پۀ وړوکولي کښې دې ته پام رسېدلے وو چې ازادي، دپاره کوم ډول کار کوول پۀ کار دي خو چې سیاسي هلې ځلې اخبارونه، مجالې پۀ ګړد بلوچستان کښې نۀ وو فرنګیانو پۀ ټول هند بادشاهي وه مظبوطې چهاونیانې یې پۀ برټش بلوچستان کښې جوړې کړې وې د سیاست مخه نیولو دپاره یې خان، ملک، سردار، نواب، مولا پیدا کړي وو پۀ داسې حالاتو کښې سیاسي کار چې سرکار او خپل خلق دې مخالفت کوي د ولایت ټول نظام د دوي پۀ واک کښې وي خو چې د صمد خان پۀ شان خوصله، شجاعت لرونکې شخصیت وي چې د قام غلامي وجه یې پېژاندلې وي غلې نشي کښېنستلې پۀ داسې حالاتو کښې د دومره لوی طاقت خلاف اواز چې تر نیمائي زیاته نړۍ یې نیولې وي د ازادۍ رېغ پورته کوي سرکار یې دې ته نۀ ایله کوي چې څوک دې د قام پۀ مانا کار وکړي ـ د تاریخ پۀ هر دور کښې چې چا هم د زور او ظلم پر خلاف خپله مبارزه پېل کړې ده ګړد تاریخ په دې ګواه دی چې ظالم ته لاره نیول او خند جوړېدل سرکار څومره جرم ګڼي بلکې د نظام نه بغاوت وي چې سرکار ته هېڅ



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

کله قابل قبول نهٔ وي هغه مبارزین چې د قام وطن د ازادۍ بېرغ پورته کوي سرکار يې پهٔ جېلونو او تخته دار صرفه نهٔ کوي - د دروغو او د ظلم پهٔ بنیاد جوړ شوې نظام چې بادر تل پهٔ کښې د خپل سر خطره ويني د نورو خلقو وينې ورته هېڅ نهٔ وي پهٔ داسې حالاتو کښې چې حکومت ته د نسکورلو ویره وشي بیا سرکار کله دغه خلق پهٔ یوه او کله بله بهانه جېلونو کښې بند ساتي چې د اولس د منځه لرې پاتې شي -

صمد خان پهٔ اول ځل څنګه جېل ته تلی وو؟او پهٔ څه پورې نیولی شوی وو؟دې باره کښې دوی لیکلي دي:

"پولیس انسپیکټر يې راوغوښت موږ يې بوتلوشپه مو دهغه په کورکې تېره کړله سهاریې پولیس لائن له بوتلوځان له بارک يې راکي یوه روپۍ سرې پهٔ سر يې خرڅ راکاوه،لیدلوله چې څوک راتله نهٔ ګرزول يې - د کلي ښاغلي ادرمان خان هم راغې ویل يې چې دوي ناست دي زهٔ هم درسره کښېنم نو هغه یه هم راسره بند کې دلته موږ ۲۷شپې تېرې کړی ۱۲۰"

صمد خان غوښتل چې د غازي امان الله خان ملاتړ ته پهٔ پټه لاړ شي د هر چانه پهٔ پټه کور نه روانېږي خو چې مشر ورور يې وويني نو هغه هم د تلو اراده ورسره اوکړي داسې نور د بر خلق


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وخت سرکار پرې خبر او دوی ۲۷ ورځې خان سره تیار شي تر دې بندي اوساتلو.

پښتنو دپاره دېورند کربښې پورې غاړه تلل ګران وو او ګران دي د دوی په ژوند د ازاد افغانستان حالاتو، د غازي امان الله خان د حکومت د ختمېدو او د وطن د پرېښودلو ژوره اغېزه وشوه. عبدالصمد خان او د دوی ملګریو د پښتون قام د ازادۍ او د تنظیم لارې ګودرې د لټولو دپاره په لاهور کښې د ټول هند د مشرانو په غونډه کښې ګډون وکړو خو په واپسۍ د سرکاري جرګې په پرېکړه دوه کاله بندي شو. دوی په خپله اپ بیتي کښې د دې ټولې وقعې ذکر د صفه دوه دېرش نه وخله تر ووشپېته پورې په دویم ټوک کښې کړی دی د دویم بند په باره کښې لیکلي دي:

"موږېبرته لین له راغلوسباله چې راغلوجرګې ته ورغلود ورتلوسره ښاغلي نوراحمدخان ویل چې تاسوته جرګې دوه کاله بنددرکي او دوه کالوپس به بیاددوه کاله لپاره نیک چلانې لاسکري ورکوي[۱۲۱]"

د دوی دویم بند په باره کښې عبدالرحیم مندوخیل په یوه مقاله کښې لیکلي دي:


www.sikaraam.com
Scanned with CamScanner

"په کال۱۹۲۹کښې د محکوم پښتون د یووالی، ملي خپلواکی، د اولس واک او د دې دپاره لازي سنجول او عملي کول پېل کړۀ او په دغه حال کښې په دسمبر۱۹۲۹کښې لاهورته ولاړ،چرې چې دهندکانګرس،بهارت مهاسبهااو نورو ډېرګوندونوکالنی غونډې کېدې - په دې کښې یې د ځان او هېواد دپاره ډېره رڼاوموندله..... دکال۱۹۳۰په سرکښې یې د ملګرو په خوښه اوکومک یې په کلو کښې سیاسي کار په جوماتونوکښې له وېناوو پېل کړلو-لومړی وېنا یې د خپل کلي په جومات کښې وکړه - خو ډېر ژر دی،عبدالسلام،او ایوب خان فېرنګي بندیان کړل -اوپه جولائي۱۹۳۰کښې د فېرنګیانوتابع فرمان جرګې دوه کاله سزاکړل ۱۲۲"

د انګرېزانو حکومت وو په برټش بلوچستان او په بلوچستان کښې په قامي او سیاسي کارونو بندیز وو د قامي سیاست په ځای د خان،ملک ،نواب او سرداری رواج وو چې فېرنګیانو خپل نظام چلولو دپاره تاکلي وو او چې کله فېرنګیانو دوی د سیاسي کاره مانې کوو هغه فېرنګیانو به ورته ویل چې تاسې ته سزه به خپل خلق درکوي او هغه وشول چې جرګې وله دوه کاله قید ورکړو جرګه هسې برایې نام وه نور چې سرکار ځه


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

غوښتل هغه به کېدل په داسې وخت کښې چې د دوی عمر دوه
ویشت درویشت کاله وو، خو حوصله او همت یې د غرۀ په شان
وۀ سرکار چي دوی د ملګرو سره قېد کړل دوی لیکي:
"په نورو خو نۀ یم خبر چې وار ختا سوي یا بېرېدلي به وي که نا
زۀ خپله چې دلینه را راون سوم د وړاندې ژوند په چورت کي څه
پوب شانته وم خوچورت مې د ژوند په ښه او رڼا خواکي ووچې
په دې بند به اولس وېښېږي بیا به ازادي راځي هېواد به ازاد
وي انګرېز به نۀ وي او زموږ به خپل سرکار وي په وېره یا
خوابدي نه یم پوي سوې باور مې دئ چې دغه وخت کښې
دار(پهانسي) له بیولای او دغه زړۀ او دغه چورت مې وایې هم
به هیڅ خوابدي او وېره نه وای پوه سوی۱۲۳"
صمدخان د کلکو او ټینګو ارادو څښتن وو سره د لوړې
حوصلې او همتناک انسان وو، د ژوند ارمان یې د قام ازادي
وه، د قام او وطن سره یې بې کچه مینه لرله د قام مینې دې
ځای ته رسولی وو چې سرکار دلاسه هر ستم چې وي په دې هیله
یې تېروي چې ګني یوه ورځ به د سختۍ ژوند ختمېږي پښتانۀ
به د خپل وطن واکمن وي ، وطن به ازاد وي، د جبل په تېرو
تیاروکښې د ازادۍ سره مینه کښې وایي چې که تخته دارهم


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وي په دې چورت کښې هېڅ نه يم وېرېدلی.

صمدخان د ژوند او قام د ازادۍ لاره پېژاندلې وه د قید وبند
یا نورو سختیو باوجود یې خپله مبارزه تل دوامداره او تو
ساتلی ده خان شهید په دې پوهه وو چې که هر څو قیدوبند
راځي قام به په دې پوهېږي چې صمدخان په کوم تور د فېرنګي
په جېلونو کښې بندیوان دی چې هېڅ بله ګناه یې نشته خو
پښتانو ته ښهٔ ژوند غوښتلو دپاره یې خپل ژوند،د کور،
کلی،مور،زامن،لونړه هر څهٔ پرېښودلي دي. هسې خو د جنوبي
پښتونخوا کلیو علاقې په میلونو میلونو کلومیټره سره لرې
دي چې مېډیا،اخبار،ټرانسپورټ هم نهٔ وو خو قیدوبند د کار
اوکړو چې قام د خبرولو او سیاسي کار کولو ته لېواله شول او
چې کله به دوی د جېله رایله کېدو نو ټول اولس به په استقبال
کښې ورته ولاړ وو چې سرکار به دغه ډول چلن ولېدو خان
شهید به یې بیا اونیولو چې له جېله به رایله شونو کار به یې
نور هم تېز کړو.

کومه غونډه چې بلوچو او پښتنو د خپلواکۍ دپاره د صوبې نه
بهر شوی وه چې دوی یې صدرات کړی وو په دې کښې د
بلوچو له لوریه یوسف علي خان مګسي او د پښتنو له لوریه


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

صمدخان وو. نولس سوه درې دېرش کال(۱۹۳۳) يې پۀ تنظيمي هلوځلو تير کړو بيا هيند ته لاړو چې واپس راغی نو ونيوۀ شو:

"پۀ دې طريق د قامي خپلواکۍ او اولسواکۍ دپښتون بلوچ قامي تحريکونه يو بل سره ملګري سو اوپۀ دې کښې خان شهيد د پښتنو له خواه مير يوسف علي خان مګسي د بلوڅو له خواه څخه برخه واخيستله د۱۹۳۳ميلادي کال يې پۀ سياسي اوتنظيمي کارکښې تېرکړ . له د نوروکارونو نه علاوه هند ته ولاړ هلته يې ډاکټراقبال اونورخلق هم وليدل . دمسلم کانفرنس غړېشو. او پۀ صوبه کښې د اخبارونو او نشرواشاعت څخه دبنديزلرکولودپاره هلې ځلې وکړې پۀ دسمبر۱۹۳۳کښې ئې پۀ حيدرابادسنده کښې د بلوچستان کانفرنس کالنۍ غونډه وکړه له دې ورسته ئې په کراچي کښې خالقداد ديناهال کښې وېناوکړه اوپۀ جنوري ۱۹۳۴کښې چې کوټې ته راستون سونوونيول سواوبيادرې کاله سزا سواوله بندپوره کولوورسته به پينځه زره کلدارې زرضمانت غوښتل کېدۀ مچ جېل کښې بندي کړ ۱۲۴"

هسې خو پۀ ټول هند کښې سياسي هلې ځلې کېدلې مېډيا وه د ټرانسپورټ سهولياتونه موجود وو پۀ برټش بلوچستان او



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بلوچستان کښې انګرېز دا نۀ غوښتل چې کومې سیاسي هلې ځلې پۀ ټول هند کښې رواني دي دلته دې وشي او تر دې وخته پۀ ټول بلوچستان کښې اخبار او سیاسي ګوند نۀ وو خو دوی پۀ دريو ملګريو خپله مبارزه دوامداره ساتله چې پۀ نتيجه کښې اولسونه هم بيدار کړل اخبار اېکټ يې د جېله منظور کړو او پۀ ۱۹۳۸ کښې پۀ اول ځل يې د يو سياسي ګوند بياد کېښود .

دوی چې د ازادۍ کار ته مله تړلې وه د جېله راخوشي کېدو پس به بله پروانه ورته جوړه وه چې پۀ تاسې دې ښار ته بنديز دی دغه جامې ما اچوه، دغه کلي ته ماځه، جلسې جلوس ماکوه او داسې نورې هيلې بهانې باندې به يې تل باندې ساتلو . قيد وبند دوی د ازادۍ لارې نۀ شوو اړولې خو سرکار هم داسې پۀ اسانه دوی دې کار ته بۀ ايله کوو د جېلونو او سياسي مبارزې سلسله يې دومره اوږده شوه چې اخر پۀ مرګ تمامه شوه . د کال ۱۹۳۴ دويم ځل بند پۀ باره دوی ليکلي دي:

" سردارجاپرخان زۀ دکوټې جېل ته ورسولم هلته يې پۀ سي کلاس کې خوېۀ يوبېل واړه غوندې سرائےکې ځای راکې چې پولټيکل وارډ به يې باله څوک يې نۀ راپرېښول دوې ورځې پس پولټيکل درې کاله بندي کړم او د درو کالوپس بياد دروکالو


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

لپاره ضمانت واخیست"۱۲۵"
صمد خان اچکزی د جېل ژوند ډېر د سختیو سره وو ما دلته د
دوی د جیل ژوند لانډ شان بیان کړی ډی هغه ځکه چې خان
شهید د جېل زمانه خان ته کتاب غوارږي زۀ کوشش کوم چې
خپلو لوستنکیو پام د دوی سیاسي مبارزی او قیدوبند ته
رواړوم او دلته د دوی قیدوبند چې ځومره د فېرنګي او
پاکستان پۀ جېلونو کښې دوی تېر کړی دی هغه مختصر شان
پۀ لیک کښې راولم۔
لکه څنګه چې د دوی مشرې لور علي عهدې بېګم بیان چې
پروفېسر عبدالغني خان غنو تحریر کړی پۀ دوایم توک کښې
هغه وایي چې:
"میری والدہ کافی عرصے سے بیار تھی، اس دوران بابا کی گرفتاری کے احکمات صادر ہوئے تو بابا
نے حکومت وقت سے کہا کہ چونکہ میری اہلیہ بیار ہے لہذا آپ گرفتاری کی احکامات ذرا معطل
کرے لیکن انہوں نے انکار کیا۔ بابائے پشتون اکثر جیل میں بند ہونے کی وجہ سے نا تو فیملی کی
خوشی اور نا ہی غم میں شرکت کر سکے ۔۱۲۶""
بل ځای پۀ اتم توک کښې پۀ ۱۸او ۱۹ مخ باندي د غلام محي
الدین خبرې نقل کوي چې خان شهید نه هغه پوښتنې کوي هغه


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وایي۔

"چې یو انګرېز جېلر ورته وېل چې صمدخانه ارادې دې هغه دې
که بدلي شوي دي خان شهید ورته وېل زما یوه خبره ده
تاسې چې هرڅهٔ کولې شئ اوکړئ،جېلر ته به هري پور جېل
ولېږو، تاسي ما قتلولې هم شئ،جېلر قتلوي دې نه
تکلیفونه به درکوو هغه به ستاسو خان ملک،نواب درکوي چې
تر څو د خپلې خبرې اوړېدلي نهٔ وی، خان شهید تاسې پهٔ قید
کښې یم هر څهٔ کولې شئ خان شهید وائي موږ یې هرېپور
روان کړلو خو پهٔ لاره کښې میانوالي جیل ته یوړلي د میانوالي
جېل جېلر یو کاغذ ته کتل د دي پس یې زما لاس پښې وتړل
یې پهٔ ډکر پړمخ سملول کټ یې راباندې واچولو څلور تنه پهٔ
کېنستل او تاش یې شروع کړو ماته یې وېل صمدخان
پښتونستان جوړېږي ما ورته وېل انشاالله زرده چې جوړېږي
دا دې پس زما لاس پښې مړهٔ شول زهٔ پهٔ ځان نهٔ پوهېدل چې
دوي پوهه شول هسپاتل ته یې وړې ووم[۱۲۷]"

د دوی قید وبند دورانه درې دېرش کاله جوړېږي د دې ورځې
او قیدوبند حالات خان ته کتاب او تحقیق غواړي۔

خان شهید خپل مرام ته د رسولو پهٔ درشل ولاړ وو، کوم تحریک



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

چې هغه ډېر په لږو ملګرو شروع کړې وو، اوس د دوی سره په زرګونو ملګري وو خان شهید چې کله جېل کښې وو نود جېله یې د صحافت ایکټ د پاره سرکار ته درخواستونه ورکړل، بیاچي له جېله راخوشی کېږي نو د "استقلال" په نوم د قام د ازادۍ اواز خلقو ته رسولو دپاره دصحافت لاره نیسي او دلږې مودې پس د "انجمن وطن" په نوم د یوسیاسي ګوند بنیاد ږدي، او چې په ۱۹۳۹ کښې نړۍ وال جنګ شروع کېږي صمدخان اچکزی د "انجمن وطن" ګوند د بیرغ سیورې لاندې چې د د ټولې جنوبي پښتونخوا دوره مکمله کړه نو خان شهید یې اونیو او شپږ میاشتو پس بیا رها شو تر دې ورستو په کور کښې نظر بند وساتلو. فېرنګیانو دوی سره د ملګرو تل د خپل اولس نه لرې او بندي وساتل خو خپل هدفونو نه وانۀ وړېدلو چې کله کانګرس "هند پرېږدۍ" تحریک په ۱۹۴۲ کښې شروع کړو نو انجمن وطن هم دې د پاره ډېرې هلې ځلې وکړې او اخر دوی سره د ملګروونیول شول :

"چې په کال ۱۹۳۹ کښې نړۍ وال جهګړه ولګیده نوانجمن په خپل بنیاد د انګریز سره د عدم تعاون پالیسي جوړه کړه .اوبیاچې په ۱۹۴۲ کښې کانګرس د انګریز دویستلو د پاره له



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هندوستان څه ووځی، چغه ورکړه، نوانجمن وطن بیا پر خپل بنیادپه دي تحریک کښې د پرې هلې ځلې اوسترې وکړې نو فیرنګیانو خان شهیداوملګري په کال ۱۹۴۲ کښې بندي کړ ۱۲۸"

پهٔ ۱۹۴۲ کښې ونیوهٔ شو او پهٔ ۱۹۴۵ کښې هغه وخت را ایله شو چې د تقسیم پلان شروع شو خو د ۱۹۴۶ نه ۱۹۴۷ پورې پهٔ کور کښې نظر بند وساتل شو، وطن نه فېرنګی پهٔ تلو مجبوره شو پاکستان او انډیا دوه ملکونه پهٔ وجود کښې راغلل پاکستان د جوړېدو سره سم یې پهٔ خپل کور کښې نظر بند کړو هېڅ ګناه یې معلومه نه وه مقدمه پرې وچلېده پاکستان ګورنمنټ شپږ کاله بند ورکړوچې دوی خپله لیکلي دي:

"زهٔ یې د یو انګرېز ای جي جي په ویلو، تر دغه "ریګولیشن" لاندې بیا ونیولم او پهٔ اګست ۱۹۴۸ کښې بندیخانې ته ولیږلم د دې کړنې هېڅ لامل نه وښول سو په اګست ۱۹۴۹ کښې یې زهٔ د روهٔ "صوبه سرحد" د ولات د هري پورمکوربند (سنټرل جېل) ته ولیږلم د هري پورڅخه یې زه بېرته بلوچستان ته راوستلم، چرته چې زهٔ پهٔ جنوري ۱۹۵۴ کښې هغه مهال ایله کړم کله چې زما د بې ځایه نیولو (خبس بېجا) درخواست د "جوډیشیل کمشنر


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بلوچستان "په منځ کړي چلېدهٔ ۱۲۹"
پاکستان د جوړېدو سره سم پهٔ "انجمن وطن" ګوند باندې بندېز ولګېدو دوی ګرفتاره شول ډېرو ملګرو له سختیٔ وطن پرېښودلو پهٔ دوی او ملګرو قسمه قسمه تورونه ولګېدل چې پهٔ نتیجه کښې یې ژوند د پاکستان جوړېدو سره نوره هم سخت او د تکلیفونو سره مخ شو۔ خان شهید چې شپږو کالو پس رایله شود دې ذکر دوی پهٔ دې رنګ کړی دی:

"دمسلم لیګ د دی تورلګونې پایله دا ده چې د پاکستان د جوړېدو روسته په دغو نهه کالونو کښې زهٔ یکړ یوکال او اتهٔ میاشتې بندلاد دغه ډول خاربندي (نظربندي) څخه، ژغورل سوې یم د خلاصون هم پهٔ څلوروکښتونو (اقساط) کې زماپه برخه سوی دی په کوم کې چې ترټولو اوږد د شپږومیاشتووو، د دغو زورونو "سخت ګیریو" د رجوتولو لپاره زهٔ یې کله هم دیوې منځ ګری، ته وړاندې نه کړم اونهٔ زماد پرله پسې غوښتنوسربېره زهٔ دخپل تور په څرنګوالي "نوعیت" خبرکړل سو ۱۳۰"

د ۱۹۴۷ نه ۱۹۵۸ نولس سوااتهٔ پنځوس پورې چې دوی لیکلي دي، چې پاکستان په دې دوران کښې یو کال او اتهٔ میاشتې ژوغرلی شوی یم او دغه خلاصون هم په څلورو قسطو دی چې



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

اوږده موده یې شپږ میاشتې ده،د قام د ازادۍ پایله د شوه چې د دوی ژوند ډېر د سختو سره مخ شو.اود انګرېز نه پس بل ظالم سره یې سر شو چې خان شهید یې د یوې ورځې دپاره هم سیاست کولو ته نهٔ پرېښودلو پهٔ ملک کښې ننه د قامونو دبرېرۍ پر بنیاد "نېپ" جوړول او د ون یونټ پر خلاف مبارزه پېل کول وو چې پهٔ نولس سوه اتهٔ پنځوس کښې ایوب خان مارشل لاولګوله نو بېرته یې بیا بندي کړو او د سپېشل ملټري کورټ لاندې مقدمه پرې وچلېده چې څوارلس کاله د قیدبامشقت سزا یې ورکړه :

"سپېشل ملټري کورټ کښې مقدمه پر وچلیده او د دسمبر ۱۹۵۸ په دویمه هفته کښې څوارلس کاله د مشقت د بندسزا ورکړه او بیاد ایوب خان فوجي امریت پوره لس کاله هري پور، ملتان، مچ لاهوراونورو بندي خانوکې تېر کړل.....چې پر ۲۵ اپریل ۱۹۶۸ دپوره سزاتېرولووروسته خان شهیدله بندڅه ایله سواویهٔ اپریل ۱۹۶۸ د بندوروسته د لومړي ځل لپاره کوټې ته راغلو نو د کوټې پرهوائي ډګر یې ډېر لویې او تود هرکلی وشو استعماري حکمرانو له دې څه لویه وېره وکړه اوپه یو څوورځو کښې بې بېرته بندي کړ ډېر ملګري یې هم بندیان شول او


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

بیرته په ۲۴م فروري ۱۹۶۹ کښې رها کړې شو ۱۳۱"
چونکې مارشال لاوه صمد خان ته د وکیل نیولو اجازه هم نوه چې کله جرنېل پوښتنه ځنې اوکړه چې خان صاحب د خان په صفائي کښې څۀ وایې نو هغه ورته اول نکار خو بیا یې د کرنل په وړلو خان شهید ورته وېل زۀ چې خپل قام ته یو ولی، ښۀ ژوند، په پښتوژبه کښې تعلیم او د پښتانو د حق خبره کوم بیا زۀ غدار او تاسې چې پرون په عمل سره غدارۍ اوکړه د صدرسکندرمرزه تخته مې واوړوله دې سره کرنل په غصه شو او دوی ته یې سزه ورکره د" نېپ" په ټولو مشرانو کښې واحد صمدخان اڅکزی وو چې د ایوب خان او یحیا خان په مارشل لا په ټوله زمانه کښې قید وو۔

ازادي د انسان بنیادي حق دی خو خان شهید د دې نعمته تل محرومه پاتې شوی دی د فرنګي د تلو سره په پښتنو ښه توقه وشوه چې ګنې موږ ازادي تر لاسه کړه پښتانۀ خوشحاله کېدل چې ګني انګرېز زموږ په قربانیو له دې ځایه په تلو مجبوره شو خو د پاکستان د جوړېدلو سره سم د پښتنو په قامي تحریکونو بندېزونه، د غدارۍ او د هندوانو ایجنټونو په نامه یاد شول د فرنګي سرکار مراعات یافته خلق چې دوی د پښتنو د غلولو


www.sikaraam.com
Scanned with CamScanner

دپاره ساتلي وو ورسره پير، ملا، خان، ملک يې ملګري شول
د ازادۍ غوښتونکي په پاکستان کښې کافران شول. دې دپاره
په پاکستان کښې تر ننه پورې پښتانه لګيا دي چې خانونه د
غدارۍ د الزامونو او فتوو نه خلاص کړي خو لا يې برۍ موندلې
نه ده.

په کال ۱۹۷۰ کښې چې چرته يو صحافي ترې نه پوښتنه وکړه
چې ته د فرنګي او د پاکستان په جېلونو کښې څومره موده
قېدو بند تېر کړې دی نو صمدخان ورته وايي:

"د خان صېب عمر دا مهال دوه شپېتۀ کاله دی، د ژوند برخه
يې زياتره په بند کښې تېره کړې ده. پاکستان د جوړېدو ورسته
هغۀ څخه د بند موده وپوښتله نو ويل يې د دې شمېر لږ ګران
دی د بندې وسېدو موده ډېره څخه دوه کاله جوړېږي او دا پۀ
بېلو کښتو (اقساط) خپره ده. پاکستان د خپلواکۍ پۀ دوه
ويشت کالونوکي زماشل کالونه د خپل هېواد په بېلا بېلو
بندونو (جېلونو) کې تېر سوي ۱۳۲"

فرنګيان د زموږ لساني، مذهبي دښمن وو. پاکستان چې د
مسلمانانو ملک دی خو پۀ دې کښې هم د دوی ژوند نوره هم
ګران او سخت شو او د جېلونو سلسله يې نوره هم زياته شوه د


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

فرنګي په ضد یې چې کومې غوښتنې وی هغه ډول غوښتنې یې پاکستاني ریاست کښې هم لرلی،دوی لیکلي دي چې په خپل هېواد کښې په دوه ویشت کالو کښې دوه کاله بهر او شل کاله د پاکستان په مختلفو بندیخانو کښې ما تېر کړي دي ـ

صمدخان په ۱۹۰۷ کښې زېږدلی وه او په ۲ دسمبر۱۹۷۳ کښې شهید کړی شو ـ دوی قام د ازادۍ دپاره دوه دېرش کاله قیدوبند تېر کړو دا قیدوبند څومره ورځې میاشتي او کالونه جوړېږي د په خولهٔ خو اسان دي خو د یوې ورځې بند تېرول هم چې هیڅ ګناه دې نهٔ وي ډېر ګران کار دی ـ

د"خان شهید عبدالصمد خان اڅکزي علمي اوادبي خدمت" نومي کتاب کښې "ډاکټرلیاقت تابان"دلوړې حوصلې خاوند" په مقاله کښې لیکلي دي او د دهٔ دېرش کاله جېل یې په میاشتو کښې شمېر کړي اوپه کالونو حساب کړی هغهٔ لیکلي دي:

"خان شهید په ۱۹۰۷ کښې وزېږېدواو په ۱۹۷۳ کښې شهید کړل شو.دا ډول دهٔ لږ او ډېر۶۶ کاله عمر تېرکړی په دا۶۶کاله یې د ۳۰ کاله د زندان په تورو خونوکښې بندېوان پاته شو،پاته ۳۶ کاله یې لومړي۲۳د ماشومتوب اونوې ځوانۍ په دې



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

حساب کېږي نهٔ راځي چې په دا وخت کښې انساني ذهن او بدن خپل اوج ته رسېدلی نهٔ وي، نور نو یوازې ۱۳ کاله پاتېږي په کوم کښې چې خان شهید پهٔ خلاصه فضاکښې سیاسي، علمي، ادبي او اولسي ژوند او مبارزه وکړه. د دې ۱۳ کالو یوازې۱۳کالو دپاره۳۰کاله په بندیوان کښې تېرېدل څنګه سودا ده؟ لږ دې شمېرته ځیرشئ دا یوازې ۳۰ کاله نهٔ وښايي چې داپهٔ شمېرکښې ۳۶۰میاشتې ۱۰۹۵۰ورځې، ۲۶۲۸۰۰ (دوه لکهه دوه شپېتهٔ زره اته سوه) ګهنټې جوړېږي ددې وخت یوې یوې شېبې د ارزښت خبره که موږ راواخلونو زمونږ موضوع به بله خواته شي[۱۳۳]"

صمد خان د ژوندون ډېره برخه د فېرنګي سرکار او د پاکستان پهٔ جېلونوکښې تېره کړې شوې ده پهٔ جنوبي پښتونخوا کښې يې پهٔ داسې حالاتو کښې سیاسي میدان ته راودانګل چې وحشت اوبربریت وو، خلق پهٔ طبقو وېشلي شوي ووطبقاتي نظام وو چې لااوس هم روان دی، حق او دناحق تعین چا نهٔ شو کوی دوی قام د بدو ورځو ته پام راسېدلی وو قام يې دانګرېز سرکار د زور او ظلم نه خبرکړوخو سرکار چې د قام مذهبي، لساني، جعرافیايي، دښمن وو، نو صمدخان يې څو څو ځله جېلونو ته



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

واچوو پاکستاني استعماري قوتونه چې د فرنګيانو نوکران وو
د هغوی د نوکرۍ لاج ساتلو دپاره یې صمدخان یوې ورځې
دپاره په ازاده فضا کښې سیاسي هلو ځلو ته پرې نږدو تل یې خان
شهید د اولسه لرې اوساتو خو چې په دې بندي کېدو په دې
زور، ظلم سترې نۀ شول نو اخر یې د شپږشپېتو کالو په عمر
کښې د عدم تشدد علمبردار د ازادۍ د بهیر نۀ سترې دونکې
مبارز په ملک کښې ائیني او جمهوري نظام غوښتونکې یې
سهار په څلور بجې په خپل کور کښې په دوو بامونوباندې
وغورزوو چې خلق یې اوس د خان شهید په نامه یادوي۔
دوی د قیدوبند سلسله مختلفو لیکوالو په خپل انداز وړاندې
کړېده۔ د دوی قیدوبند ځینو دېرش کاله او ځینو لیکوالانو
درې دېرش کاله یاد کړی دی۔ خو "فیض الله پانیزي" د ایم فل په
تحقیقي مقاله کښې درې دېرش او څلوېښت کاله قیدوبند یاد
کړی دی هغه لیکي:

"ان کے حوالے سے یہ بات مشہور تھی کہ وہ جیسے ہی رہا ہوتے تو اگلی حراست اور جیل کا پروانہ
ان کے پیچھے ہوتا ہے۔خان بابا کو مجموعی طور پر چالیس سال سے زائد کی سزا ہوئی لیکن ایک
اندازے کیمطابق انہوں نے بتیس سال جیل اور کوٹھریو میں گزرائے ۱۳۴"



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

زما د اندازې مطابق د صمدخان د قيدوبند سلسله چې د ۱۹۲۷ نه شروع شوه ۲۷دغه لړۍ داسې راوچلېده چې په ۱۹۳۰کښې دوه کاله په ۱۹۳۳ کښې درې کاله او په ۱۹۳۹کښې شپږ مياشتې په ۱۹۴۲ کښې دوه کاله قيد شو چې د فېرنګي په واکمنۍ کښې اوۀ کاله قيد او په دې شان ۱۹۲۷ نه تر ۱۹۴۷ جون پورې ۳ کاله نظر بندي هم تېره کړې ده ـ د پاکستان د جوړېدو سره سم په کور او په نورو ښارونو بنديز پرې ولګېدو په کال ۱۹۴۸ کښې هغه وخت ونيوو شو چې په کور کښې نظر بند وو او په ۱۹۵۴ کښې را ايله شو ـ دغه لړۍ تر ۱۹۵۸ پورې رسي چې په دې اړه دوی خپله ليکلي دي چې د قيد نه د ازادېدلو وخت صرف شپږ مياشتې ده ـ بيا د ايوب خان په مارشل لاکښې څوارلس کاله د مشقت سزا ورکړې شوه او د۱۴ کالونو په ځای يې ۱۲ کاله تېر کړل په پاکستان کښې اتلس کاله قيد او ۵ کاله نظر بندي په دې حساب درې دېرش ۳۳ کاله قيد وبند جوړېږي ـ نن وخت کښې چې د قيد شپه ورځ حسابېږي نو د شپږو کالو ۱۲ کاله او د ۱۲ کالو نه ۲۴کاله جوړېږي او د انګرېز ددور ۷ کاله چې په نتي حساب ۱۴ کاله جوړېږي ـ



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## ۸:بیماري او نورې کشالې

چې انسان وي پهٔ مرګ او مرض به اخته کېږي ـ داسي صمد خان هم د وخت سترې ستوماني، تکلیفونو، پهٔ وړوکوالي کښې د پلار مرګ د خلقو غربت د فرنګي سامراج قبضګر دغې ټولې ناجوړې وې چې د دوی ژوند یې یوې لوی مبارزې ته چمتو کړو ـ ځنې بیمارۍ د خدای پاک له لور وي هغه پهٔ اړه دوی خپله لیکي چې پهٔ وړوکوالي کښې بیمار شوی وو چې دبیمارۍ پته یې هم نهٔ لګېده او پوره دېرش ورځې بې هوشه وو،دې باره کښې خان شهید پهٔ خپله ژوند لیک کښې لیکلي دي:

"زهٔ ډېر سخت ناجوړه سولم ـ پوه نه یم چې څهٔ رنځ وو ـ یو ووکه ډېر پله ګډوو ـ زماد ژوند تر ټولو سخت خوړ ووچې څنګه مې لومړۍ ورځ تبه سوله پرکاله اوبې هوشه ولوېدم اوبیا درېدېرش ورځې پس هله راپهٔ خودسوم چې تبه مې درې ورځې مخ کې لاشلېدلې وه ـ خودومره ټپ سوی وم چې نیژدې لس ورځې پس مې د مور سره پوردې جنګ ووچې زه وږی یم نور خواړه راکي اوهغې راته ویل چې کمزورې یې ډېر خوراک درله ښهٔ نهٔ دی خومانهٔ منل۱۳۵"

یو بل ځای کښې دوی پهٔ خپله لیکلي دي چې د توخک وبا



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پهبلاؤ شوې وه او پهٔ سونو خلق ترې نه مړهٔ وو. بلکې د غرونو
خلقو باندې خو دومره سخته وه چې د کلي ټول خلق يې مړ
کړي وو. دوی خپله او د کور خلق يې هم بيماران وو:
"دغرو او دريګو څه به خبرونه راتلل چې کلي کلي په سپېرو
سو. اويوکس يې هم ژوندي پاتې نهٔ سو. خونهٔ پهٔ خلګوکې ژوند
وو او نهٔ سرکارپروه پهٔ لرله ...... زموږ په خپل کورکې چې د
مورمې موږ ټول ناجوړه پروتهٔ وو او دغې سپين سري پښتنې به
شپه او ورځ د ټولو خسمانه کوله ۱۳۶"
د زکام ټوخي وبا زکر خان شهيد اويه اتيه کاله وړاندې کړی دی
هغه وخت خو معلومه وه چې هېڅ داسې شی نهٔ وو چې خلقو
ترې ځان ساتلی وی نن چې پهٔ دوه زره شلم کال پهٔ چين کښې
چې کومه وبا راغلې ده چې "کرونا" يادېږي او نن يې ګړده نړۍ
اخستې ده او خلق د سرکار لخواه پهٔ سختئ سره پهٔ کورونو
کښې بنديوان دي هر څوک ويرېږي چين، اټلي، امريکه،
پاکستان، افغانستان، برتانيه او داسې پهٔ سونوو ملکونه دې
وبا اخپستي دي. لکه څنګه چې صمدخان ليکلي دي اوس هم
زموږ خلق دغه وبا چې ټوله نړۍ يې پهٔ غم اخته ده دوی پرې


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ملانډې وايي حالانکې حج ملتوي شو طواف باند دې خو زموږ
ښېنې ناپوهه خلق په دې وخت کښې هم د عقل نه کار نۀ اخلي
او د مولایانو خولې ته ناست دي -

خان شهید د کور ارام ،د خپلو خپلوانو خواخوږي نه لرې په
جېلونو کښې سترې سومانې ،زورول ،تاکول ،او پرې تشدد کول
دغه هر څۀ په ژوند کښې د ډېرو بیمارۍ سبب وو چې د
پښې ،میدې، ګردې ،د غابښونو ،د لاسونو د ګوتې بیمارۍانې
ورته جوړې شوی وی دې باره کښې غنو صیب د "خان
شهیدئ پشتون اورپشتونخوا "کښې د خان شهید فرزند
پروفیسر محمد خان د خولې بیان تحریر کړی دی هغه لیکي:

"۱:پہلے دانتوں کی تکلیف رہیں ۵۰، ۴۰سال پے میں ۔۲: پھر پیتے(گردے) کی بیماری لاحق
ہوئی۔۳:ہاتھوں کی انگلیوں میں تکلیف تھی "سہونڑی" ڈاکٹروں نے انھیں ہاتھ سے کھانے کو
منع کیا تھا تب خان شہید چھری کانٹا استعمال کرتے تھے۱۳۷"

پۀ سیاسي هلو ځلو کښې د سرکار نه علاوه خلقو هم ډېر
تکلیفونه ورکړي دي پۀ یوه جلسه کښې حمله پرې اوشوه دوی
سره د نوره ډېر ملګري ټپي شول پۀ دې جلسه کښې باچاخان هم
وو چې د "انجمن وطن" پۀ بلنه د جنوبي پښتونخوا پۀ دوره تلی



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

وو۔ او هلته یې جلسې کولې د دې جلسې وهلو تاکولو په اړه باچاخان خپله لیکلي دي:

"زه پاڅېدم چې ومې کتل نود کوسو او ډاکټرچیت رام د سرنډینو دارې وهلې بل څوک نه وو عجیبه حالات وو ......... عبدالصمدخان او زمونږ نور ملګري هم خوږ وو ۱۳۸"

سرکار په هره حواله د دوی لارې بندولو د پاره خپل خلق پیدا کړي وو خو خان شهید چې د لوی او ستری سیني انسان وو دغه هر څه یې په رڼې تندي بردشت کول او د ژوند مرام مخ په وړولو کښې د هېڅ شي پروه یې اونه کړه ۔

خان شهید یو وارې اېکسیډېنټ کړی وو چې هډوکي یې مات شوي وو، دې باره کښې پروفېسرعبدالغني غنو لیکي:

" ایکسیڈینٹ کیسے ہوگیاخان باباشہید، معلوم نہیں میں جب اس "ڈرائیور" سے باتیں کر رہاتھا تو بات ٹھیک تھی لیکن میں ایساہوا۔ اوراسی وقت مجھے نیند کے انجکشن دیئے۔ خان بابا کے تین ہڈیاں کریک ہوگئی تھی اور چارپسلیاں ٹوٹ گئی تھی۔ ہم تقریباً ایک مہینہ ہسپتال میں رہے ۱۳۹"

د پاکستان په جېلونو کښې په خان شهید باندې ډېر تکلیفونه تېر دي چې د څنې زکر مو مخکښې کړی دی چې د ۱۹۶۵ جنګ وو هغه وخت دوی قیدي وو او د څه بیمارۍ له وجې په


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

هسپتال کښې داخل وو نو خان شهید وائي ماسره په څنګ کښې د انډیا جاسوس وو هغه ته ملاقات اجازت وو خو ماته یې څوک نه راپرېښودل،بل ځای کښې چې د جیله رایله شو ملګرو پوښتنې ځنې کولې چې خان شهید د زخمونه د څهٔ دي خان شهید ورته وېل چې زهٔ یې پهٔ یوه پنجره کښې بند کړې وم پهٔ سخت یخ کښې به یي بهر پرېښودل او هر قسمه تشدد به یې راباندې کوو. بابا چې د خپل ژوند ژوند لیک پهٔ جېل کښې لیکلې ده پهٔ هغه کښې دوی د جېل ټول واقعات او تکلیفونه لیکلي دي چې د "زهٔ به یو سیاسي قیدي ووم خو دوی د غلو،بدمعاشانو او د حکومت پهٔ نورو تورونو کښې ښکل شویو خلقو سره بند کول".

## ۹ـ۱مرګ، شهادت،خلي او قبر

مرګ یو حقیقت دی چې هر ژوندي سري لره به خامخا راځي خو مرګ مرګ بویه دېر خلق پهٔ کټ پوزي د بیمارۍ نه ومري. خود صمدخان مرګ پهٔ قامي سیاست بدل شو نن هم د دوی مرګ (شهادت) د قام پهٔ ګټه تمامېږي او هر کال پرې اولسونه راغونډېږي. پهٔ دوم دسمبر نولس سوه درې اویا کښې د عدم



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

تشدد پیروکار او د امن ستر لاربنود یې په شارع جمال الدین افغاني کښې په خپل کورکښې سهار په څلورو بجې په دوو بمونو باندې شهید کړو:

"د ۱۹۷۳ کال د دسمبر دویمه نېټه وه سهار وختي خان شهید په خپل کور کښې چې په شارع جمال الدین افغاني روډ کښې دی په دوو بمونه وغورځول شول او دغه په قهرمانیوسرلوړي او د پښتنو په غم غمجن رهبر په کښې بې دردۍ په شهادت ورسېدو او په ګلستان کښې په خپله پلرنۍ هدیره کې خاورو ته وسپارلی شو۱۴۰"

د صمد خان شهادت په باره کښې سیاسي، مذهبي، ادبي ملګرو، صحافیانو د ژوند د هرې طبقو خلقو د دوی په شهادت لیکنې کړی دي - د دوی د شهادت په اړه پروفېسرنظر پانیزی "د خان شهید عبدالصمدخان اچکزي علمي او ادبي خدمات" نومي کتاب کښې په خپله مقاله"خان شهید په حېث د یو مفکر" کښې لیکلي دي:

"په دویم دسمبر ۱۹۷۳ کښې موږ د ګلستان په ګورستان کښې یواځې یو شهید وخاورو ته نه وسپاری بلکې په سرهٔ کفن کښې چې د ازادۍ یومبارز،د قام مشر،ادیب دانشور،بابائے


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پښتون، صحافت، ماهرلسانيات، عظيم سياستدان، ستر افغان مشفق دوست ،خان شهيدئی پښتون ،مترجم ،مفسرقران او مترجم سيرت النبي، ماهرلغات،د پښتو يو مفکر او يوعلامه شهيد ملت هم ورسره تر خاورو لاندې کړ ۱۴۱"

د عبدالصمدخان اڅکزی د شهادت پهٔ اړه پهٔ دهلي کښې پهٔ يوه تعزيتي جلسه کښې چې اخباري بيان دې شوکت ترين د خان شهيد نامي کتاب کښې اخباري بيان تحرير کړی دی:

"نئی دہلی ۵ دسمبر (ریڈیو رپورٹ) آج شام یہاں پاکستانی لیڈر عبدالصمد خان اچکزئ کے قتل پر تعزیتی جلسہ ہوا جس سے بھارت کے وزیر مملکت برائے اطلاعات مسٹر اندر کمار گجرال نے خطاب کیا اور کہا کہ اچکزئی جمہوریت اور اعلیٰ اقدار کے علمبردار تھے جس میں مرحوم کے سیاسی خدمات وبصیرت کو خراج عقیدت پیش کیا گیا روزنامہ نوائے وقت راولپنڈی ۶ دسمبر ۲دسمبر ۱۹۷۳ ۱۴۲ "

عبدالصمدخان اڅکزی پهٔ شهادت باندې پهٔ کابل افغانستان کښې هم تعزيتي پروګرام شوی وو،چې د شوکت ترين "خان شهيد کي سياست" نومي کتاب کښې درج کړی دی:

"کابل دہلی ۵ دسمبر (ریڈیو رپورٹ) آج افغانستان بھر میں خان عبدالصمد خان اچکزئی کی المناک موت پر قومی سطح کا سوگ منایا گیا تمام سرکاری اوراہم نجی عمارتوں پر قومی پرچم سرنگوں


www.sikaraam.com
Scanned with CamScanner

کر دیئے گئے آل انڈیا ریڈیو کے مطابق نئی دہلی میں افغان سفارت خانہ پر بھی قومی پرچم سرنگوں رہا۔ روزنامہ نوائے وقت راولپنڈی ۴ دسمبر ۱۹۷۳ ـ ۱۴۳ "

صمد خان پهٔ دويم دسمبر نولس سوه دري اويا کښې پهٔ خپل کور کښې شهيد کړی شواو پهٔ څلورم دسمبر پهٔ عنايت الله کاريز کلي کښې خاورو ته وسپارهٔ عبدالرحيم مندوخېل ليکي:

"پر ۲ دسمبر ۱۹۷۳ سهار پر څلور بجې پر خان شهيد باندې دوه بمان هغه وخت وغورزول کوم وخت چې دې په کوټه کښې پر شارع جمال الدين افغاني باندې پهٔ خپله کوټه کښې ويدهٔ وواوشهيد يې کړلی. ورسته پر ۴م دسمبرپه عنايت الله کاريز گلستان کښې په داسې حالاتوکې خاوروته وسپارل شوچې د جنوبي پښتونخوا د تاريخ تر اوسه تر ټولو لويه جنازه ورکړل شو ۱۴۴"

د خان شهيد پهٔ ژوند او شهادت باندې پهٔ دويم دسمبر هر کال د دوی کليزه لمنځل کېږې او د پښتنو پوهان يې د ژوند پهٔ هر پړاو باندې مقالې ليکي - چې بيا دغه باقاعده طور کتابي شکل کښې هم چاپ شوی دي - تحقيقي مقالې هم پرې ليکلی شوی دي - د اېم فل پهٔ مقاله کښې پروفيسر فيض الله پانيزی "خان


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

شهيد کي شخصيت اور علمي او ادبي خدمات "کښې د دوي د شهادت په اړه ليکي:

"۲ دسمبر ۱۹۷۳ کی صبح کو جب عبدالصمد خان اچکزئی کوئٹہ میں شارع جمال الدین افغانی پر اپنی کرے میں سورہے تھے تو ان پر دستی بموں سے حملہ کرکے انکو شہید کردیا گیا ۱۴۵"

عبدالصمد خان اڅکزي دخپل قام او وطن د پاره په خپل خان ډېرې سترې ستومانې تيرې کړې پښتون قام ته يې د علم او سياست لار د خپلې ژبې او وطن سره د مينې احساس هم ورويېژندو. د قام او د وطن سياست يې د تېرې وسله ول رنګه را واړه وو. او پښتنو د يوولی د پاره يې د تنظيم بنياد هم کېښود چې پښتانهٔ د يو قام په هېڅ پکښې راغونډې دی شي. د قام مينه چې په زور ظلم په قيدوبند هم نهٔ پرېږدي نو ظالم دښمن يې په سپينه ږېره د شپې شپېتو کالو په عمر کښې په مرګ (شهادت) کولو صرفه نهٔ کوي.

د عبدالصمد خان اڅکزي د شهادت په اړه د شاعر غلام يحيا اشيزی تاثرت يو څو ازاد شعرونه چې پروفيسر سيال کاکړ ليکلي دي دلته ليکم:

"مړ مو غمخوار شو خراب مو کور شو



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خـــان مـــو فنـــا شـــوغم يـــې د چـــا شـــو
صـــــــمد خان ولاړئ پښـــــــتون ژاړي
د بخـــــت ســـــړی وو د لاس بنګـــــړي وو
د ګـــور بنـــدي شـــو پـــۀ زړۀ زخمـــي شـــو
د قـــــام ســـــر وود زړګـــــي ســـــر وو
غمخـــــوار مـــــو ولاړۀ پښـــــتنو ژاړي
ســـر مـــو پـــۀ دار شـــوملت مـــو خـــوار شـــو
دښـــمن مـــو خانـــدي دوســـت مـــو پـــۀ ســـاندي
حيـــامو ولاړه وفـــا مـــوولاړه ۱۴۶"

خان شهيد عبدالصمدخان اڅکزی پۀ نولس سوه اوۀ کښې ستړکې اوغواړولی د لسو کالو وو چې د فرنګي سامراج او د هغه مراعايت خوړونکيو خان،ملک،نواب،سردار جوړ کړی شوی نظام پۀ خلاف يې پۀ درې کسانو مبارزې ته دوام وررکړو، سرکار چلاک وو چې صمدخان څۀ غوښتل څۀ يې کول او کوم ډول يې سياسي پوهه او تګ لاره وه د دغې لاړ نيولو دپاره سرکار هر ډول خربې اوکړې او کولې يې چې هېڅ کله يې دوی اولس ته نۀ ايله کولو که سرکار زورور وو چلاک وو خو


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

خان شهيد هم ډېر ځيرک وو عملي کار کول يې غوښتل،د پښتنو درد غم يې خپل غم ګڼلو نو د ډېرو ستړيو تکليفونو چلاکيو د خپلو خلقو ناپوهيو،مخبريو باوجود يې همت نۀ دې بائيللى او د سرکار يوه لاز بندلې پۀ ځاى به خان شهيد خان ته بله لاز اېستلى وه،لکه چې قيد يې کړو پرېس اېکټ دپاره يې درخواست اوکړو،تاريخ يې اوليکلو،ډېر شهکار کتابونو ژباړې يې اوکړې،ليکدود ،لغات،ژوند ليک يې د جېل پۀ دوران وليکله او د خپل ژوند سترى ستومانى او خپله تګ لاز يې قام ته د ډېرو زورورو خلقو نه تر تاسو راورسوله او په دې ازادى، علمي،سياسي،تنظيمي،شعوري کار او پښتنو ته ښۀ ژوند شناخت او حق غوښتلو دپاره د قيدوبند پس چې کله پښتونستان جوړېدلو ته د دوى د وينې ضرورت شو نو پۀ سپينه ږيره يې خپله وينه هم ورکړه ـ خان شهيد درې دېرش کاله قيدوبند او پۀ سپينه ږيره شهادت او د هغه ژوند سترى ستومانى د شهادت اوڅلويشت کاله کېږي د دوى افکار او وراندېزونه موږ تر اوسه خپل قام ته نۀ دي رسولي چې دخان شهيد روح ته به ډېر زور او درد رسي خداى دې موږ تاسي ته همت راکړي چې د دوى ټاکل شوي هدفونه خلقو ته ورسوو ـ



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## محاکمه (خلاصه)

دا دې تحقیقي مقالې پایلې (نتیجه) مونږ خپلو لوستونکیو ته په لنډو ټکیو کښې وړاندې کوو چې مونږ د خپلې مطالعې په ترڅ کښې ترلاسه کړې ده ـ د مقالې په ړومبی باب کښې مونږ خان شهید عبدالصمد خان اچکزی د پښتنو د سیاسي تسلسل یوه کړۍ ده، دا معلومه ده چې د پښتنو تېر تاریخ کوم چې ما د بایزید انصاري او د هغهٔ د زامنو نه شروع کړی دی که مونږ دپښتنو دغه تسلسل راوخلو چې د دې پس بیا ایمل خان ،دریاخان او خوشحال خان راځي بیا د میر وېس خان نیکهٔ پاڅون، د احمدشاه بابا راتلل ،بیا پهٔ دې تسلسل کښې د مغلو سره شخړې، د سیکانو راتګ.او پهٔ اتلسمه پېړۍ کښې د فېرنګیانو، سیهکانو پهٔ خوښه د افغان باچا شاه شجاح راوستل،د پښتنو د دې پهٔ خلاف ملي غورځنګونه او پهٔ دې دوران د فېرنګي استعمار ګرو له خوا درې تپلي شوي جنګونه،د احمدشاه ابدلي د زامنو شخړې،د پښتنو پهٔ خپل منځ کښې بې اتفاقي او تاریخي افغان وطن پهٔ برخو وېشل،پهٔ دې تاریخي داورونو کښې پښتنو د هر ظالم پهٔ خلاف پهٔ هر سنګر مبارزه کړې ده ـخو پښتنو ازادي مونده نهٔ کړله او د جنګه خلاص نهٔ


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

شول او د یو پهٔ خای به پهٔ بل جنګ اخته شوي دي، پښتنو جنګ وجدل دپاره چې قامي جنګ به وو نو د هرې قبیلې اوهرې تپې به پهٔ دې قامي جنګ کښې برخه اخېستله او د جنګه پس به بیا هېڅ پلان نهٔ وو. پښتنو مشرانو اتلانو د تاریخ پهٔ هر دور کښې هر جنګ کښې پهٔ مېړانه کارونه تر سره کړي دي او خپل وطن یې د یلغارګرو نه د سر پهٔ قربانیو ساتلی دی. خو د پښتنو د ښهٔ ژوند او ژواک د تېرولو، قام او وطن د یلغارګرو نه بچ ساتلو، او پهٔ مستقبل کښې د جنګونو نه د بچ ساتلو د پاره نهٔ خو سیاسي ګوند اونهٔ چېرته د پښتنو منظم تنظیم جوړ شوی وو. خو که مونږ وګورو د دې تاریخي تسلسل چې مونږ ته یې خپل تاریخ پرېښبنی دی او مونږ پرې ویاړ کوو نو د دوي پهٔ لاړ چې تاریخ نه هر پښتون ته ننګ او غېرت پاتې دی دې د پاره پهٔ نولسمه پېړۍ کښې د تېر تاریخ غلطیو سمولو دپاره پهٔ جنوبي پښتونخوا پهٔ پښتون بلوچ صوبه بلوچستان کښې اول ځل دپاره عبدالصمدخان اڅکزي د "انجمن وطن" پهٔ نوم د یو سیاسي تنظیم بنیاد کېښود او د ازادۍ نهٔ ستړیکدونکې مبارزې ته یې دوام ورکړلو که هر څو پښتنو لاخپل مرام موندلی نهٔ دی خو د پښتنو مظبوط سیاسي ګوند شته چې د پښتنو د یوالی، شناخت، جغرافیایي حدودو د پښتنو وسایلو او د ژبې د پاره خپل



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ګامونه پورته کوي ـ نن چې موږ تاسې يې وينو د نېټې په پانه د نړۍ په هر کونج کښې هر چېرته چې پښتانه وسي د خان شهيد سوچ او د فکر ملګري په زرګونه نا بلکې په لاکهونو کښې دي او په سياسي اوجمهوري توګه خپل نظريات خپل قام اونړۍ ته وړاندې کوي اوخپلوحقوقوغوښتولودپاره مبارزه کوي اوله مخ په وړاندې روان دي ـ که موږ د خان شهيد تاکل شوي هدفونه زر تر زره خپلو پښتنو ته ورسوو نو زر ده چې پښتون قام به د يوې لوی جرګې غوښتنه وکري چې په هغه کښې يک نقاتي اېجنډه ازادی وي ـ

وړومبی باب کښې چې مونږ د دوی ژوند ژواک، قام قبيله، روزنه، زده کړې، سياسي مبارزه او ناروغيو او قيدوبندسلسلې او نورو چکو ټيټو او لوړو ژورو ته وقف کړی دی په دې کښې مونږ د خان شهيد د ژوند نه ډېر وړاندې د پښتنو قامي سياست په تاريخ او د دوی د ژوند نه تر مرګه پورې غرزې پرزې په تفصيل سره رقم کړې دي او په دې نتيجه رسېدلي يو چې خان شهيد هم د پښتنو د قامي سياسي تاريخ د زنځير يوه اهمه کړۍ ده او که د زنځير دغه کړۍ خدای مکړه په تيارۀ کښې پاتې شي يا هير کړل شي ،نو دا پوره زنځير به ورسره سست شي او د کوم کار کولو جوګه به پاتې نۀ شي ـ مونږ د پښتنو د سياسي تاريخ د زوتولو يا يادولو په لاړ کښې


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

دا وئيلى شو چې پښتنو بهرني يرغلګرو پۀ مخامخ تل د مزاحمت ميدان ګرم ساتلى دى او پښتون قام د خپلو رهنمايانو سره اوږه پۀ اوږه ټينګ او غښتلى ولاړ دى. څکه خو يې پۀ خپله خاوره د بهرني يرغلګرو قدمونه ټينګېدو ته پرېښي نۀ دي.

پۀ دې تسلسل کښې د دوى د ژوند چې سياسي چپو ته راسي سياست ته راتګ او د سياست مبارزه،د فېرنګي او د هغۀ وخت سرکاري خانان ،نوابان،مالکان،او بيا پسې د خلقو نا پوهي او د پاکستان د تنه سياسي مبارزه،سياست داسې چې بنياد اېښودنکى وو ـ او نن وخت او د هغه وخت سياسي مبارزه مونږ تاسو پۀ مخکښې ده ـ

د سياسي مبارزې سره يې سم د پښتو ژبې او ادب دپاره زيات زيارونه کښلي دي او ما د هغې تفصيل پۀ دوېم او درېم باب کښې وړاندې کړى دى.

د مقالې پۀ دې وړومبى باب کښې مونږ د صمدخان اچکزى سياسي ژوند چې کوم تکليفونه وو او د سرکار له خوا يې پۀ جېل کښې کوم ژوند تېر کړى دى د فېرنګي او د پاکستان پۀ د قيد و بند ژوند باندې لاتډه شان رڼا اچولى شوى ده ـ خان شهيد مونږ ته د


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

فرنګي او د پاکستان د وخته جېلونو حال احوال راکړی دی. او مونږ نن د موجوده سیاست او قید او بند وینو چې په کوم ډول دي. د ژوند په دې سفر کښې چې په دوی کومې بیمارۍ او نورې کشالې راغلی دي د هغو ذکر موکړی دی چې قام ته دخپلو اتلانو د ژوند ژواک او د قام د پاره چې څومره سترې ستومانی تېرې کړې دي چې د هغو تعین وشي اود خپلو مشرانو په لار سیاسي مبارزې ته دوام ورکولو کښې چې مشرانو کوم تکلیفونه تېر کړي دي د هغو ارمانونه سر ته ورسېږي.

په دې مقاله کښې صمدخان چې د قام وطن سره د مینې په سبب کوم تکلیفونه په خپل سر وړي دي که سیاسي مبارزه ده، که قیداو بند دی، دا خو یې هر تکلیف باوجود په ستره سینه وکړل، خو چې په دې هم استعماري قوتونو زړهٔ سوړ نهٔ شو نو په خپل کور کښې یې په خوب ودوهٔ په دوو بمونو باندې شهید کړلو، چې د شروع نه یې قام دپاره څومره زیارونه وکړل او اخېر یې د ژوند پایه هم چې له قام تېری وو د اوبو په ځای یې د ځان وینې ورکړې. په خپل عنایت الله کاریز نومي کلي کښې په خپله ادیره کښې ښاخ کړی شو.



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# حواله جات


۱.خیبري استاد عبدالحي" د افغانستان لنډ تاریخ" ژباړن: عبدالروف بېنوا چاپ دانش کتابتون قصه خواني بازار پېښور ۲۰۰۳ــ مخ۲۴۱

۲.خټک راج والي شاه پروفیسر"ادبي تحریکونه"پیش لفظ پروفسر محمدنوازطائرچاپ جدون پرتینګ پریس پېښور ۱۹۸۹مخ ۱۵۵

۳.خټک خوشحال خان"انتخاب خوشحال"دیباچه لیکونکی فضل احسان احسان چاپ خوشحال پریس پېښور ــ مخ ۴۸ باندې ووام شعر.

۴.کاکاخیل بهادرشاه ظفر"پښتانهٔ د تاریخ پهٔ رڼا کښې"۲۰۰۹ زاهد بشیرپرنټرلاهور........مخ۶۴۳

۵.هم دغه کتاب.........مخ۶۴۵

۶.دراني شبیر خان" واړه خزانه "۲۰۰۸ ا رشاد خان (پښتو اکیډمي)پېښور ــ مخ۳۶،۳۹

۷. دافغانستان لنډ تاریخ" ........مخ ۲۴۸

۸.خان عبدالغفارخان" زما ژون او جدوجهد"۲۰۱۲. امن پرتینګ پریس پېښو.......مخ ۱۵

۹.هم دغه کتاب.........مخ۱۵۴

۱۰.پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کوټه "د خان شهید عبدالصمد خان اڅکزي علمي او ادبي خدمت" ۲۰۱۲ یونائټیډ پریس کوټه.......مخ۶۷

۱۱: اچکزی عبدالصمد خان "زما ژوند او ژوندون" لومړی ټوک ۲۰۰۴ العابد کمپیوټر ګراپیکس کوټه. پښتونخوا ادبي څانګه ..........مخ۱۱



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۱۲: رسا سید رسول مقدمه" ارمغان خوشحال خان" زاهد بشیر پرېس لاهور، کال، ۲۰۰۹ ...... مخ ۲۳۴

۱۳: عبدالغني خان غنو پروفیسر "بولان سی چترال پشتون مسئله" کال ۲۰۱۲ چاپ خای "نشت ۵" کمپوزر محمدضیا ........ مخ ۷۷

۱۴: "زماژوند اوژوندون" لومړی توک ...... مخ ۶۸

۱۵ ایترین ملک اسد خان انجینئر "نامور پشتون تاریخ کے ائینے میں" ۲۰۱۱ جنوری غزنوی پبلیشرز سوئی پلازه جناح روڈ کوئٹہ ........ مخ ۴۲۲

۱۶: زماژوند اوژوندون" لومړی توک ......... مخ ۶۹، ۷۰

۱۷: هم دغه کتاب ......... مخ ۷۰

۱۸: عبدالرحیم خان" خان شهید سیمنار "مقالي افغانستان کابل ۱۹، ۲۰ مارچ ۱۹۹۰ شعبه اطلاعات ونشریات پښتونخوا ملي عوامي پارټی، مرکزي سیکرټریټ کلب روډ کوئټه ......... مخ ۵، ۶

۱۹: زماژوند اوژوندون" لومړی توک ....... مخ ۷۵

۲۰: هم دغه کتاب ........ مخ ۳۳۵

۲۱: بولان سی چترال پشتون مسئله" ......... مخ ۴۳۵

۲۲: زماژوند اوژوندون" لومړی توک ....... مخ ۷۷

۲۳: هم دغه کتاب .......... مخ ۶۷

۲۴: هم دغه کتاب ...... ..... مخ ۳۱۳

۲۵: هم دغه کتاب .......... مخ ۳۲۳، ۳۲۴

۲۶: عبدالغني خان غنوپروفیسر "بابائے پشتون او پشتونخوا" دویم توک



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۱۹۹۰ پرنټرز، قلات پریس ــــــ مخ ۱۰۲، ۱۰۳

۲۷: زماژونداوژوندون "لومړی ټوک ...... ــمخ ۳۲۲

۲۸: بابائے پشتون اور پشتونخوا "دویم ټوک ۱۹۹۰ ......مخ ۸۴

۲۹: زماژوناوژوندون "لومړی ټوک .......مخ ۳۳۴

۳۰: بابائے پشتون اور پشتونخوا "لومړی ټوک ......مخ ۱۰۳

۳۱: زماژوند اوژوندون "لومړی ټوک ...... ــمخ ۹۸

۳۲: هم دغه کتاب ..... ــمخ ۹۹

۳۳: هم دغه کتاب ...... مخ ۱۰۷

۳۴: هم دغه کتاب ــــــ مخ ۱۰۱

۳۵: هم دغه کتاب ــــــ مخ ۱۰۸

۳۶: هم دغه کتاب ــــــ مخ ۱۰۸، ۱۰۹

۳۷: هم دغه کتاب ــــــ مخ ۱۱۴

۳۸: خان شهید سیمنار "ــــــ مخ ۹

۳۹: زما ژونداوژوندون "لومړی ټوک ........ ــمخ ۱۲۷

۴۰: هم دغه کتاب ــــــ مخ ۱۴۵، ۱۴۶

۴۱: هم دغه کتاب ــــــ مخ ۱۵۰، ۱۵۱

۴۲: هم دغه کتاب ــــــ مخ ۱۵۸

۴۳: هم دغه کتاب ــــــ مخ ۱۷۵، ۱۷۶

۴۴: هم دغه کتاب ــــــ مخ ۲۲۳

۴۵: هم دغه کتاب ــــــ مخ ۲۲۴

۴۶: زماژونداوژوندون "دریم ټوک چاپ ۲۰۰۷ ــــــ مخ ۱۱۹



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۴۷: بابائے پشتون اور پشتونخوا "------------ مخ ۴۷۹

۴۸: یوسفزي مختارخان"ګوند دګوند ضرورت او جوړښت"چاپ ځای پښتونخوا پرېس محله جنګي چاپ کال ۲۰۱۱ ------ مخ ۴

۴۹: زماژوند اوژوندون"لومړی توک--------------- مخ ۹۰، ۹۱

۵۰: هم دغه کتاب-------------------- مخ ۱۳۴

۵۱: کاکړسیال پروفېسر"دکسي دلمنې پښتانه لیکوال"زمانه پرنټګ پریس کوئټه ۱۹۸۳--------------- مخ۳۴۸

۵۲: زماژونداوژوندون"لومړی توک -------- مخ ۱۳۳

۵۳: هم دغه کتاب------------ مخ ۳۱۰، ۳۱۱

۵۴: زماژوند اوژوندون"لومړی توک -------- مخ ۳۸۷

۵۵: پانیزی، فیض الله "خان شهید عبدالصمد خان اچکزي کي شخصیت اورعلمي و أدبي خدمت"----------- مخ ۲۷

۵۶: زماژونداوژوندون"دویم توک----------- مخ ۱۷

۵۷: هم دغه کتاب ---------- مخ ۱۸، ۱۹

۵۸: ترین شوکت"خان شهید کي سیاست"قلات پبلشرزرستم جي لین جناح روډ کوئټه ۲۰۰۷ -------- مخ ۱

۵۹: خان شهید عبدالصمد خان اڅکزي علمي او ادبي خدمت" ۲۰۱۲ پښتو څانګه بلوچستان پوهنتون کوټه مقالې، یونائټیډ پریس کوټه- مخ ۶۴

۶۰: عبدالرحیم خان "خان شهید سیمنار "مقالې افغانستان کابل ۱۹، ۲۰ مارچ ۱۹۹۰ شعبه اطلاعات ونشریات پښتونخوامللي عوامي پارټۍ، مرکزي سیکرټریټ کلب روډ کوئټه ------ مخ ۵۸


www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۶۱: زماژوندا وژوندون"دویم ټوک ---------- مخ ۲۴۷
۶۲: هم دغه کتاب ---------- مخ ۲۵۵
۶۳: هم دغه کتاب ---------- مخ ۲۷۳، ۳۷۴
۶۴: هم دغه کتاب ---------- مخ ۲۸۰
۶۵: هم دغه کتاب ---------- مخ ۳۶۶، ۳۶۷
۶۶: ترین شوکت "مقالات و مکتوبات خان شہید" نیو کالج پبلی کیشنز آرچ روڈ کوئٹہ ۲۰۱۱ ---- ص ۵۱
۶۷: زماژوندا وژوندون"دویم ټوک ---------- مخ ۲۵۱
۶۸: هم دغه کتاب ---------- مخ ۳۸۷
۶۹: ترین خان ملک اسد انجینئر "بابائے پشتونستان عبدالصمد خان اچکزئی" خان شہید لائبریری اینڈ اکیڈمی ۲۰۱۶
---- ص ۶۰،۵۹
۷۰: خان شهید سیمنار" ---------- مخ ۲۷
۷۱: دکسي د لمنې پښتانهٔ لیکوال" .......... مخ ۵۱۶
۷۲: د خان شهید عبدالصمد خان اڅکزي علمي او ادبي خدمت" ---- مخ ۱۲۹
۷۳: خان شهید سیمنار" ---------- مخ ۱۱۷
۷۴: ترین شوکت "تحریک آزادی می انجمن وطن کا کردار" نیو کالج پبلی کیشنز آرچ روڈ کوئٹہ، نومبر ۲۰۱۶
--- صفحہ ۱۷۶
۷۵: بابائے پشتون اور پشتونخوا، بابائے پشتون دریخ" ۲۰۱۰ دوست پبلشرز کوټه ---- مخ ۱۲۷
۷۶: لوني عزیز ای مترجم عارف تبسم"برټش بلوچستان"پشتو اکیډمي بلوچستان کوئټه ۲۰۱۶ ........ مخ ۳۶۷



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۷۷: د خان شهيد عبدالصمدخان اڅکزي علمي او ادبي خدمت"۔ مخ ۱۵۰، ۱۵۱

۷۸: خان شهيدئی پښتون دريغ"-------------- ۱۳۰، ۱۳۱

۷۹: خان شهيد کی سياست"-------------مخ ۳

۸۰: خان شهيد عبدالصمدخان اڅکزي علمي او ادبي خدمت" مخ ۱۶۵

۸۱: خان شهيد سيمينار"-------------------- مخ ۳۸، ۳۹

۸۲: دخان شهيد عبدالصمدخان اڅکزي علمي او ادبي خدمت"----مخ ۳۸، ۳۹

۸۳: بابائے پشتون اور پشتونخوا عبدالصمدخان اچکزی "--مخ۱۹۹، ۲۰۰

۸۴: بولان سے چترال پشتون مسئلہ"----------------مخ ۲۹۰، ۲۹۱

۸۵: بابائے پښتون دريغ" ۲۰۱۰------ مخ ۱۴۳

۸۶: ترین شوکت "درور پشتون "سیاست اور جمہوریت کا ایک اہم سنگ میل، نیو کالج پبلی کیشنز آرچر روڈ کوئٹہ، نومبر ۲۰۱۷-----مخ ۹

۸۷: هم دغه کتاب مخ ۱۱

۸۸: هم دغه کتاب مخ ۱۲

۸۹: خان شهيد سيمينار" ۱۴۶، ۱۴۷

۹۰: ترین شوکت "درور پشتون "سیاست اور جمہوریت کا ایک اہم سنگ میل، نیو کالج پبلی کیشنز آرچر روڈ کوئٹہ، نومبر ۲۰۱۷---------مخ ۱۲۶

۹۱: خان شهيد سيمينار" مخ ۴۸

۹۲: هم دغه کتاب مخ ۴۹

۹۳: عبدالغنی خان غنو پروفیسر "بابائے پشتون اور پشتونخوا" دویم ٹوک ۱۹۹۰ پرنٹرز، قلات پریس۔ مخ ۱۲۷، ۱۳۶



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۹۴: عبدالغنی خان غنو پروفیسر "بابائے پشتون اور پشتونخوا" دویم ټوک پر عزز قلات پریس۔۔۔۔۔ ج ۴۸

۹۵: خان شهيد سيمنار"۔۔۔۔۔۔ مخ ۵۳، ۵۴.

۹۶: ترين اسدملک انجنئر "خان شهيدئی پشتونستان عبدالصمداچکزی" خان شهيد لائبري اينډ اکيډمي چاپ ۲۰۱۴

۹۷: هم دغه کتاب۔۔۔۔۔۔۔۔ مخ ۵۴، ۵۵

۹۸: هم دغه کتاب۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔ مخ ۵۵، ۵۴

۹۹: بابائے پشتون اور پشتونخوا "لومړی ټوک۔ مخ ۱۱۱، ۱۱۲

۱۰۰: هم دغه کتاب ورومبی ټوک ،مخ ۱۲۶، ۱۳۸

۱۰۱: هم دغه کتاب مخ" بابائے پشتون اور پشتونخوا "جلدهشتم ۲۰۰۰ مطبوعه۔۔۔۔ مخ ۹۶، ۹

۱۰۲: خان شهيد سيمنار"۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔مخ ۱۴۰

۱۰۳: اکبرخان عبدالاکبر"دبرصغيرپاک وهندپه آزادی‌کښې دپښتنويرخه ۲۰۰۰۹ يونيورسټي پيلشرز افغان مارکيټ قصه خوانسي پېښور۔ مخ ۳۵۰

۱۰۴: ترين اسدملک انجنئر "خان شهيدئی پشتونستان عبدالصمداچکزی" خان شهيد لائبري اينډ اکيډمي چاپ ۲۰۱۶ مخ ۲۰۲، ۲۰۳

۱۰۵: خان شهيد سيمينار مخ۱۴۶

۱۰۶: هم دغه کتاب مخ۱۴۶

۱۰۷: بابائے پشتون اور پشتونخوا "لومړی ټوک۔۔۔۔۔۔ مخ ۴۵، ۴۶

۱۰۸: زماژوندا وژوندون"لومړی ټوک مخ ۱۲۴، ۱۲۵

۱۰۹: زماژوندا وژوندون"لومړی ټوک مخ۱۲۷



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۱۱۰: بابائے پشتون اور پشتونخوا اول جلد ـــــ مخ ۹،۸،

۱۱۱: مقالات ومکتوبات خان شهید" ـــــــ مخ ۲،۳

۱۱۲: بابائے پشتون دریخ "۲۰۱۰ ـــــــ مخ ۵

۱۱۳: اچکزی عبدالصمد خان" د بابائے پښتون لیکونه "دویم ټوک وراندې

کونکې پروفیسر عبدالغني غنو ۲۰۰۴ یونائټیډ چاپه کوټه ـــــ مخ ۶

۱۱۴: خان شهید کي سیاست" ـــــــ مخ ۴،۵

۱۱۵: بابائے پشتون اور پشتونخوا "ځلورم ټوک ـــــ مخ ۲۱

۱۱۶: هم دغه کتاب نهم ټوک ـــــــ مخ ۸۵

۱۱۷: هم دغه کتاب دویم ټوک ـــــ مخ ۱۰۶

۱۱۸: اچکزی عبدالصمد خان "د بابائے پښتون لیکونه "ورومبی ټوک وراندې

کونکې پروفیسر عبدالغني غنو ۲۰۰۴ یونائټیډ چاپه کوټه ـــــ مخ ۱۰۴

۱۱۹: اچکزی عبدالصمد خان" د بابائے پښتون لیکونه "دویم ټوک مخ

۲۷۴،۲۷۵

۱۲۰: زماژوند اوژوندون" لومړی ټوک ـــــــــــــ مخ ۳۴۱

۱۲۱: هم دغه کتاب دویم ټوک ـــــــــــــــ مخ ۶۷

۱۲۲: خان شهید سیمنار" ـــــــــــــ مخ ۲۰

۱۲۳: زماژوند اوژوندون" دویم ټوک ـــــ مخ ۷۵

۱۲۴: خان شهید سیمنار" ـــــــــــــــ مخ ۲۵

۱۲۵: زماژوند اوژوندون" دریم ټوک ۲۰۰۷ ـــــــ مخ ۹۷

۱۲۶: بابائے پشتون اور پشتونخوا" دویم ټوک مخ ۷۳

۱۲۷: بابائے پشتون اور پشتونخوا "اتم ټوک مخ ۱۸،۱۹



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۱۲۸: خان شهيد سيمنار"--------- ---------مخ ۳۲
۱۲۹: بابائے پښتون دریخ"--------- -----مخ ۱۳۸، ۱۳۹
۱۳۰: هم دغه کتاب---------مخ ۱۲۳
۱۳۱: خان شهيد سيمنار"--------------مخ ۱۴۴
۱۳۲: بابائے پښتون دریخ"--------------مخ ۱۹۴، ۱۹۵
۱۳۳: خان شهيد عبدالصمد خان اڅکزي علمي اوادبي خدمات"---مخ۱۷۹
۱۳۴: خان شهيد عبدالصمد خان اڅکزئ کي شخصيت اور علمي وادبي خدمات"-----مخ ۳۷
۱۳۵: زماژوند اوژوندون"لومړی توک----------مخ ۱۴۰
۱۳۶: هم دغه کتاب-------------مخ ۱۲۹
۱۳۷: بابائے پشتون اور پشتونخوا "څلورم جلد
۱۳۸: زماژوند اوجدوجهد"-------------مخ ۴۷۷
۱۳۹: بابائے پشتون اور پشتونخوا دويم جلد---------مخ ۱۹۰
۱۴۰: سمون او اهتمام،نيازي رفيع الله"دپوهې اوخپلواکۍ لاروي ۲۰۱۲اسد دانش مطبعه------------مخ ۵۹، ۶۰
۱۴۱: خان شهيد عبدالصمد خان اڅکزي علمي او ادبي خدمات"---مخ ۹۴
۱۴۲: خان شهيد کي سياست"---------------------مخ۱۲۲
۱۴۳: هم دغه کتاب----------مخ ۱۲۳
۱۴۴: خان شهيد سيمنار"---------مخ ۷۶
۱۴۵: خان شهيد عبدالصمد خان اڅکزئی کي علمی اور ادبی خدمت".مخ ۴۷
۱۴۶: دکسی د لمنې پ



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

# (کتابیات)


۱: اچکزی عبدالصمد خان "زماژوند او ژوندون" ورومبی‌تهوک، یونایتید چاپه کوئته، کال ۲۰۰۴

۲: دوهم توک

۳: دریم توک

۴: اچکزی عبدالصمد خان "دخان شهیدی پښتون لیکونه" ورومبی توک، یونایتید چاپه کوئته ،کال ۲۰۰۴

۵:دوهم توک ۔

۶:دریم توک،

۷:اچکزی عبدالصمد خان" بابائے پښتون دریغ" ژباړه پروفېسر عبدالغني خان غنو،دوست پبلشرز کوئته،کال ۲۰۱۰

۸:اچکزی عبدالصمد خان "پښتوژبه او لیکدود"یونایتید پرېس کوئته ،کال ۱۳۸۵

| | | |
|---|---|---|
| ۹: | صمداللغات | ناچاپ |
| ۱۰: | د ازادی پایي | ناچاپ |
| ۱۱: | کیمیایي سعادت | ناچاپ |
| ۱۲: | ترجمان القران | ناچاپ |
| ۱۳: | گلستان سعدي | ناچاپ |

۱۴:احسان فضل احسان"انتخاب خوشحال خان ختک"چاپ خوشحال خان پرېس پېښور،نېته نشته ۔




www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۱۵:اکبرخان عبدالاکبر"دبرصغیر پاک وهندپه ازادۍ کښې د پښتنو برخه"یونیورسټي پبلشرزافغان مارکیټ قصه خواني پېښور،کال ۲۰۰۹

۱۶:بېښی منتظر"څوارلس حرفونه دوه وېښت اوازونه"پر مختګ بنو، ۲۰۱۲

۱۷:حبیبي عبدالحي استاد"دافغانستان لنډ تاریخ"ژباړه عبدالروف بېنوا،دانش کتابتون ،قصه خوانی بازار پېښور، ۲۰۰۳

۱۸:"خان شهیدسیمینار"مقالې،پښتونخواملي عوامي پارټي، مرکزي سیکرټریټ کلب روډ کوټه،کابل ۱۹، ۲۰ ،مارچ ۱۹۹۰

۱۹:نیازي رفیع الله ،څېړنه مقالې"دېوهې اوخپلواکۍ لاروي" اسد دانش مطبعه، کال، ۲۰۱۲

۲۰ :خټک راج ولي شاه ډاکټر"روهالوجي"یونیورسټي بک اېجنسي، کال، ۲۰۱۳

۲۱:خټک راج ولي شاه ډاکټر"دپښتوادبي تحریکونه"جدون پرنټنګ پرېس پېښور،کال ۱۹۸۹

۲۲:خټک فضل میر"فضلیات"محمد رسول پښتو اکېډمي،کال، ۱۹۹۹

۲۳:خټک خوشحال خان"دستار نامه"تحقیق او سمون او خاشیې پروفېسر ډاکټر یار محمد مغموم خټک،یونیورسټي بک اېجنسي پېښور، کال، ۲۰۰۵ مئ

۲۴:خلیل جاوېد محمد ډاکټر "ترتیب او تدوین" د پښتو لیک لار "باره ګلی، جدون پرنټنګ پرېس پېښور، ۲۰۱۱

۲۵:خان عبدالغفار خان "زما ژوند او جدوجهد" امن پرنټنګ پرېس



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

پېښور، ۲۰۱۲

۲۶" :د خان شهید عبدالصمدخان اڅکزي علمي او ادبي خدمات
یونائټیډ پرېس کوټه ،۲۰۱۲

۲۷:دراني شبیرخان "وره خزانه"پښتواکېډمی پېښور،۲۰۰۸

۲۸:رښتین صدیق الله"دپښتونثر هنداره"یونیورسټي بک اېجنسي
پېښور،نېټه نشته.

۲۹:رضامحمدافضل"دپښتونثرتاریخ"یونیورسټي بک اېجنسي ،درېم
خل چاپ،کال،۲۰۱۰

۳۰:رساسید رسول ،مقدمه"ارمغان خوشحال "زاهد بشیر پرېس
لاهور،کال ،۲۰۰۹،

۳۱:طائزی شېرزمان ډاکټر"د پښتو لیک دود املا سر سري جاج او
تحقیق"کامل پښتو ادبي جرګه ،۲۰۰۵

۳۲:کاکاخیل بهادر شاه ظفرسید"پښتانهٔ د تاریخ په رڼا
کښې"یونیورسټي بک اېجنسي پېښور،کال،۲۰۰۹

۳۳:کاکړ سیال پروفېسر"دکسې دلمنې پښتانهٔ لیکوال"زمانه پرتنټګ
پرېس کوټه،اپریل ۱۹۸۳

۳۴:یوسفزی مجروح مشتاق"ساهوپښتو،تحقیق او تنقید یوه
جائزه"قلندرمومندرېسرچ سېل پېښور،کال،۲۰۱۶

۳۵:یوسفزی مختار خان" د ګوند ضرورت او جوړښت "پښتونخواپرېس
محله جنګي پېښور،۲۰۱۱



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

## اردو کتابیات


۱: اچکزئی عبدالصمد خان ترجمہ "آزادی کے اوفق" "گوشہ ادب، کبیر بلڈنگ جناح روڈ کوئٹہ، ۲۰۱۳

۲: پانیزئی فیض اللہ خان "خان شہید عبدالصمد خان اچکزئی شخصیت اور علمی وادبی خدمات" قاسم بک ڈپو آرچر روڈ کوئٹہ، کال، ۲۰۰۹

۳: ترین شوکت "جنوبی پشتونخوا (چیف کمشنر صوبہ ایک تاریخی جائزہ "سباؤن ریسرچ سنٹر کوئٹہ، کال ۲۰۱۳

۴: ترین شوکت "خان شہید کی سیاست "قلات پبلشرز رستم جی لین جناح روڈ کوئٹہ، کال ۲۰۰۷

۵: ترین شوکت: مقالات او مکتوبات خان شہید "نیو کالج پبلی کیشنز آرچر روڈ کوئٹہ، کال ۲۰۱۱

۶: ترین شوکت "تحریک آزادی" میں انجمن وطن "کا کردار" نیو کالج پبلی کیشنز آرچر روڈ کوئٹہ، کال ۲۰۱۶

۷: ترین اسد خان انجینئر ملک "بابائے پشتونستان عبدالصمد خان اچکزئی" خان شہید لائبریری اینڈ اکیڈمی، کال ۲۰۱۶

۸: ترین اسد خان انجینئر ملک "نامور پشتون تاریخ کی آئینے میں "غزنوی پبلشرز سوئس پلازہ جناح روڈ کوئٹہ، کال ۲۰۱۰

۹: پروفیسر عبدالغنی غنوخان "بولان سے چترال تک پشتون مسئلہ "چاپ ندار، کال ۲۰۱۲

۱۰: پروفیسر عبدالغنی غنوخان "بابائے پشتون اور پشتونخوا "جلد اول، قلات پریس پرنٹنگ کوئٹہ، ۱۹۹۰




www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

۱۱: جلد دویم، ۱۹۹۰

۱۲: جلد چہارم، معراج پریس کوئٹہ، کال، 1991

۱۳: جلد ہفتم، نیر اسد پرنٹرز ریٹی جن روڈ لاہور، کال، ۲۰۰۰

۱۴: جلد ہشتم، ۲۰۰۰

۱۵: جلد نہم، ۲۰۰۰

۱۶: پروفیسر عبدالغنی غنو ترجمہ وترتیب: باباے پشتون کی خطوط "حصہ اول سپنزر پرنٹرز پرائیوٹ

لمیٹڈ، کال، ۲۰۰۰

۱۸: حصہ سوئم، ۲۰۰۰

۱۹: عبدالحی حبیبی علامہ، ترجمہ پروفیسر عبدالغنی خان غنو "افغانی مقالات "حصہ اول، دوست

پبلشرز کوئٹہ، ۲۰۱۰

۲۰: حصہ سوم، ۲۰۱۰

۲۱: حصہ چہارم، ۲۰۱۰

۲۲:: لونی عزیز اے مترجم عارف تبسم "برٹش بلوچستان "پشتو اکیڈمی بلوچستانکوئٹہ، ۲۰۱۶،

۲۳: پروفیسر عبدالغنی غنو "باباے پشتون کی متفرقات "اشاعت سوئم حصہ اول، دوست پبلشرز

کوئٹہ، ۲۰۰۷،

۲۴: پروفیسر عبدالغنی غنو، مرتبہ "باباے پشتون کا موقف "چھٹا ایڈیشن حصہ اول پشتون خوا ادبی

پختانہ لیکوال" مخ ۴۷۶



www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner

ځکه به زۀ پۀ جېل کښې دا شان پۀ زغم او بې غمه ناست ووم لکه هغه سړی چې د بچو او خپلوانو لپاره د پيسو پۀ ګټه يا دوي څخه بيل زيار کاږي او کړاو تېروي له تر هغه هم زيات لکه هغه کوندہ ښځه چې خپل پۀ ځان ډېر کړاو پۀ دې هيله تېروي چې خپل بچي ښۀ وروزي او هغه چې رالوې شي پۀ ارام ژوند تېر کړي ما خپل کار تل د خدای پاک د لارې او د هغه د خوښې او د پاکو بندګانو پيروي ګڼم.

---

عبدالصمد خان اڅکزی

(زما ژوند او ژوندون - دریم ټوک)

کتاب کور
online book store

دکان نمبر 18، بېسمنټ انعام پلازه (اولډ اورکزئي پلازه)، مېن يونيورسټي روډ پېښور +92 331 9801600, +92 315 6136152

www.sikaraam.com

Scanned with CamScanner